د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# عقاید

## اووم ټولګی

## (د دیني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

عقاید - اووم ټولګی - د دیني مدارسو لپاره

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع دي.

moe.curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# عقایـــــــــد

## اووم ټولگی

(د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هــ. ش.

**مؤلفان**

- رقیب الله ابراهیمي
- سید فاضل شاه سادات
- نعمت الله محمودي
- نور الله صافي

**علمي ایډیټ**

- دکتور شیر علي ظریفي
- دکتور فضل الهادي وزین

**د ژبې ایډیټ**

- فضل الله نیازی

**دیني، سیاسي او کلتوري کمیټه**

- مولوي سعید الرحمن حامد
- ګل آغا شایق

**إشراف**

- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس

بسم الله الرحمن الرحيم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی نبیه و رسوله محمد و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تیریدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې، چې د بیا کتلو لپاره ورته ډېره اړتیا موجوده ده، یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقاید او د اسلام د سپېڅلي دین احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه به د قیامت تر ورځې پورې د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعلیمي نصاب په تدریجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارف او اسلامي علومو کې دقیقه مطالعه دا څرګندوي چې زموږ د تعلیمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتیاوو او د اسلام د دین له ثوابتو او طبیعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلند تاریخ په درلودلو سره یو وخت د علم او زده کړې یو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې یې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقاید، تفسیر، حدیث، فقه، د فقهې اصولو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي څپو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعلیماتو د ځومره والي او ځرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیانو او ځوانانو په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغو کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هیواد د ډاډ وړ عالمانو، استادانو او نامتو ماهرینو ته بلنه ورکړې چې د تعلیمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د دود تعلیمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونه له کمولو او زیاتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه یې لا واضح او څرګند کړي او د فعالیتونو، ارزونو او مناسبو تمرینونو په زیاتولو یې نور هم پسې بډاى کړي.

هیله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هیواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاینی وړ زیار د الله تعالی د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعلیماتو په ودې او پراختیا کې ګټور پاى ته ورسیږي.

وبالله التوفیق

**دکتور محمد میرویس بلخي**

د پوهنې وزیر

# مقدمه

**درنو استاذانو او گرانو زده کوونکو!**

د اسلام مبارك دين، بشريت ته د الله تعالی د وروستي پيغام او د ژوند د کامل نظام په توگه، په يوه سلسله باورونو او قلبي اعتقاداتو، په اخلاقي سلوکو او ارزښتونو او عملي احکامو او تکاليفو مشتمل دی، چې عقايد، اخلاق او اعمال په ترتيب سره د دې درې گونو اړخونو بيان کوي.

څرنگه چې عقايد د درې واړو څانگو اساس او بنسټ تشکيلوي او ټولې ديني زده کړې که اخلاق دي که عبادات او که احکام، له عقايدو څخه سر چينه اخلي، نو د عقيدې اصلاح او پخول د بندگانو په مکلفيتونو کې تر ټولو لومړيتوب لري.

عقيده په ژوند کې د ډاډ لامل گرځي، نيکمرغي رامنځ ته کوي او د اخلاقو او اعمالو د قبول او سمسورتيا سبب جوړيږي. الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ (النحل: ۹۷)

ژباړه: چا چې نيك عمل تر سره کړ، که نارينه وي او که ښځينه او حال دا چې مؤمن هم وي، نو هرومرو به (په دنيا کې) سپيځلی ژوند ورپه برخه کړو او(په آخرت کې به) د ډيرو ښو کړو بدله ورکړو.

او الله مکړه که د چا عقيده ناسمه وي، د دنيا ژوند يې په کړاوونو تيريږي او په آخرت کې به د الله تعالی د عذاب مستحق گرځي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾ (طه: ۱۲۴)

ژباړه: او څوك چې زما له پند (قرآن) څخه مخ واړوي نو بې شکه د ده لپاره (په دنيا کې) تنگ ژوند دی او د قيامت په ورځ به يې ړوند راپورته کوو.

د عقيدې د اهميت له کبله وو چې د رسول الله ﷺ د دعوت زياته برخه د عقايدو اصلاح ته ځانگړې کړی شوې وه، د مکي پړاو په ديارلس کلنه موده کې د قرآن تر ټولو زيات ټينگار د عقايدو په اصلاح را څرخيږي.

تر هغه وروسته د اسلام له لومړۍ پېړۍ څخه د عقایدو د علم مسایل د تحقیق، مناقشې او له سمې عقیدې څخه د دفاع له پاره مطرح شوي او په علمي مرکزونو کې دې علم خپل لوړ مقام تر نن ورځې پورې ساتلی دی.

د دې علم ارزښت ته په کتو د افغانستان د اسلامي جمهوریت د معارف وزارت د نصاب د پرمختیا اداري لازمه وګڼله څو د عقایدو مضمون د دیني مدارسو په منځنۍ دوره کې ځای پر ځای کړي او د اوم، اتم او نهم ټولګي لپاره یې مستقل کتابونه تالیف کړل، د یادونې وړ ده، چې د اووم او اتم ټولګي لپاره په پښتو او دري ژبو باندې مسایل تالیف شول او په نهم ټولګي کې په عربي ژبه کتاب تالیف شو، الله تعالی دې مؤلفینو او مدرسینو ته پوره پوره اجرونه ورکړي، او د دې کتابونو ګټه دې رب العالمین عامه وګرځوي.

والله ولی التوفیق

# د موضوعاتو فهرست

**سرليک**............................................................**مخ**


د عقايدو علم ........................................................ ۱

د الله تعالی پر وجود ايمان ........................................................ ۴

د الله تعالی وحدانيت (يو والی) ........................................................ ۷

د الوهيت توحيد ........................................................ ۹

د اسماء او صفاتو توحيد ........................................................ ۱۳

د الله تعالی د اسماوو شمېر او د صفتونو ډولونه يې ........................................................ ۱۷

د الله تعالی ذاتي صفتونه (۱) ........................................................ ۲۰

د الله تعالی ذاتي صفتونه (۲) ........................................................ ۲۳

کلام د الله تعالی صفت دی ........................................................ ۲۶

پر ملائکو ايمان ........................................................ ۲۹

آسماني کتابونه ........................................................ ۳۳

وحې ........................................................ ۳۷

پر انبياوو او رسولانو ايمان ........................................................ ۴۰

د انبياوو او رسولانو عليهم السلام صفتونه ........................................................ ۴۵

اولو العزمه پيغمبران ........................................................ ۵۰

معجزه او کرامت ........................................................ ۵۲

استدراج او سحر ........................................................ ۵۵

قضاء او قدر ........................................................ ۵۸

د برزخ حالات ........................................................ ۶۲
بعث او حشر ........................................................ ۶۷
د پیغمبرﷺ شفاعت ........................................................ ۷۰
د اعمالو تلل (وزن کول) ........................................................ ۷۳
حوض ........................................................ ۷۶
د صراط پُل ........................................................ ۷۹
جنت ........................................................ ۸۱
جهنم (دوزخ) ........................................................ ۸۴
د ایمان نواقض (۱) ........................................................ ۸۷
اصغر شرک ........................................................ ۹۱
د ایمان نواقض (۲) ........................................................ ۹۳
اصغر کفر ........................................................ ۹۷
بدعت ........................................................ ۹۹
د صحابه کرامو مقام ........................................................ ۱۰۲

# د عقایدو علم

**شرعي احکام په عمومي ډول په دوو برخو وېشل شوي دي:**

**۱- اعتقادي احکام:** هغه دي چې عقیدې پورې اړه لري، د زړه اعمال دي، د بدن په ظاهري غړو نه تر سره کېږي او اصلي احکام هم ورته وايي. لکه: د الله تعالی په وجود، وحدانیت، د آخرت په ورځ او داسې نورو باور کول.

**۲- عملي احکام:** هغه دي چې د اعمالو په کیفیت پورې اړه لري کوم چې د بدن د غړو په واسطه سرته رسېږي او فرعي احکام هم ورته ویل کېږي. لکه: د لمانځه فرضیت، د زنا حرام والی او داسې نور.

لومړي ډول ته د توحید، صفاتو او عقائدو علم ویل کېږي او دویم ډول احکامو ته د شریعت احکام او فقهي علم ویل کېږي، چې موږ دلته له لومړي ډول علم څخه بحث کوو.

## د عقایدو تعریف

عقاید د عقیدې جمع ده، عقیده په لغت کې کلکو تړلو ته وايي.

او د شرعې په اصطلاح کې: په الله تعالی، د هغه په صفاتو او په هر هغه څه باندې چې نبي کریمﷺ یې خبر ورکړی او په صحیح روایت سره نقل شوي وي کلک یقین (په ژبه اقرار او په زړه باندې د هغه تصدیق) ته ویل کېږي.

## شرح

عقیده د ټینګ او کلک ایمان نوم دی، یعني په ژبه اقرار او په زړه باندې تصدیق دی، پدې چې الله تعالی حق دی، په هر هغه څه چې د الله تعالی لپاره په الوهیت، ربوبیت، اسماوو او صفاتو کې واجب وي ایمان درلودل، همدارنګه د الله تعالی په ملائکو، کتابونو، رسولانو، د قیامت په ورځ، د خیر او شر په اندازه چې د الله تعالی له لوري ده کلک ایمان درلودل دي او په هر هغه څه چې په صحیح نصوصو سره ثابت شوي چې هغه د دین له اصولو او غیبیاتو (هغه څه چې له موږ څخه پټ دي) څخه عبارت دي،

همدارنګه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ احکامو او اوامرو ته غاړه اېښودل دي (د نبي کریمﷺ اطاعت او پیروي کول).

**فعالیت:**

په الله تعالی باندې عقیده لرل څه ته وايي؟

## د عقایدو د علم موضوع

د اسلامي عقایدو د علم موضوع د ایمان شپږ ګوني اصول دي، چې په الله تعالی، د هغه په ملائکو، په آسماني کتابونو، د الله تعالی په پیغمبرانو، د آخرت په ورځ (په حساب، جنت، دوزخ) او د خیر او شر په تقدیر باندې له ایمان درلودلو څخه عبارت دي.

## د عقایدو د علم غرض

د عقایدو د علم غرض او ګټه په دنیا او آخرت کې د انسان بریالیتوب او نېک بختي ده، هغه څوک چې د الله تعالی په کتاب او د هغه د پیغمبر په سنتو په سمه توګه باور ولري او پیروي يې کوي، هېڅکله به نه په دنیا او نه په آخرت کې ناکام شي.

د دې علم په زده کړه د انسان عقیده سمېږي او حقیقتونه د ځان، کایناتو او خپل خالق په هکله په ربښتینې بڼه پېژني.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د عقایدو د علم د تعریف، موضوع او غرض په اړه بحث وکړي.

## د عقایدو د علم نومونه

د عقایدو علم په نورو نومونو هم نومول شوی لکه: د توحید علم، اصول الدین، الفقه الاکبر، الإیمان او داسې نور.

## د عقایدو د علم فضیلت او ارزښت

د عقایدو علم له نورو ټولو علومو څخه غوره، مهم او د شرف خاوند دی ځکه د هر علم شرف او فضیلت د هغه علم پر موضوع پورې اړه لري او د عقایدو د علم موضوع له شرف څخه ډکه موضوع ده چې هغه د الله تعالی ذات، اسماء، صفات او د هغه وحدانیت

دی، او پر بندګانو باندې د الله تعالی حقونه دي، همدارنګه پر انبیاؤ او ټولو هغو شیانو باندې علم چې پر آخرت پورې تعلق لري، نو د عقایدو علم د شرافت له ډکو علومو څخه یو علم دی.

د عقایدو علم له یوې خوا په قطعي دلایلو (قرآن او سنتو) ثابت شوی او له بلې خوا د ټولو شرعي علومو لپاره د بنسټ حیثیت لري، په بل عبارت ویلای شو چې د عقایدو علم د اسلام د مبین دین اساس او بنسټ تشکیلوي.

## د عقایدو د علم حکم

د عقایدو د علم زده کول فرض عیني او فرض کفایي دي:

**فرض عیني:** په اجمالي ډول پر هر مسلمان نارینه او ښځینه باندې فرض عین دی چې په ټولو هغو شیانو باندې عام او مجمل ایمان راوړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له لوري د هغوی خبر ورکړی دی، لکه: په توحید، رسالت، جنت، دوزخ او د قیامت په ورځ ایمان درلودل او د لمانځه، حج او روژې فرضیت ریښتینی ګڼل او داسې نور.

**فرض کفایي:** په تفصیلي ډول د عقایدو د علم د دلائلو زده کول فرض کفایي دي د مثال په ډول: په هغو آیتونو او حدیثونو باندې ځان پوهول چې توحید، رسالت، جنت، دوزخ او د قیامت په ورځ ایمان درلودل او د لمانځه، حج او روژې فرضیت یې ثابت کړی وي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د عقایدو د علم فضیلت او د زده کړې د حکم په هکله یې په څلورو ګروپونو کې بحث وکړي او وروسته دې د هر ګروپ نماینده نورو ته معلومات ورکړي.

### پوښتنې

١. عقیده د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ.
٢. د عقایدو د علم موضوع څه شی ده؟
٣. د عقایدو د علم غرض څه شی دی؟
٤. دعقایدو علم څه اهمیت لري؟ بیان یې کړئ.
٥. د عقایدو د علم حکم بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د عقایدو د علم په اړه یوه مقاله ولیکي چې له شپږو کرښو کمه نه وي.

# د الله تعالی پر وجود ایمان

ځمکه، آسمانونه او هغه څه چې په دوی دواړو کې موجود دي آيا پخپله پيدا شوي او که داسې ذات وجود لري چې دغه موجودات يې پيدا کړي دي؟

د کايناتو دغه نظم چې هيڅ ګډوډي پکې نه ليدل کيږي او په منظم شکل پر مخ ځي آيا په خپل سر روان دی او که تنظيموونکی لري؟

## د الله تعالی د وجود دلائل

د الله تعالی پر وجود نقلي (قرآني آيتونه او د نبي کريم ﷺ احاديث) او عقلي دلايل شتون لري، چې ځينې يې په لاندې توګه بيانيږي:

## لومړی نقلي دليل

د الله تعالی د وجود د اثبات لپاره په قرآن کريم کې ډېر زيات دليلونه ذکر شوي، لکه الله تعالی د البقرې په سورت کې داسې فرمايي: ﴿وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ۞ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [البقرة: ١٦٣- ١٦۴]

**ژباړه**: او ستاسې معبود يو دی، له هغه پرته بل هيڅ معبود نشته، هغه ډېر مهربان او خورا بښونکی دی. د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت، د شپې او ورځې په اوړېدو را اوړېدو او په هغو بېړيو کې چې خلکو ته د ګټې وړ شيانو وړلو راوړلو لپاره په سمندر کې روانيږي او په هغو اوبو کې چې الله تعالی له آسمانه نازلې کړې دي، بيا په هغو سره مړه ځمکه را ژوندۍ کوي او په ځمکه کې يې هر راز ساکښ موجودات خواره کړي دي او د بادونو په لګېدو او د آسمان او ځمکې تر منځ په ابل کړی شوو وريځوکې د هغو خلکو لپاره د قدرت نښې نښانې دي چې له پوهې نه کار اخلي.

### له پورتنيو مبارکو آيتونو څخه د استدلال طريقه

دا آيتونه صراحتاً دلالت کوي چې ستاسې معبود يو دی، په رحمن او رحيم سره يې ستايلی دی او د يووالي لپاره يې له مخلوقاتو څخه ډول ډول دليلونه بيان کړي دي، دا

ټوله هستي چې په کوم نظم او قانون سره چليږي د دې هرومرو ناظم او چلوونکی شته، که نه نو هر څه به ګډوډ وای.
نو پورتني آيتونه لکه څرنګه چې نقلي دليل حسابيږي همدا ډول عقلي دليل هم ګڼل کيږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د الله تعالی پر وجود باندې نور نقلي دليلونه ذکر کړي.

## د الله تعالی پر وجود باندې عقلي دليل

ډېر زيات عقلي دلايل شته چې د الله تعالی پر وجود دلالت کوي، د بېلګې په توګه هغې واقعې ته چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) او د دهريانو د يوې ډلې تر منځ پېښه شوې وه، پاملرنه وکړئ: له دهريانو څخه ځو کسه (چې د الله تعالی پر وجود يې ايمان نه درلود) امام ابو حنيفة (رحمه الله) ته راغلل او له ده څخه يې د الله تعالی د وجود په اړه پوښتنه وکړه، (د دوی نيت د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په شک کې اچول وو) امام ابوحنيفه (رحمه الله) ورته وويل: زه په يو ډېر حيرانوونکي کار مشغول يم. دوی وپوښتل هغه څه کار دی؟ ابو حنيفه (رحمه الله) ورته وويل: چا راته وويل: دلته يوه کښتۍ ده چې چلوونکی او تنظيموونکی نه لري، خو بيا هم پخپله په سمندر کې چليږي، د سمندر په غاړه دربېږي، پخپله سامان باروي، بيا پخپله سيده نورو ښارونو ته ځان رسوي، هلته خپل سامانونه پخپله کښته کوي، هر شی لکه: خرما، جامې او داسې نور توکي بېل بېل ځای پر ځای کوي، هېڅ شی يو له بل سره نه ترې ګډېږي.
دوی وويل: نو آيا ته دا خبره منې؟ دا خبره خو له لېوني پرته بل څوک نه قبلوي، ځکه دا څرګنده ده چې کښتۍ پخپله دا کار نه شي ترسره کولای. امام ابو حنيفه (رحمه الله) ورته وويل: په داسې حال کې چې دا خبره د منلو وړ نه ګڼئ نو څرنګه منلای شئ چې دا نړۍ له خپل لويوالي، تنوع، ښکلا او نظم سره پخپله له کوم حکيم، عليم، او ځواکمن خالق څخه پرته پيدا شي؟
تاسې شخړه کوئ، پداسې حال کې چې تاسې په خپلو سترګو باندې دغه کاينات وينئ، دغه ستوري چې حرکت کوي چا پيدا کړي؟ لمر او سپوږمی ته پدغه منظم ډول څوک

حرکت ورکوي؟ دغه مخلوق چا په څمکه کې خور کړی دی؟ دغه وربخ چا پیدا کړې ده؟ په پای کې د امام ابوحنیفه(رحمه الله) په قاطع دلیل نیولو سره دهریان له نور بحث نه تېر شول او توبه یې وایستله.

همدارنګه نور ډېر عقلي دلیلونه شته چې د الله تعالی پر وجود دلالت کوي او هر څه چې الله تعالی پیدا کړي د هغه په وجود باندې دلیل دي کله چې انسان په دغو مخلوقاتو کې فکر او سوچ وکړي نو وایي: ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ [آل عمران: ١٩١]

**ژباړه:** اې زموږ پالونکیه (ربه)! دا مخلوقات تا عبث (بې حکمته او بې ګټې) ندي پیدا کړي، پاکي ده تا لره (له ټولو عیبونو څخه) نو وساته موږ د اور له عذاب څخه.

## د الله تعالی ذات قدیم دی

د الله تعالی ذات قدیم دی، همېشه و او همېشه به وي، د ده د وجود ابتداء نشته، پـدې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ﴾ [الحدید: ٣]

**ژباړه:** همغه لومړی هم دی او وروستی هم. یعنې الله تعالی اول دی ابتداء نه لري او آخر دی انتهاء (پای) نه لري.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د الله تعالی پر وجود باندې نور عقلي دلیلونه بیان کړي.

## د الله تعالی پر وجود د ایمان حکم

د الله تعالی پر وجود ایمان (باور او یقین) لرل فرض دي که څوك د الله تعالی لـه وجـود څخه منکر شي کافر دی.

### پوښتنې

١. د کایناتو له شتون څخه د خالق په وجود څنګه دلیل نیسئ؟
٢. د الله تعالی پر وجود باندې یو نقلي دلیل ذکر کړئ.
٣. د الله تعالی پر وجود باندې یو عقلي دلیل ذکر کړئ.
٤. په الله تعالی باندې ایمان څه حکم لري؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د وجود په اړه یوه مفصله مقاله ولیکي.

دريم لوست

# د الله تعالى وحدانيت (يو والى)

د ټولو مخلوقاتو پيدا كوونكى يوازې الله تعالى دى. په ذات، اسماوو او صفاتو كې شريك او سارى نه لري، د هېچا مرستې ته اړ ندى، بلكې ټول مخلوقات ده ته اړ او محتاج دي.

## د توحيد تعريف

توحيد په لغت كې يو ګڼلو ته وايي او په اصطلاح كې د الله تعالى يو ګڼل توحيد بلل كيږي.[1]

## د تعريف شرح

د الله تعالى توحيد دا معنا لري چې الله تعالى په ذات او صفاتو كې ځانګړى دى او له هغه سره سارى او شريك نشته.

## د توحيد ډولونه

د الله تعالى توحيد د قرآن كريم د آيتونو او نبوي احاديثو په رڼا كې علماوو درې ډولو ته ويشلى دى:

د ربوبيت توحيد.

د الوهيت توحيد.

د اسماوو او صفاتو توحيد.

**فعاليت:** زده كوونكي دې د الله تعالى د توحيد په هكله يو له بل سره مباحثه وكړي.

## د ربوبيت توحيد

د ربوبيت توحيد په دې عقيده لرل دي چې د مخلوقاتو پيداكوونكى، رزق وركوونكى، تدبير نيوونكى، عزت او ذلت وركوونكى، خير او شر رسوونكى او په ټولو مخلوقاتو كې له اسبابو پرته متصرف او واكدار يوازې يو الله تعالى دى.

نو يوازې الله تعالى خالق او مالك دى. له اسبابو پورته مرسته يوازې له الله تعالى څخه غوښتل كيږي، په ټول عالم كې يوازې الله تعالى له اسبابو پرته تصرف كوي، مخلوقات په خلقت او پايښت كې ټول الله تعالى ته محتاج دي، الله تعالى د عالم د نظام په چلولو كې د هيچا مرستې ته اړتيا نه لري.

١ - شرح العقيدة الطحاوية - - (١ / ٨)

## د ربوبيت د توحيد د اثبات دليلونه

الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾ [الزمر: ٦٢]

**ژباړه:** الله تعالى د هر شي هستوونكى دى، هماغه په هر شي خبر او ساتونكى دى.

همدا رنګه فرمايي: ﴿وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا﴾ [الإسراء: ١١١]

**ژباړه:** او ووايه ټوله ثنا او ستاينه هغه خداى لره ده چې هغه نه څوك په زوى ولې سره نيولى، نه په پادشاهۍ كې څوك شريك ورسره شته، نه يې د بېوسۍ له امله ملا تړى شته او د هغه پوره لويي بيان كړه.

د ربوبيت د توحيد غوښتنه داده چې بايد هر ډول عبادت، زاري اوفرياد، د مرستې آواز، ټول دنيوي او آخروي حاجتونه له الله تعالى څخه وغوښتل شي، ورسره د نورو متصرفينو او مرستندويانو له نيولو څخه په كلكه ډډه وشي، ځكه چې يوازې الله تعالى د هر ډول عبادت اوبندګۍ لايق دى.

همدارنګه الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [الأنعام: ١٧]

**ژباړه:** كه الله تاته كوم تكليف در ورسوي نو له هغه نه پرته بل څوك نشته چې تا له تكليف څخه وژغوري، كه هغه ذات تا ته كومه ښېګڼه او ګټه در واړوي، نوهغه په هر څه قادر ذات دى.

په بل ځاى كې فرمايي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ [البقرة: ١٨٦]

**ژباړه:** او اې پيغمبره! زما بندګان كه له تا نه زما په اړه پوښتنه وكړي، نوهغوى ته ووايه چې زه ورته ډېر نږدې يم، بلونكى چې كله ما وبلي زه د هغه بلنه اورم نو هغوى ته ښايي چې زما بلنې ته لبيك ووايي، او پر ما ايمان راوړي، ته دا خبره هغوى ته واوروه، كېداى شي چې هغوى سمه لار ومومي.

**فعاليت:** زده كوونكي دې د ربوبيت د توحيد د اثبات په اړه عقلي دليلونه بيان كړي.

### پوښتنې

١. توحيد تعريف كړئ!
٢. توحيد په څو ډوله دى؟
٣. د ربوبيت له توحيد څخه مراد څه دى؟
٤. د ربوبيت پر توحيد باندې نقلي دليل ذكر كړئ.

# د الوهيت توحيد

- آيا پرته له الله تعالى څخه بل چا ته د عبادت وړ شته؟
- بنده بايد له چا څخه مرسته وغواړي؟
- چا ته د عجز سر ښکته کړي؟

## د الوهيت تعريف

اله معبود ته وايي. الوهيت د الله تعالى صفت دى، د الوهيت د توحيد معنا دا ده چې يوازې الله تعالى معبود دى او د الله تعالى سره په عبادت کې هيڅوک شريک نشته.

## د تعريف شرح

د عبادت وړ يوازې الله تعالى دى. يوازې الله تعالى ته بايد د عجز سر ښکته شي، امر يې ومنل شي او له منهياتو څخه يې ځان وژغورل شي چې دا په حقيقت کې د الوهيت توحيد دى او د عبادت توحيد هم ورته وايي.

## د الوهيت توحيد

د الوهيت توحيد په دې باندې عقيده لرلو ته وايي چې يوازې الله تعالى د عبادت وړ دى.

عبادت په شرعي اصطلاح کې په دوو معناوو راغلى دى:

١. په خاصه معنا: عبادت په خاصه معنا سره لمانځه، روژې، زکات او حج څخه عبارت دى او همدارنګه نورې هغه چارې چې موخه ورڅخه يوازې د الله تعالى امر پر ځاى کول وي او په عادتي چارو پورې اړه ونه لري هم د عبادت په مفهوم کې داخلې دي.

٢. په عامه معنا: عبادت په عامه معنا سره دې ته ويل کيږي چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې يوازې د الله تعالى امر ومنل شي، که هغه عبادت په خاصه معنا سره وي، که معاملات وي، که دکورني ژوند احکام وي او که پر امنيت، سياست، اقتصاد او نورو کارونو پورې تړلي احکام وي.

يو انسان هلته پوره موحد ګڼل کيږي چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې د الله تعالى اطاعت وکړي او ټول هغه عادتونه او نظريات چې د اسلام له سپيڅلي دين سره مخالف وي رد کړي.

## د الوهيت د توحيد د اثبات دليلونه

د الوهيت په توحيد باندې په قرآن كريم او احاديثو كې بې شماره دليلونه شته چې يو څو يې په لاندې توګه بيانيږي:

**قرآن كريم:** الله تعالى په قرآن كريم كې فرمايي: ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ٢٥٥] **ژباړه:** له الله، (هغه) ژوندي ابدي ذات پرته چې ټول كائنات يې تنظيم كړيدي، بل هيڅ خداى نشته.

په يو بل مبارك آيت كې الله تعالى فرمايي: ﴿ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ﴾ [الكهف:١١٠] ژباړه: اې پيغمبره! ووايه چې زه يوازې ستاسو په څېر انسان يم او ما ته وحې شوې چې ستاسې معبود يو الله دى.

الله تعالى د الاخلاص په سورت كې فرمايي: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞ اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ [الإخلاص: ١، ٢]

**ژباړه:** (اې پيغمبره!) ووايه چې الله تعالى يو دى، الله تعالى بې نيازه دى چا ته اړ ندى.

همدارنګه الله تعالى په يو بل آيت كې فرمايلي دي: ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى﴾ [البقرة: ٢٥٦]

**ژباړه:** د دين په چارو كې څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفكورو څخه جلا كړاى شوېده، اوس چې څوك له طاغوت نه منكر شي او پر الله ايمان راوړي هغه يوه داسې كلكه اسره ونيوله چې هېڅكله ماتېدونكې نه ده.

**د طاغوت تعريف:** طاغوت هغه چا ته ويل كيږي چې د الله تعالى په مقابل كې يې پيروي او عبادت كيږي، كه هغه انسان، پيرى، ستورى او يا د يو شي تصوير، مجسمه او داسې نور... وي.

په يوه حديث شريف كې راغلي دي: عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَدِيِّ بن حَاتِمٍ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: "يَا عَدِيُّ اطْرَحْ هَذَا الْوَثَنَ مِنْ عُنُقِكَ"، فَطَرَحْتُهُ، فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ بَرَاءَةٍ، فَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾[التوبه:٣١] حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا، فَقُلْتُ: إِنَّا لَسْنَا نَعْبُدُهُمْ، فَقَالَ: "أَلَيْسَ يُحَرِّمُونَ مَا أَحَلَّ اللَّهُ فَتُحَرِّمُونَهُ وَيُحِلُّونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ، فَتَسْتَحِلُّونَهُ؟"قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: "فَتِلْكَ عِبَادَتُهُمْ"[1]

**ژباړه:** مصعب ابن سعد ﵁ له عدي بن حاتم ﵁ څخه روايت كوي چې فرمايي: زه رسول الله ﷺ ته راغلم او زما په غاړه كې له سرو زرو څخه جوړ شوى صليب ځوړند و، رسول الله صلى

---

١ المعجم الكبير للطبراني – (١٢ / ٧)

الله علیه وسلم راته وفرمایل: اې عدي! له غاړې څخه دې دغه بُت ایسته کړه ما هغه بُـت ایسـته کړ، وروسته بیا زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلـم چې ده د بـراءت سـورت تـلاوت کاوه، نو دا آیت یې تلاوت کړ: «دوی خپل عالمان او روحانیون لـه الله پرتـه خپـل (خـدایان) نیولي دي» کله چې له تلاوت څخه فارغ شو، نو ما وویل: موږ خو د دوی عبـادت نـه کولـو؟ رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل: آیـا دوی بـه د الله تعـالی حـرام کـړي شـیان نـه حرامول،چې تاسو به هم هغه شیان حرام ګڼل؟ دوی به د الله تعالی حرام کړي شیان نه حلالول چې بیا به تاسو هم هغه حـلال ګڼل؟ ما ورته وویل همداسې خـو وو، نـو رسـول الله صـلی الله علیه وسلم وفرمایل: همدا د دوی عبادت کول دي.

**حدیث شریف:**

د جابر بن عبد الله ﷺ څخه روایت شوی چې رسول الله ﷺ په حج کې تلبیه په لـوړ آواز پیل کړه: « **لَبَّيْكَ، اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ، وَالنِّعْمَةَ لَكَ، وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ** »

**ژباړه:** په طاعت ولاړ یم تاته، اې الله په هغه څه کې چې تا پـر مـوږ نـازل کـړي، ستا اطاعـت کوو، اې هغه ذاته چې شریک او ساری نه لرې ستا اطاعت کـوو، یقیناً چې ټـولې ستاینې او نعمتونه یوازې تا لره دي او پاچاهي هم یوازې ستا ده، نشته شریک او سیال تا لره.

په همدې حدیث شریف کې جابر بـن عبـد الله ﷺوایـي: کلـه چـې رسـول الله ﷺ د صـفا غونډۍ ته وخوت، مخ یې کعبې ته کړ، داسـې یـې وفرمایـل: «**لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ** »[1]

**ژباړه:** له الله تعالی پرته بل برحق معبود نشته، الله یو دی شـریک نـه لـري، د عـالم پاچـاهي یوازې ده لره ده، غوره صفتونه ټول ده لره دي او دی په هر څـه تـوانمن دی. لـه الله تعـالی پرته بل برحق معبود نشته، هغه یو دی، خپله وعده یې پوره کړه (د مکې پـه فتحـه کـې، د کفارو په ماتولو او داسې نورو کې) یې د خپـل بنـده مرسـته وکـړه او پـه یـوازې ذات یـې کفري لښکرو ته ماتې ورکړه.

**عقلي دلیل:** هرهغه څوک چې د الله تعالی په ربوبیت باور لري او وایي چې یـوازې الله تعالی د دې مخلوق پیدا کوونکی او تدبیر کوونکی دی، بل هیڅوك نه شي کولای چې

---

۱ – صحیح مسلم.

څه شی پیدا کړي، یا چا ته ګټه او یا زیان ورسوي، نو لازمه ده چې پدې هم اقرار وکړي چې یوازې همدغه ذات د بندګی مستحق دی، باید یوازې د ده بندګي وشي او یوازې د ده شکر اداء شي، د شیانو په تحلیل او تحریم کې یوازې د ده اوامرو ته غاړه کېښودل شي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د الوهیت د توحید په هکله څو نور دلیلونه ذکر کړي.

## د الوهیت د توحید حکم

د الله تعالی د الوهیت په توحید باندې ایمان او باور لرل فرض او منکر یې کافر دی.

### پوښتنې

١. الوهیت تعریف کړئ!

٢. د الوهیت توحید څه ته وایي؟

٣. د الله تعالی د الوهیت د توحید لپاره دلیلونه ذکر کړئ!

٤. طاغوت تعریف کړئ.

٥. د الله تعالی د الوهیت د توحید حکم څه دی؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د الوهیت د توحید په اړه یوه مفصله مقاله ولیکي.

پنځم لوست

# د اسماء او صفاتو توحيد

د الله تعالی په نومونو او صفتونو باندې ايمان او باور درلودل او په دې عقيده چې الله تعالی شبيه او مثل نه لري، د اسماء او صفاتو توحيد بلل کيږي.

الله تعالی د ښکلو نومونو خاوند دی، د الله تعالی په نومونو باندې په اجمالي توګه باور درلودل، د اسلامي عقيدې برخه ده او که څوک په تفصيلي توګه وربانديې وپوهيږي، الفاظ يې ياد کړي او په معنا يې ځان پوه کړي نو د ستر اجر وړ ګرځي.

## د اسماوو او صفاتو تعريف

اسماء د اسم جمع ده، اسم نوم ته وايي، د الله تعالی اسماء ټولو هغو الفاظو ته ويل کيږي چې په قرآن او سنتو کې يې يادونه شوې وي او د الله تعالی په ذات دلالت کوي. لکه: رحمان، رحيم، غفور، ودود او داسې نور.

صفات د صفت جمع ده، د الله تعالی صفات هغه د کمال معناوې دي چې په قرآن کې الله تعالی خپل ځان وربانديې ستايلی او يا د الله رسول په خپلو وينا وو سره ور بانديې موصوف کړی وي لکه: د علم، قدرت او ارادې صفتونه.

## د اسماوو ډولونه

د الله تعالی اسماء په دوه ډوله دي:

۱ـ ذاتي اسم، چې يوازې د الله تعالی په ذات دلالت کوي، هغه د (الله) کلمه ده.

۲ـ صفتي اسمونه چې د الله تعالی په ذات او صفت دواړو دلالت کوي، لکه: قادر، عليم، حکيم، سميع، بصير او داسې نور.

## د صفتي اسماوو او صفاتو تر منځ توپير

د الله تعالی صفتي اسمونه د هغه له صفاتو سره په معنا او شمېر کې دارنګه توپير لري:

**لومړی:** په معنا کې توپير: لکه پورته چې بيان شو، صفتي اسمونه د الله تعالی په ذات دلالت کوي سره له يو صفته، ځکه دا هر يو اسم د الله تعالی په ذات او په هغه پورې په يو قايم صفت دلالت کوي چې قادر په قدرت، عليم په علم، حکيم په حکمت، سميع په سمع او بصير په بصر د الله تعالی له ذات سره يو ځای دلالت کوي.

نو صفتي اسم په ذات او صفت دواړو دلالت کوي او صفت په يو ځيزدلالت کوي.

**دوهم** په شمير کې توپير: د الله تعالى صفات د هغه له اسماوو څخه زيات دي، ځکه هر صفتي اسم يو صفت په ځان کې لري، ځينې صفات د الله تعالى په افعالو پورې اړه لري، د افعالو نهايت او پاى نشته، د بېلګې په توګه اخذ ( نيول)، تسخير (تابعدار ګرځول)، امساك (بندول) او بطش (راګيرول، او حمله کول) او داسې نور د الله تعالى صفتونه دي، ځکه دا افعال په قرآن کريم کې الله تعالى ته ثابت کوي،[1] خو الله تعالى ته موږ د دې صفاتو پر بنسټ د آخِذ، مُسَخِّرُ، مُمْسِكُ او باطِشُ نومونه نه شو ايښودلى، ځکه د الله تعالى اسماء توقيفي دي، له ځانه ورته څوک اسم نه شي اېښودلاى.

## د الله تعالى د اسماوو د اثبات دلايل

الله تعالى د ښو اسماوو خاوند دى، د اثبات لپاره يې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ډېر زيات دلايل شته چې په لنډ ډول دلته ځينې له هغو څخه ذکر کېږي:

### قرآن كريم

الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ [الأعراف: ١٨٠]

**ژباړه**: او د الله تعالى ډېر ښه نومونه دي نو په هماغو يې و بولئ، هغه خلک پرېږدئ چې د ده په نومونو کې کوږوالى کوي، دوى چې څه کوي د هغو بدله به مومي.

الله تعالى په بل مبارک آيت کې فرمايي: ﴿ قُلِ ادْعُوا اللهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الأَسْمَاءُ الحُسْنَى﴾ [الإسراء: ١١٠]

**ژباړه**: ورته ووايه: الله را وبولئ يا رحمان، هر يو چې را بلئ نو د (الله) هغه ډېر ښه ښه نومونه دي.

دغه مبارک آيت دا په ډاګه کوي چې د الله تعالى نومونه ثابت دي او ټول په يو الله تعالى دلالت کوي.

### حديث شريف

په يو مبارک حديث شريف کې داسې راغلي دي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا

---

١ الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ﴾ (البقرة : ٦٣)، ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ﴾ (الحج : ٦٥)، ﴿يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ﴾ (الدخان: ١٦).

أَحَدٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ سَأَلَ اللَّهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ» [۱]

**ژباړه:** رسول الله ﷺله يو سړي ځخه واورېدل چې ويل يې: يا الله زه له تا ځخه سوال كوم، ځكه ته الله يې، يو يې، بې نيازه يې، هغه ذات ياست چې هېڅوك يې نه دي زېږولي، نه دی له چا ځخه زېږېدلی او نه يې څوك سيال شته. د دې خبرو له اورېدو وروسته نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې دغه سړي له الله تعالى ځخه د ده په هغه لوی نامه سره سوال وكړ، چې كه په دغه نوم سره سوال ورځخه وشي وركوي يې او كه غوښتنه ترې وشي قبلوي يې.

**فعاليت**

زده كوونكي دې د قرآن كريم ځينې هغه آيتونه ذكر كړي چې د الله تعالى اسماء (نومونه) پكې ذكر شوي دي.

## د الله تعالى د اسماوو حكم

د الله تعالى په ټولو هغو نومونو چې په قرآن كريم او يا د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مباركو صحيحو احاديثو كې راغلي دي، ايمان راوړل فرض دي.

## د الله تعالى د اسماوو او صفاتو په هكله د اهل سنت او جماعت تګلاره

په دې هكله دوه مطلبونه د بيان وړ دي:

۱ـ اهل سنت والجماعت ټول هغه اسماء او صفات چې الله تعالى ځان ته ثابت كړي يا پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورباندې ستايلی، الله تعالى ته ثابت ګڼي، هيڅ ډول تعطيل، تحريف، تمثيل او تكييف پكې نه كوي، يعني معطل او بې معنا يې نه ګڼي، معناوې يې بل لور ته نه اړوي، مثالونه ورته نه بيانوي او له ځرنګوالي ځخه يې خبرې نه كوي.

الله تعالى فرمايي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ [الشورى: ۱۱]

**ژباړه:** د هغه په څېر هيڅ شی نشته او هغه اورېدونكی او ليدونكی دی. د دې آيت په لومړۍ برخه كې تمثيل او تكييف او په دويمه برخه كې يې تعطيل او تحريف نفي شوی دی.

۱ – رواه احمد في مسنده.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د الله تعالی د اسماوو او صفاتو په هکله د اهل سنت و الجماعت تګلاره بیان کړي او له پورتني آیت څخه دې د استدلال طریقه ذکر کړي.

۲ـ د الله تعالی اسماء توقیفي دي، په دې توګه چې ټول له قرآن او حدیثو څخه اخیستل شوي، څوک نشي کولای، چې الله تعالی ته له ځانه نوم کېږدي، البته د الله تعالی د اسماوو ژباړه نورو ژبو ته علما يې د خلکو د پوهې لپاره روا بولي، لکه رب ته چې په پښتو کې څښتن او په دري کې خداوند ويل کيږي.

نو په عقل سره الله تعالی ته نوم نشي ايښودل کېدای ځکه الله تعالی فرمايلي: ﴿قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ۳۳]

**ژباړه:** ورته ووايه: زما رب خو ښکاره او پټ بې حيا کارونه حرام کړي، ګناه، په ناحقه تيری، دا چې له الله سره هغه څه شريک و ګڼئ چې د هغه په هکله يې څه سند نه دی را نازل کړی او دا چې په الله پورې داسې څه ووايئ چې تاسې پرې نه پوهيږئ.

د الله ﷻ پر اسماوو او صفاتو ځان پوهول له بندګانو سره د الله ﷻ په پېژندلو کې مرسته کوي، او همدارنګه له الله ﷻ سره د مينې او تقوا د زيات والي لامل کيږي.

## پوښتنې

۱. د اسماوو او صفاتو تعريف بيان کړئ.
۲. د الله تعالی اسماء په څو ډوله دي؟
۳. آيا د الله تعالی د اسماوو او صفاتو تر منځ توپير شته؟
٤. د الله تعالی د اسماوو د اثبات دلايل بيان کړئ.
۵. د الله تعالی د اسماوو حکم بيان کړئ.
٦. د الله تعالی د اسماوو په هکله د اهل سنت و الجماعت تګلاره بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د قرآن کريم ځينې هغه آيتونه وليکي چې په هغو کې د الله تعالی نومونه ذکر شوي دي.

# د الله تعالی د اسماوو شمېر او د صفتونو ډولونه يي

په تېر لوست کې مو د الله تعالى د اسماوو او صفاتو د تعريف او د اثبات د دلايلو په اړه يو څه زده کړل. پدې لوست کې د الله تعالى د اسماوو د شمېر او صفاتو د ډولونو په اړه معلومات ترلاسه کوو.

## د الله تعالى د اسماوو شمېر

د الله تعالى د اسماوو يادونه په قرآن كريم او نبوي حديثوكې شوې ده:

- **قرآن كريم:** الله تعالى فرمايي: ﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ۝ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝ هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝﴾ [الحشر: ۲۲ - ۲٤]

**ژباړه:** الله هغه ذات دى چې له هغه پرته بل هېڅ معبود برحق نشته، په پټه او په ښكاره هر څه باندې پوهېدونكى دى، همغه رحمن او رحيم دى. الله هغه ذات دى چې له هغه پرته كوم معبود برحق نشته، هغه باچا دى، ډېر مقدس، له ټولو عيبونو څخه سالم، امان وركوونكى، ساتونكى، په ټولو برلاسى. په زوره د خپل حكم نافذوونكى او د لويى څښتن، لويي كوونكى، پاك دى الله له هغه شريكانو څخه چې خلك يې ورسره شريكوي، الله هغه ذات دى چې د هستونې پلان جوړوونكى د هغه نافذوونكى او د هغه سره سم صورت جوړوونكى دى، د هغه ډېر غوره نومونه دي هر څه چې په آسمانونو او ځمكه كې دي، د هغه په پاكى سره ستاينه كوي او هغه برلاسى او حكمت والا دى.

**فعاليت:** په پورتنيو آيتونو كې د الله تعالى ذكر شوي نومونه په خپلو كتابچو كې وليكئ.

**حديث شريف:** په حديث شريف كې راغلي: عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (إن لله تسعة وتسعين اسماً –مائة إلا واحداً– من أحصاها دخل الجنة)[1]

---

۱ متفق عليه، بخاري: ۲۵۸۵ شمېره حديث، مسلم: ۲۶۷۷ شمېره حديث.

**ژباړه:** يقينا د الله تعالى (۹۹) "نهه نوي" نومونه دي، ـ يو کم سل ـ چا چې وشمارل (حفظ يې کړل) جنت ته به ننوزي.

د ذکر شوي حديث معنى دا نده چې د الله تعالى اسماء په "نه نوي" کې منحصر دي، بلکې د الله تعالى اسماء له دې پرته نور هم ډېر دي.

په حديث شريف کې عبد الله بن مسعود ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روايت کړی: «مَا قَالَ عَبْدٌ قَطُّ إِذَا أَصَابَهُ هَمٌّ وَحَزَنٌ اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُورَ صَدْرِي وَجِلَاءَ حُزْنِي وَذَهَابَ هَمِّي إِلَّا أَذْهَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ مَكَانَ حُزْنِهِ فَرَحًا» [1]

**ژباړه:** هيڅکله يو بنده چې خواشينتوب يا غم ورته رسيدلى وي دا کلمات نه وايي مګر خفګان او غم يې الله تعالى لرې کوي او پر ځاى يې خوښي ورکوي: اې الله زه ستا بنده او ستا د بنده او مينځې زوى يم، زما تندى ستا په لاس کې دى، زما په هکله ستا حکم نافذ اوقضا دې عادلانه ده، زه له تا څخه ستا په هر هغه نامه سوال کوم چې ځان دې پرې نوملى، يا دې په خپل کتاب کې نازل کړى، يا دې خپل کوم مخلوق ته ورښودلى، يا دې د هغه پوهه يوازې له ځان سره په علم غيب کې ساتلې، چې ته دا قرآن زما د زړه سپرلى، د سينې رڼا، د خواشينتوب لرې کوونکى او د خفګان له منځه وړونکى وګرځوې.

نو له دې وينا څخه چې رسول الله ﷺ فرمايي: (او يا دې د هغه پوهه يوازې له ځان سره په علم غيب کې ساتلې)، څرګنديږي چې الله تعالى نور نومونه هم لري چې له ده پرته بل څوک ورباندې نه پوهيږي.

## د الله تعالى په اسماوو او صفاتو د ايمان ګټې

۱ـ د الله تعالى پېژندنه، هغه څوک چې د الله تعالى اسماء او صفات وپېژني، د الله تعالى په هکله يې معرفت زياتيږي، په الله تعالى باندې يې ايمان پخيږي او د توحيد عقيده يې پياوړې کيږي.

۲ـ په اسماء حسنى سره د الله تعالى ستاينه، په ذکر کې له غوره ډولونو څخه ده. الله تعالى فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ [الاحزاب: ۴۱] اې مؤمنانو! الله ياد کړئ په کثرت سره.

---

۱ د احمد مسند ۷ ټوک ۳۴۱ مخ

۳ـ له الله تعالی ښخه د ده د اسماوو په وسیله غوښتنه او دعا کول، الله تعالی فرمایي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ او الله تعالی لره غوره نومونه دي نو په هغو سره يې راوبلئ.

۴ـ د دنيا او آخرت نېکمرغي.

## د الله تعالی د صفتونو ډولونه

**د الله تعالی صفتونه په دوه ډوله دي:** ۱- ذاتي صفتونه ۲- فعلي صفتونه

**۱- ذاتي صفتونه** هغو صفتونو ته ویل کیږي چې الله تعالی يې په ضد نه موصوفیږي، دغه صفتونه د الله تعالی له ذات سره لازمي دي او هېڅکله له الله تعالی څخه نه جلا کیږي. د الله تعالی ذاتي صفتونه له قدرت، ارادې، سمع، بصر، علم، حیات او کلام څخه عبارت دي.

**۲- فعلي صفتونه:** هغو صفتونو ته ویل کیږي چې الله تعالی يې په ضد موصوفیږي، لکه: رحمت چې ضد يې غضب دی.

د الله تعالی فعلي صفتونه ډېر زیات دي خو مونږ دلته د بېلګې په ډول يو څو ذکر کوو: تخلیق (پیداکول)، ترزیق (رزق ورکول)، احیاء (ژوندي کول)، اعزاز (عزت ورکول) او داسې نور.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د ذاتي او فعلي صفتونو تر منځ توپیر بیان کړي.

### پوښتنې

۱. د الله تعالی اسماء چې په شمېر او احصاء يې د جنت وعده شوې ده څومره دي؟
۲. د الله تعالی د اسماوو په هکله د قرآن کریم څو مبارک آیتونه ذکر کړئ.
۳. د الله تعالی د اسماوو په هکله د نبي کریم ﷺ يو مبارک حدیث ذکر کړئ.
٤. د الله تعالی په اسماوو او صفاتو باندې د ایمان ګټې بیان کړئ.
٥. د الله تعالی صفات په څو ډوله دي؟
٦. د الله تعالی فعلي صفات تعریف کړئ.
٧. د الله تعالی د فعلي صفاتو يو څو مثالونه بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الله تعالی د اسمونو او صفتونو په اړه يوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# د الله تعالی ذاتي صفتونه (۱)

## قدرت او اراده

- قدرت او اراده د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دي؟
- آیا الله تعالی د قدرت او ارادې په ضد سره موصوف کېدای شي؟

### د قدرت تعریف

قدرت له هغه صفت څخه عبارت دی چې له امله یې یو څوک توانیږي چې د خپلې ارادې سره موافق کوم کار تر سره کړي او یا یې پرېږدي.[۱]

قدرت د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی په هر څه باندې په خپل ازلي او قدیمي قدرت سره چې د ده ازلي صفت دی، قادر دی. د ده لپاره نوی قدرت نه پیدا کیږي او په ضد سره یې چې عجز دی نه موصوفیږي.

### د قدرت د اثبات دلائل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [البقرة: ۱۰۹]

**ژباړه:** یقیناً الله تعالی په هر څه قادر دی.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا﴾ [فاطر: ٤٤]

**ژباړه:** هېڅ شی د الله تعالی بېوسي کوونکی ندی، نه په آسمانونو او نه په ځمکه کې، هغه په هر څه باندې پوهیږي او په هر څه باندې قدرت لري.

### د الله تعالی په قدرت ایمان

د الله تعالی د قدرت پر صفت باندې ایمان راوړل فرض دي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د الله تعالی د قدرت د صفت په اړه یو له بل سره مباحثه وکړي.

### ۲ - د ارادې تعریف

د یو کار په پایلو کې له ښه غور او فکر کولو وروسته د هغه کار د کولو او یا پرېښودلو قوي عزم او قصد ته د لغت له مخې اراده ویل کیږي.[۲]

---

۱ - التعریفات - (۱ / ۲۲۱)

۲ - الفروق اللغویة - (۱ / ۳۵)

اراده او مشیت د الله تعالی ذاتي صفت دی، هېڅ شی د الله تعالی له ارادې پرته نه شي پیدا کېدای، بلکې هر شی کوچنی وي او که لوی، خیر وي او که شر، ګټه وي او که نقصان او داسې نور ټول د الله تعالی په ارادې سره پیدا کیږي، که ټول مخلوقات یو ډېر واړه شي ته د حرکت ورکولو لپاره را ټول شي، پرته د الله تعالی له ارادې څخه حرکت نشي ورکولای او الله تعالی د دې صفت په ضد سره نه موصوفیږي.

## د ارادې د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾ [البروج: ١٦]

**ژباړه**: الله تعالی ښه سرته رسوونکی د هغه څه دی چې اراده یې وکړي.

په بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥]

**ژباړه**: الله تعالی تاسې ته د آسانۍ اراده لري او په تاسې باندې د سختۍ اراده نه لري.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ [یس: ٨٢]

**ژباړه**: بېشکه د الله تعالی امر چې کله د یو شي اراده کوي، نو (د هغه کار همدومره دی) چې ورته حکم وکړي چې شه او هغه کیږي.

## عقلي دلیل

که چېرې الله تعالی د خپلې ارادې خاوند نه وای، نو بیا خو به د بل چا تر امر لاندې وای، او د بل چا تر امر لاندې والی د الله تعالی په حق کې نقص دی او نقص د الله تعالی په حق کې باطل دی، همدارنګه که چېرې الله تعالی د بل چا تر امر لاندې شي، نو بیا په قدرت سره نه موصوفیږي، ځکه قدرت تر هغه شي پورې تعلق نیسي کوم پورې چې اراده تعلق نیسي، نو ثابته شوه چې الله تعالی مرید دی او اراده د الله تعالی ازلي صفت دی.

## د الله تعالی د ارادې په صفت د ایمان حکم

د الله تعالی د ارادې په صفت باندې ایمان راوړل فرض دي.

## د ارادې ډولونه

د اهل سنت و الجماعت علماوو اراده په دوه ډوله وېشلې ده:

**لومړی**: قدري او تکویني اراده.

**دویمه**: امري او شرعي اراده.

١. **تکویني اراده**: دا اراده د مشیئت سره مرادفه ده، ټولو مخلوقاتو ته شاملیږي، نو هر هغه څه چې منځ ته راځي، ټول د الله تعالی په اراده پیدا کیږي. دا اراده د الله تعالی پدې قول

سره ثابته شوې ده چې فرمايي: ﴿فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ﴾ [الأنعام: ١٢٥]

**ژباړه:** چا ته چې الله تعالی د لارښوونې اراده وکړي، د هغه سينه د اسلام لپاره پرانېزي او چا ته چې په گمراهۍ کې د غورځولو اراده وکړي، د هغه سينه تنگوي او داسې فشار پرې راولي چې (څنگه د اسلام تصور په ذهن کې را گرځوي نو) داسې ورته معلومېږي ته به وايې د آسمان لوري ته په سختۍ سره خېژي.

همدارنگه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾ [البقرة: ٢٥٣]

**ژباړه:** خو الله تعالی چې څه غواړي هغه کوي.

٢. **ديني او شرعي اراده:** له دې ارادې سره محبت او رضا لازمه ده، الله تعالی فرمايي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥]

**ژباړه:** الله تعالی پر تاسې آسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي.

همدارنگه الله تعالی فرمايي: ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ [المائدة: ٦]

**ژباړه:** الله تعالی نه غواړي چې ژوند درباندې تنگ کړي، هغه خو غواړي چې تاسې پاک او سوتره کړي او خپل نعمت پر تاسې پوره کړي، ښايي چې تاسې شکر ويستونکي شئ.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د ارادې د ډولونو په هکله يو له بل سره مباحثه وکړي.

## پوښتنې

١- قدرت څه ته ويل کېږي؟
٢- د الله تعالی د قدرت د اثبات دلايل ذکر کړئ.
٣- د الله تعالی د قدرت په صفت د ايمان حکم څه دی؟
٤- اراده څه ته ويل کېږي؟
٥- د الله تعالی د ارادې د اثبات دلايل ذکر کړئ.
٦- د الله تعالی د ارادې په صفت د ايمان حکم بيان کړئ.
٧- د الله تعالی اراده په څو ډوله ده؟ بيان يې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دوو صفتونو (قدرت او ارادې) په اړه يوه مقاله وليکي چې له شپږو کرښو کمه نه وي.

# د الله تعالی ذاتي صفتونه (۲)

## سمع، بصر، علم او حیات

- آیا تاسو پوهیږئ چې سمع، بصر، علم او حیات د الله تعالی صفتونه دي؟
- سمع، بصر، علم او حیات د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دي؟
- آیا الله تعالی د نومړو صفتونو په ضد سره موصوفیږي؟

### سمع

#### د سمع تعریف

سمع په عربي ژبه کې د هغه قوت څخه عبارت دی چې آوازونه پرې اورېدل کیږي، خو دلته له سمعې څخه د الله تعالی هغه ذاتي صفت مراد دی چې الله تعالی خپل ځان ته په قرآن کریم کې ثابت کړی او موږ یې په کیفیت نه پوهیږو.

سمع د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی ټول آوازونه، په خپلې ازلي سمعې سره چې دده ازلي صفت دی اوري خو موږ یې په کیفیت نه پوهیږو، ډېر خفي شی هم د الله تعالی له سمعې (اورېدلو) څخه نه شي پټېدلای، الله تعالی د دې صفت په ضد سره چې کوڼوالی دی نه موصوفیږي.

### بصر

#### د بصر تعریف

بصر د لیدلو له هغه قوت څخه عبارت دی چې په سترګو کې وجود لري او په هغې سره شکلونه، رنګونه، روښنایي، تیارې او داسې نور لیدل کیږي.

خو دلته له بصر څخه د الله تعالی هغه ذاتي صفت مراد دی چې الله تعالی په قرآن کریم کې د خپل ځان لپاره ثابت کړی او موږ یې په کیفیت نه پوهیږو.

بصر د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی په خپل ازلي او قدیمي بصر سره چې د ده ازلي صفت دی ټول شکلونه او رنګونهویني خو موږ یې په کیفیت نه پوهیږو، د الله تعالی له بصر (لیدلو) څخه ډېر کوچنی شی هم نشي پټېدلای او د دې صفت په ضد سره چې ړوندوالی دی نه موصوفیږي.

## د سمع او بصر د اثبات دلايل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ [الحج: ٧٥]

**ژباړه:** يقيناً الله تعالی اورېدونکی او لېدونکی دی.

همدارنګه الله تعالی په يو بل آيت کې فرمايي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾[الشوری: ١١]

**ژباړه:** «د کايناتو هېڅ شی هغه ته ورته نشته او هغه اورېدونکی او لېدونکی دی.»

## علم:

## د علم تعريف

علم هغې پوهې ته ويل کېږي چې له واقعيت سره مطابقت ولري.

علم د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی په ټولو موجوداتو باندې عالم دی او د ده له علم څخه ډېر واړه شيان هم نشي پټېدلای، بلکې الله تعالی په ښکاره او پټو ټولو شيانو باندې په خپل علم چې د ده ازلي او قديمي صفت دی عالم دی او د دې صفت په ضد سره چې جهل دی نه موصوفيږي.

## د علم د اثبات دلايل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايلي دي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾[لقمان: ٢٣] **ژباړه:** په باوري ډول الله د سينو په پټو رازونو پوهيږي. په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايي: ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ [الأنعام: ٥٩]

**ژباړه:** له هماغه سره د غيبو کليګاني دي چې له هغه نه پرته بل څوک پرې نه پوهيږي، په وچه او لمده کې چې هر څه دي له ټولو څخه هغه خبر دی، له ونې څخه کومه رالوېدونکې پاڼه داسې نشته چې هغه پرې عالم نه وي. د ځمکې په تورتمی پردو کې کومه دانه داسې نشته چې هغه ورڅخه باخبر نه وي، وچ او لامده ټول په يو روښانه کتاب کې ليکل شويدي.

## حیات

### د حیات تعریف

حیات د مرگ ضد دی او حیات د الله تعالی ازلي او ذاتي صفت دی، الله تعالی په خپـل ازلـي حیات سره حی (ژوندی) دی او د دې صفت په ضد سره چې مرگ دی نه موصوفیږي.

### د حیات د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کـریم کـې فرمـایلي دي:﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ [البقرة: ٢٥٥]

**ژباړه:** الله، له الله پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته، هغه الله چې ژونـدی او د کـارونو تنظیموونکی دی.

همدارنگه الله تعالی په یو بل آیت کې فرمایي: ﴿هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ [غافر: ٦٥]

**ژباړه:** همغه تل تر تله ژوندی دی، له هغه پرته هېڅ معبود نشته، تاسـې همغـه وبـولئ او د هغه لپاره خپل دین خالص او یوازې وگرځوئ.

### د پورتنیو صفتونو حکم

د الله تعالی د سمع، بصر، علم او حیات په صفتونو باندې ایمان لرل واجب دي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د الله تعالی د ذاتي صفتونو په هکله په ډله ایزه توگه مباحثه وکړي.

### پوښتنې

١. سمع، بصر، علم او حیات تعریف کړئ.
٢. د سمع، بصر، علم او حیات د اثبات دلایل ذکر کړئ.
٣. د سمع، بصر، علم او حیات د صفتونو حکم بیان کړئ.
٤. سمع، بصر، علم او حیات د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دي؟
٥. آیا الله تعالی د نوموړو صفتونو په ضد سره موصوف کېدای شي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دغو څلورو صفتونو په اړه چې په لوست کې ولوستل شول یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# کلام د الله تعالی صفت دی

- آیا تاسو پوهیږئ چې کلام د الله تعالی صفت دی؟
- کلام د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دی؟
- آیا الله تعالی د کلام په ضد سره موصوفیږي؟

د دې پوښتنو ځوابونه به په لاندې لوست کې ولولو.

## د کلام تعریف

کلام په عربي ژبه کې هغه څه ته ویل کیږي چې له حروفو او صوت څخه مرکب شوی وي، خو دلته له کلام څخه د الله تعالی ذاتي صفت مراد دی چې هغه قدیم دی، په څرنګوالي باندې یې مونږ نه پوهیږو او نفسي کلام هم ورته ویل کیږي.

## د تعریف شرح

کلام د الله تعالی په ذات پورې قائم دی، په ضد سره یې الله تعالی چې ګونګوالی دی نه موصوفیږي.

## د کلام د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ١٦٤]

**ژباړه:** او له موسی (علیه السلام) سره الله تعالی په ځانګړي ډول خبرې وکړې.

همدارنګه په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ [الشورى: ٥١]

**ژباړه:** او هېڅ انسان ته دا نشته چې الله ورسره وغږیږي، پرته له دې چې وحې به وي، یا له پردې ها خوا، یا کوم رسول ولیږي او هغه د ده په حکم سره څه چې غواړي وحې کړي، یقیناً هغه جل جلاله لوړ او حکمت والا دی.

## د کلام په صفت د ایمان حکم

د الله تعالی د کلام پر صفت باندې ایمان راوړل او باور کول فرض دي.

## قرآن کریم د الله تعالی کلام دی

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره رالېږلی دی، قرآن کریم د ټولو آسماني کتابونو وروستنی کتاب دی له دې کتاب څخه وروسته به د قیامت تر ورځې پورې بل کتاب نه نازلیږي.

## د قرآن کریم تعریف

قرآن د لغت له مخې د مصدر کلمه ده، د یو ځای کولو او تلاوت په معنی دی. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:﴿إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وقُرْآنَهُ۞ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾ [ القيامة: -١٧- ١٨]

**ژباړه:** بې شکه د هغه جمع کول او بیا تا لوستل یې زموږ پر ذمه دي، نو کله چې هغه موږ ولوست، بیا یې ته وربسې لوله.

**په اصطلاح کې:** قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې په عربي ژبه نازل شوی، په صحیفو کې لیکل شوی، موږ ته په تواتر، پرته له کومې شبهې را نقل شوی دی، تلاوت یې عبادت دی، یو سل او څوارلس سورتونه لري.

## په قرآن کریم باندې د ایمان حکم

پدې باندې یقین او باور کول فرض دي چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، د ده پر ذات پورې قایم دی، که څوك د قرآن ( د الله تعالی د کلام) له قدیم والي څخه منکر شي کافر کیږي.

## د قرآن کریم نومونه

قرآن کریم په ډېرو نومونو یاد شوی دی چې ځینې یې په لاندې ډول بیانیږي:

قرآن: الله تعالی فرمايي:﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾[البقرة: ١٨٥] د رمضان میاشت هغه چې قرآن پکې نازل کړی شوی دی.

الکتاب: الله تعالی فرمايي: ﴿ ذَلِكَ الكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [البقرة: ١]

**ژباړه:** دغه (د لوی شان والا) کتاب (هیڅ) شك پکې نشته (چې د الله له لوري نازل شوی دی، د متقیانو لپاره لارښوونه ده.)

الحکیم: الله تعالی فرمايي: ﴿ تِلْكَ آيَاتُ الكِتَابِ الحَكِيمِ ﴾ [يونس: ١]

**ژباړه:** دا له حکمتونو څخه د یو ډك کتاب آیتونه دي.

نور: الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُوراً مُّبِينًا﴾ [النساء: ۱۷٤]

**ژباړه:** او تاسو ته مو څرګنده رڼا نازله کړې (چې قرآن دی).

الفرقان: الله تعالی فرمايي: ﴿تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً﴾ [الفرقان ۱ آيت]

**ژباړه:** هغه ذات برکتناک دی چې په خپل بنده (محمد صلی الله عليه وسلم) يې فرقان د دې لپاره نازل کړ، تر څو د ټولو خلکو لپاره د وېرې خبر ورکوونکی وي.

الروح: الله تعالی فرمايي: ﴿وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحاً مِّنْ أَمْرِنَا﴾ [الشورى: ٥٢]

**ژباړه:** او په همدې توګه موږ تاته هم په خپل امر سره روح راولېږلو.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د قرآن کريم نور نومونه هم ذکر کړي.

## پوښتنې

۱. کلام تعريف کړئ.
۲. د کلام د اثبات دلائل ذکر کړئ.
۳. د کلام پر صفت باندې د ايمان حکم بيان کړئ.
٤. قرآن کريم تعريف کړئ.
٥. د قرآن کريم د قديم والي په هکله د اهل سنتو نظر بيان کړئ
٦. پر قرآن کريم باندې د ايمان حکم بيان کړئ.
۷. د قرآن کريم نومونه له دليلونو سره ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآن کريم په اړه يوه مفصله مقاله وليکي.

لسم لوست

# پر ملائکو ایمان

په تیرو درسونو کې موږ د الله تعالی پر وجود، وحدانیت، اسماوو او صفاتو باندې د ایمان په اړه پوره معلومات تر لاسه کړل، پدې لوست کې په ملائکو باندې د ایمان په اړه بحث کوو.

**د ملائکو تعریف**

ملائکه د ملک جمع ده، په لغت کې استازي ته ویل کیږي.

د عقایدو د علم په اصطلاح کې ملائکې د الله ﷻ هغه نوراني او لطیف مخلوق دی چې د الله ﷻ له اوامرو څخه سرغړونه نه کوي.

**د تعریف شرح**

ملائکې د الله تعالی له غوره مخلوقاتو څخه دي، له نور څخه پیدا شوې دي، په سترګو نه لیدل کیږي، له ټولو ګناهونو څخه معصومې دي، په هېڅ صورت د الله تعالی له اوامرو څخه سر غړونه نه کوي، بلکې هر کار چې الله تعالی ورته وفرمايي، هغه تر سره کوي، د نارینه یا ښځینه نسبت نه ورته کیږي، په هر ډول ښکلو شکلونو سره ځانونه متشکل کولای شي، د اوسېدلو ځای یې آسمانونه دي، له نفسي غوښتنو او شهواتو څخه پاکې دي، خوراک، څښاک او خوب نه کوي.

**د ملائکو د وجود د اثبات دلایل**

د ملائکو وجود او خلقت د قرآن کریم په مبارکو آیتونو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر مبارکو احادیثو ثابت دی:

١. قرآن کریم: الله تعالی د قرآن کریم په مختلفو آیتونو کې د ملائکو یادونه کړې ده، لکه څرنګه چې د النجم سورت کې فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَى﴾ [النجم: ٢٧]

**ژباړه:** یقیناً کوم کسان چې آخرت نه مني هغوی په پرښتو باندې د ښځینه معبودانو نومونه ږدي.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمايي: ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [فاطر: ١]

**ژباړه:** ثنا ستاینه د الله لپاره ده چې د آسمانونو او ځمکې جوړوونکی او د پیغام رسوونکو پرښتو ټاکونکی دی. (داسې پرښتې) چې د هغو دوه دوه، درې درې او څلور څلور وزرونه دي، د هغه چې څنګه خوښه وي دخپل مخلوق په جوړښت کې زیاتوالی راولي، بېشکه هغه پر هر څه قادر دی. همدارنګه الله تعالی د النحل سورت په دویم آیت کې

فرمـايي: ﴿يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ [النحل: ٢] **ژبـاړه:** الله ﷻ ملايکې (پرښتې) د خپل امر څخه په روح(د ژوند خبره) راليږي د خپلو بندګانو څخه هغه چا ته چې الله تعالى يې وغواړي.

### ٢. حديث شريف

له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه د ملائکو په اړه زيات احاديث روايت شـوي دي چې دلته په لنډ ډول يو حديث بيانوو: «عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ»[1]

**ژباړه:** له حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت دى چې رسـول الله صـلى الله عليه وسلم وفرمايل: جبرائيل عليه السلام به ما ته تل د ګاونډي په هکله توصـيه کولـه تـر دې چې ما ته دا ګومان پيدا شو چې يو ګاونډى به له خپل ګاونډي څخه ميراث وړي.

## په ملائکو باندې د ايمان حکم

په ملائکو باندې ايمان راوړل، باور او يقين کول فرض دي، منکر يـې د اسـلام لـه کـړۍ څخه وتلى ګڼل کيږي.

## ملائکې له ټولو ګناهونو څخه معصومې دي

د قرآن کريم زيات شمېر آيتونه د ملائکو پر عصمت دلالت کوي لکـه ځرنګـه چې الله تعالى فرمايي: ﴿لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾ [التحريم: ٦]

**ژباړه:** په هغه څه کې چې الله تعالى امر ورته کړى نافرمـاني نـه کـوي او هغـه څـه سـرته رسوي چې امر ورته کيږي.

همدارنګه په يو بل آيت کې فرمايي: ﴿يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ﴾ [الأنبياء: ٢٠]

**ژباړه:** شپه او ورځ تسبيح وايي لټي نه کوي.

## د ملائکو صفتونه

په قرآن کريم او نبوي سنتو کې د ملائکو ډېر زيات صفتونه ذکر شوي دي چې پـه لنـډ ډول يې ذکر کوو:

١. ملائکې له نور څخه پيدا شوې دي.
٢. ملائکې په سترګو نه ليدل کيږي، خو که چيرې دوى چاته د ځرګنديدو اراده وکړي نو ليدل يې شوني دي.
٣. ملائکې خپل ځانونه په ښو او ښکلو شکلونو سره متشکل کولاى شي.

---

١ - صحيح البخاري ت - (١٥ / ١٩٨)

٤. الله تعالی ملائکې انبیاؤ ته د وحې او داسې نورو ارزښتناکو کارونو په سرته رسولو گمارلې دي.
٥. پرته له ستونزې څخه د ځمکې او آسمان تر منځ تگ او راتگ کولای شي.
٦. ځینې ملائکې د دوو، ځینې د دریو، ځینې د څلورو او ځینې له دې څخه د زیاتو وزرونو خاوندانې دي.
٧. له انسانانو څخه مخکې الله تعالی ملائکې پیدا کړې دي.
٨. ملائکې سره له دې چې معصومې دي او تل د الله تعالی عبادت کوي، خو بیا هم له الله تعالی څخه ډېرې وېرېږي.
٩. ملائکې الله تعالی ته ډېرې نږدې او مقربې دي.
١٠. ملائکې د خارق العادة توان خاوندانې دي.

## د ملایکو دندې

ملائکو ته الله تعالی ډېر لوی لوی کارونه او دندې ورسپارلې دي، دوی ته الله تعالی دا توان ورکړی چې ورسپارل شوې دندې په ښه توگه سرته ورسوي، د ملائکو د دندو ډولونه په لاندې ډول بیانېږي:

١. الله تعالی پیغمبرانو ته د وحې په رسولو باندې جبرائیل عليه السلام مکلف کړی دی جبرائیل عليه السلام د ټولو ملایکو څخه غوره او د الله تعالی په وړاندې معزز دی چې د (الروح الامین) په نامه سره یې یاد کړی دی.
٢. میکائیل عليه السلام ته د اورښتونو او نباتاتو د پالنې دنده ور سپارل شوې ده. میکائیل عليه السلام هم د الله تعالی په وړاندې لوړه مرتبه او لوی مقام لري، ځکه الله تعالی د جبرائیل په څنگ کې ذکر کړی دی.
٣. اسرافیل عليه السلام ته د قیامت لپاره د شپېلۍ وهلو دنده ورسپارل شوې ده.
٤. ملك الموت (عزرائیل عليه السلام) او د ده ملگرو ته د ارواحو د قبض دنده ورسپارل شوې ده.
٥. کرام کاتبین ته د خلکو د عملونو د لیکلو دنده ورسپارل شوې ده.
٦. نکیر او منکر ته په قبر کې له مړو څخه د پوښتنو کولو دنده ورسپارل شوې ده.

### په ملائکو باندې د ایمان ګټې

۱. د الله تعالی په عظمت پوهېدل.

۲. له مخلوق څخه د الله تعالی غنا، (که موږ له الله تعالی څخه سرغړونه وکړو، نو د الله تعالی نور مخلوق شته چې د هغه عبادت کوي او الله تعالی له دې ټولو څخه بې پروا او غني دی.

۳. له مؤمنانو سره د الله تعالی له محبت څخه خبرتیا، چې دا د دې لامل کیږي چې بنده ګان د الله تعالی ډېر اطاعت او پیروي وکړي.

٤. د الله تعالی له قدرت او د ده د لښکر له قوت څخه خبرتیا، د ده په نصرت او مرسته ایمان راوړل چې دا په دعوت او جهاد کې د ثبات لامل کیږي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د ملائکو د عصمت او صفتونو په اړه یو له بل سره مباحثه وکړي.

### پوښتنې

۱. ملائکې تعریف کړئ.

۲. ملائکې له څه شي څخه پیدا شوې دي.

۳. د ملائکو د اثبات په اړه څو دلیلونه ذکر کړئ.

٤. په ملائکو باندې د ایمان حکم بیان کړئ.

۵. د ملائکو صفات په لنډ ډول ذکر کړئ.

٦. د ملائکو دندې په لنډ ډول ذکر کړئ.

۷. پر ملائکو باندې د ایمان څو ګټې بیان کړئ.

### کورنی دنده

زده کوونکي دې د ملائکو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# آسمانی کتابونه

الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره وخت پر وخت کتابونه را لیږلي دي، تر څو دوی د هغو کتابونو له لارښوونو سره سم خپل ژوند عیار او د دنیا او آخرت نیکمرغی خپلې کړي.

## د کتاب تعریف

کتاب په لغت کې له کتابت څخه اخیستل شوی او لیکنې ته ویل کیږي. او آسماني کتاب د الله تعالی هغه کلام دی چې د وحې له لارې یې د خلکو د هدایت او لارښوونې په موخه د خپلو رسولانو څخه یو رسول ته را استولی وي چې خلکو ته یې ورسوي. آسماني نازل شوي کتابونه عبارت دي له: تورات په حضرت موسی عليه السلام، زبور په حضرت داود عليه السلام، انجیل په حضرت عیسی عليه السلام او قرآن کریم په حضرت محمد ﷺ نازل شوي دي. له دې کتابونو پرته ځینې صحیفې په ځینو نورو پیغمبرانو باندې هم نازلې شوې دي.

## د تعریف شرح

له کتاب څخه دلته د الله تعالی کلام مراد دی چې له نور او لارښوونو څخه برخمن دی، الله تعالی په هره زمانه کې د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره آسماني کتاب را نازل کړی څو هغوی دغه آسماني کتاب د خپل سپېڅلي قانون په توګه قبول کړي او پیروي یې وکړي چې د دنیا په ستونزمنو او کړکیچنو لارو کې خپله لار ورکه نه کړي.

## د آسماني کتابونو د اثبات دلایل

په آسماني کتابونو باندې د ایمان د اثبات لپاره په قرآن کریم او د نبي کریم ﷺ په مبارکو احادیثو کې ډېر زیات دلایل شته چې موږ یې دلته په لنډ ډول بیانوو:

### قرآن کریم

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ۱۳۶]

**ژباړه**: ووایئ چې! موږ ایمان راوړی دی په الله او پر هغه هدایت چې موږ ته نازل شوی دی او هغه چې ابراهیم عليه السلام، اسماعیل عليه السلام، اسحاق عليه السلام، یعقوب عليه السلام او د دوی اولادې ته نازل

شوی ؤ او هغه چې موسی عليه السلام، عیسی عليه السلام او نورو ټولو پیغمبرانو ته د هغو د رب له لوري ورکړی شوی ؤ، مونږ د هغو په منځ کې هیڅ توپیر نه کوو، او مونږ الله ته غاړه ایښودونکي یو.

پدې مبارک آیت کې الله تعالی مؤمنان مامور کړي چې په قرآن کریم او هغو کتابونو چې له قرآن کریم څخه مخکې نازل شوي ایمان راوړي.

الله تعالی په بل آیت کې فرمايي: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ [البقرة: ٢٨٥]

ژباړه: پیغمبر پر هغه هدایت، چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شویدی باور کړی دی او څوک چې د دې پیغمبر منونکي دي، هغوی هم (دا هدایت د زړه په مینه) منلی دی. دوی ټولو الله، د هغه پرښتې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران عليهم السلام منلي دي او د هغو وینا دا ده چې: "موږ د الله په پیغمبرانو کې یو له بله توپیر نه کوو، وايي: موږ حکم واورېده او مومانه اې زموږ ربه (څښتنه)! له تا ښښنه غواړو او یوازې تاته زموږ درتګ دی.

الله تعالی پدې مبارک آیت کې د نبي کریم ﷺ او مؤمنانو د ایمان صفت بیان کړی او هغه څه یې پکې څرګند کړي چې دوی په ایمان راوړلو پرې مامور شوي دي چې هغه ایمان په الله تعالی، ملائکو، کتابونو او رسولانو دی.

همدارنګه الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې داسې فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ [النساء: ١٣٦]

**ژباړه:** اې مؤمنانو! په الله، په رسول یې او په هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله تعالی پر خپل رسول را نازل کړی او په هغه کتاب چې ړومبی یې نازل کړی او څوک چې له الله او د هغه له ملایکو، کتابونو، رسولانو او وروستی ورځې نه منکر شي نو رښتیا چې هغه په بې لاریتوب کې ډېر لرې ولاړ.

**حدیث شریف**

کله چې جبرئیل علیه السلام له نبي کریمﷺ څخه د ایمان په هکله پوښتنه وکړه، رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ».(١)

**ژباړه:** ایمان دې ته ویل کیږي چې ته ایمان او یقین وکړې په الله تعالی او د هغه په ملائکو، کتابونو، رسولانو، د قیامت په ورځ او پدې ایمان او باور ولرې چې د خیر او شر ټولو اندازه د الله تعالی له لوري ده.

## په آسماني کتابونو د ایمان لرلو حکم

په ټولو آسماني کتابونو چې د الله تعالی له لوري را نازل شوي ایمان راوړل، یقین او باور کول فرض دي او دا د ایمان د بنسټونو څخه دي.

## آسماني کتابونو ته د خلکو اړتیا

د بشر د تاریخ له پلټلو څخه څرګندیږي چې انسان له یو لوري ځان غوښتنه لري، ځان خوښوي او د نورو آزادي او حقوق د برلاسي توب په وخت کې ډېر وختونه په نظر کې نه نیسي.

**فعالیت:** له پخواني او معاصر تاریخ څخه د ظالمو چارواکو او زورورو خپلسرو قومونو د بشري ځان غوښتنې ځینې بېلګې د مثال په توګه په وار سره بیان کړئ.

او له بل پلوه د بشر پوهه نیمګړې ده، د کایناتو او د هغو د خالق په اړه له لاربښوونې پرته حقیقت ته نه شي رسېدای او په همدې توګه د ټولنیزو اصولو او قوانینو په هکله بې علم نیمګړی دی، غوره او ګټورې لارې چارې په خپل سر نه شي پېژندلی.

نو بشر سخته اړتیا درلوده چې الله تعالی د دوې د لاربښوونې او له هڅک پک کیدو څخه د ویستلو لپاره په بېلابېلو وختونو کې پیغمبران را واستوي او د هغوی په لاس شریعتونه او کتابونه رانازل کړي.

الله تعالی فرمایي: ﴿رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ [نساء:١٦٥]

١ - صحیح مسلم - (١ / ٢٨)

**ژباړه:** (الله تعالی) زېری ورکوونکي او وېروونکي پیغمبران راواستول چې د هغوی له رالیږلو وروسته په الله تعالی د خلکو کوم حجت نه وي او الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی.

دا خبره ضروري ده باید پرې پوه شو چې د ټولو آسماني کتابونو پیغام په قرآن کریم کې شتون لري او دغه کتاب د ټول بشریت د لارښوونې وروستنی کتاب دی. په دې سربېره د الله ﷻ په دې کتاب کې برکتونه دي، د هغه تلاوت د الله ﷻ ذکر دی او په دنیا کې د رحمتونو او په آخرت کې د ژغورنې سبب ګرځي.

## پوښتنې

١. کتاب تعریف کړئ!
٢. په آسماني کتابونو باندې د ایمان د اثبات دلایل ووایئ!
٣. رسول الله ﷺ جبرئیل علیه السلام ته د ایمان په هکله څه وویل؟
٤. په آسماني کتابونو باندې د ایمان حکم بیان کړئ!
٥. آسماني کتابونو ته خلک څه اړتیا لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې آسماني کتابونو ته د خلکو د اړتیا تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# وحي

پدې لوست کې مونږ په وحې باندې له ایمان راوړلو څخه بحث کوو.
وحې څه ته ویل کیږي؟ وحې د چا له خوا په چا باندې نازلیږي؟

## د وحې تعریف

وحې په لغت کې په ډېرو معناګانو سره استعمال شوې ده لکه: اشاره، پیغام، الهام، خفي کلام، امر او کتابت.[1] او د عقایدو د علم په اصطلاح کې د الله تعالی له لوري په پټه او خارق العاده طریقې سره د نبي یا رسول خبرولو ته وحې ویل کیږي.[2]

## د تعریف شرح

وحې د الله تعالی له لوري له هغه چا سره چې د پیغمبرۍ لپاره يې غوره کړی وي په هر هغه څه چې اراده يې لري، په خفي او داسې طریقو سره خبرولو ته ویل کیږي چې د بندګانو په وس او توان پوره نه وي.

## د وحې د ثبوت دلیل

نقلي دلیل: حضرت محمدﷺ لومړنی پیغمبر نه و او نه لومړنی انسان و، چې خلکو ته يې له وحې څخه خبرې کولې او دوی يې په آسماني خبرو باندې خبرول، بلکې له آدمعليه السلام څخه پیل تر حضرت محمدﷺ پورې ډېر پیغمبران تېر شوي چې خلک يې له وحې څخه خبرول. دوی له ځیلو ځانونو څخه خبرې نه جوړولې بلکې د الله تعالی له لوري په رالیږلې وحې به يې دوی خبرول لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ۞ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ١٦٣ ، ١٦٤]

**ژباړه:** اې محمدهﷺ مونږ تا ته په هم هغه شان وحې لیږلې ده، لکه چې نوحعليه السلام او له هغه وروسته پیغمبرانو ته مو لیږلې وه. مونږ ابراهیمعليه السلام، اسمٰعیلعليه السلام، اسحٰقعليه السلام، یعقوبعليه السلام او د یعقوبعليه السلام اولادې، عیسیعليه السلام، ایوبعليه السلام، یونسعليه السلام، هارونعليه السلام او سلیمانعليه السلام ته وحې ولیږله او مونږ داؤد ته زبور ورکړ او مونږ پر هغو پیغمبرانو هم وحې نازله کړې چې د

---

١ – لسان العرب، القاموس المحیط،، تفسیر الرازي او تفسیر البیضاوي.
٢ – مناهل العرفان – (١ / ٤٦)

هغو يادونه مو له دي نه مخکې تا ته کړېده او پر هغو پيغمبرانو هم چې د هغو يادونه مو تاته نه ده کړې. الله له موسى عليه السلام سره په يقيني توګه پرته د واسطې خبرې کړې دي.

په يو بل آيت کې الله تعالى د محمد ﷺ په هکله فرمايي: ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾ [النجم: ٣، ٤]

**ژباړه:** هغه له خپل نفسي خواهش څخه نه غږېږي، دا خو يوه وحې ده چې هغه ته کېږي.

همدارنګه الله تعالى په يو بل آيت کې فرمايي: ﴿أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ مُبِينٌ﴾ [يونس: ٢]

**ژباړه:** آيا د خلکو له پاره دا د حيرانتيا خبره ده چې له دوی څخه مو يو سړي ته وحې وکړه چې (په غفلت کې لوېدلي) خلک وويروي او څوک چې يې ومني هغو ته زېرى ورکړه چې د دوی له پاره د هغو له رب سره ريښتونې عزت او سرلوړي ده؟ منکرانو وويل چې دا سړى ښکاره کوډګر دی.

## عقلي دليل

وحې يو ريښتونې واقعيت دی، څوک چې د الله تعالى پر وجود او د هغه د قدرت په کمال ايمان لري د وحې له وجود څخه نه منکرېږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د وحې د دليلونو په اړه يو له بل سره مباحثه وکړي.

## پر وحې د ايمان حکم

په ټولو نازل شويو کتابونو او په ټولو وحيو باندې په اجمالي توګه ايمان او باور لرل فرض دي.

## د وحې ډولونه

الله تعالى خپلو پيغمبرانو ته په درې ډوله وحې کړې ده:

١. د الهام او خوب په توګه وحې.

**الهام:** لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ فرمايي: «إن روح القدس نفث في روعي أن نفسا لن تموت حتى تستكمل أجلها وتستوعب رزقها فأجملوا في الطلب ولا يحملن أحدكم استبطاء الرزق أن يطلبه بمعصية فإن الله لا ينال ما عنده إلا بطاعته» [١]

**ژباړه:** يقيناً چې جبرائيل عليه السلام زما په زړه کې دا خبره الهام کړه چې هيڅ نفس تر هغه وخته نه مړ کېږي تر څو خپله ټاکلې نېټه پوره کړي او خپل رزق پوره تمام کړي، نو رزق له روا لارو وغواړئ او د رزق وروسته کېدل او کموالى دې په تاسو کې هيڅ يو

١ – حلية الأولياء – (١٠ / ٢٧)

دي ته اړ نکړي چې په ناروا لارو پې ولېږي. ځکه هغه څه چې د الله تعالی په وړاندې شته هغه د طاعت څخه پرته په نورو ناروا لارو نه شي تر لاسه کېدای.

أ. **په خوب کې ليدل:** لکه څرنگه چې الله تعالی ابراهيمعليه السلام ته په خوب کې وحې وکړه چې خپل زوی اسماعيلعليه السلام ذبحه کړي او له همدې ربښتينو خوبونو څخه پر حضرت محمدﷺ باندې وحې پيل شوې ده.

۲. **د پردې تر شا خبرې کول:** يعنې پدې صورت کې به د پيغمبر او الله تعالی تر منځ واسطه موجوده نه وه، بلکې پرته له واسطې به الله تعالی خپل پيغمبر ته وحې کوله لکه څرنگه چې موسیعليه السلام د الله تعالی خبرې پرته له واسطې څخه اورېدلې دي.

۳. **د ملائکې په واسطه:** يا به الله تعالی خپل پيغمبر ته ملائکه لېږله نو دې ملائکې به هغه وحې پيغمبر ته رسوله چې دا د جبرائيلعليه السلام دنده وه.[۱]

د وحې پورتني درې ډولونه الله تعالی پدې مبارک آيت کې داسې بيانوي: ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ [الشورى: ٥١]

**ژباړه:** هېڅ بشر دا مقام نه لري چې الله له هغه سره مخامخ خبرې وکړي يا خو د هغه خبرې په وحې (اشاره) سره وي يا د پردې تر شا، يا کوم پيغام راوړونکې (پرښته) لېږي او پرښته د الله په حکم سره هر څه چې هغه غواړي وحې کوي، هغه لوړ او د حکمت خاوند دی.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د وحې د ډولونو په اړه يو له بل سره بحث وکړي.

## پوښتنې

۱. وحې لغتاً او اصطلاحاً تعريف کړئ.
۲. د وحې د شتون دليلونه بيان کړئ.
۳. په وحې باندې د ايمان حکم څه دی؟
٤. د وحې ډولونه بيان کړئ.
٥. هغه مبارک آيت ذکر کړئ چې الله تعالی د وحې ډولونه په کې ذکر کړي دي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د وحې په اړه په خپلو کتابچو کې يوه مقاله وليکي چې له پنځو کرښو کمه نه وي.

---

۱ – تفسير الرازي، ج: ۲۷، ص: ۱۸٦.

# پر انبیاوو او رسولانو ایمان

١. نبي او رسول چا ته ویل کیږي؟
٢. آیا نبوت او پیغمبري په کار او زحمت سره ترلاسه کېدای شي؟

## ١- د نبي او رسول تعریف

أ. نبي: چې د الله تعالی له لوري وحې ورته راغلې وي.
ب. رسول: هغه چا ته ویل کیږي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د خپلو احکامو د رسولو لپاره له نوي شریعت سره استولی وي.

## ٢. د نبي او رسول تر منځ توپیر

رسول هغه چا ته ویل کیږي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته له نوي شریعت سره را استولی وي چې هغه خلکو ته ورسوي. او نبي هغه دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره رالیږلی وي، برابره خبره ده که د پخوانو انبیاوو شریعت خلکو ته رسوي، نوی شریعت ورسره نه وي او یا هم نوی شریعت ورکړل شوی وي، نو هر رسول ته نبي ویل کیږي، خو هر نبي ته رسول نه ویل کیږي.

## ٣. د انبیاوو شمیر

په قرآن کریم کې د پنځه ویشتو انبیاوو یادونه راغلې، اتلس تنه یې د الله تعالی په دې قول کې ذکر شوي دي: ﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ۞ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۞ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ ۞ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ﴾ (الأنعام: ٨٣ - ٨٦)

**ژباړه**: او دا زموږ دلیل دی چې ابراهیم ته مو د قوم په مقابل کې ورکړی و، چا ته چې مو خوښه شي درجې یې لوړوو، بې شکه ستا رب (څښتن) ډېر د حکمت او علم خاوند دی او ده ته مو اسحاق او یعقوب وربښلي وو، ټولو ته مو لاره ښودلې وه، او نوح ته مو پخوا لاره ښودلې وه او د ده له اولادې څخه داود، سلیمان، ایوب، یوسف، موسی او

هارون وو او موږ نېکو کارو خلکو ته همداسې غوره بدل ورکوو او زکريا، يحيى، عيسى او الياس ټول له صالحانو څخه وو او اسماعيل، اليسع، يونس، لوط او نور ټول مو په نورو خلکو غوره ګرځولي وو.

او اوه تنه يې په نورو ځايونو کې ذکر شوي چې هغوى له: آدَم، إِدْرِيس، هُود، صَالِح، شُعَيْب، ذُو الْكِفْل او مُحَمَّدٌ خَاتَمُ النَّبِيِّين (عَلَيْهِمْ جَمِيعًا صَلَوَاتُ اللَّهِ وَسَلَامُهُ) څخه عبارت دي.

په قرآن کې راغلي چې نور پيغمبران هم شته، الله تعالى فرمايي: ﴿وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْل وَرُسُلاً لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ﴾ [النساء: ۱۶۴]

**ژباړه:** او موږ پر هغو پيغمبرانو هم وحې نازله کړې چې د هغو يادونه مو له دې نه مخکې تا ته کړې ده او پر هغو پيغمبرانو هم چې د هغو يادونه مو تا ته نه ده کړې.

په حديثو کې د انبياوو شمېر يو لک او څليرويشت زره او د رسولانو شمېر درې سوه او ديارلس تنه ښودل شوى، خو علماء وايي چې په دې حديثونو کې ضعف دى[1] نو د مجموعي تعداد په هکله يې توقف غوره دى.

## ٤. په رسولانو باندې د ايمان د اثبات دليل

الله تعالى په خپل کتاب قرآن کريم کې فرمايي: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ [البقره: ۱۸۵] ژباړه: پيغمبر پر هغه هدايت ايمان راوړى دى، چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شوى دى او څوک چې د دې پيغمبر منونکي دي، هغوى هم (دا هدايت د زړه په مينه) منلى دى. دوى ټولو الله، د هغه پرښتې، د هغه کتابونه او د هغه پيغمبران عليهم السلام منلي دي او د هغوى وينا دا ده چې: «موږ د الله په پيغمبرانو کې يو له بله توپير نه کوو، وايي: موږ حکم واورېده او ومو مانه اې زموږ ربه (ښښتنه)! موږ له تا ښښنه غواړو او تاته زموږ درتګ دى.»

**فعاليت:** زده کوونکي دې په خپلو کې د نبي او رسول تر منځ پر توپير بحث وکړي.

---

۱ ـ د ابن کثير تفسير د دې آيت لاندې (وَرُسُلاً لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ).

## ۵. په انبیاوو او رسولانو باندې د ایمان حکم

په ټولو انبیاوو او رسولانو علیهم السلام باندې ایمان لرل فرض او د اسلامي عقیدې له ارکانو څخه شمېرل کیږي نو له یو نبي او رسول څخه انکار د ټولو انبیاوو او رسولانو څخه انکار بلل کیږي، له همدې امله مسلمان د تل لپاره له خپلې عقیدې سره سم دا ګواهي ورکوي چې د هېڅ نبي تر منځ په ایمان کې توپیر نه کوي، په ټولو رسولانو او نبیانو باندې پرته له کوم توپیره یو ډول ایمان لري ځکه دوی ټول د الله تعالی له لوري را استول شوي دي.

## ٦. نبوت الهي ورکړه ده

نبوت یوه الهي ورکړه ده هر هغه چا ته چې الله تعالی وغواړي نبوت او رسالت ورکوي، په شوق، کوښښ او خپله خوښه هیچا ته نه ورکول کیږي، یعني په عبادت، ریاضت او زیار نه تر لاسه کیږي، الله تعالی په قرآن کریم کې د انبیاوو توصیف داسې کړی دی:

﴿وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ﴾ [ص: ۴۷]

**ژباړه:** په یقیني توګه زموږ په نزد هغوی په غوره شویو نیکو کسانو کې شمار دي. له دې آیت څخه دا څرګنده شوه چې انبیاء د الله ﷻ د لوري غوره شوي کسان دي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې پر انبیاوو او رسولانو باندې د ایمان د حکم په اړه یو له بل سره بحث وکړي.

## ۷. په نبیانو او رسولانو باندې د ایمان تفصیل

په انبیاوو او رسولانو باندې ایمان درلودل د قرآن او سنتو په رڼا کې تفصیل لري چې په لاندې کرښو کې ورته اشاره کوو:

۱. پر هغو انبیاوو او رسولانو باندې ایمان لرل چې الله تعالی په قرآن کریم کې ذکر کړي دي او ټول شمېر یې پنځه ویشت تنه دی، همدارنګه پدې باندې هم ایمان لرل چې الله تعالی له دې ذکر شویو پیغمبرانو څخه پرته نور هم را استولي دي.

۲. پدې ټینګ باور او ایمان لرل چې د ټولو انبیاوو د بلنې محور د الله تعالی د یووالي منل او د هغه عبادت و.

۳. پر ته له توپيره په ټولو انبياوو باندې ايمان لرل، د دوی د نبوت او رسالت تصديق کول، او باور لرل چې ځينې يې له ځينو نورو ښخه غوره او محمدﷺ تر ټولو پيغمبرانو غوره دی.

٤. پدې باندې ايمان او باور لرل چې پيغمبران عليهم السلام ټول انسانان دي او د الوهيت هيڅ ډول خصوصيات نه لري.

٥. پدې باندې ايمان لرل چې انبياء او رسولان له ټولو خلکو ښخه د علم، عمل او اخلاقو له پلوه کامل دي، دوی خپل امانت پوره کړی او رسالت يې په پوره امانت دارۍ سر ته رسولی دی.

٦. پدې باندې ايمان لرل چې الله تعالی د خپلو انبياوو د تصديق لپاره دوی ته معجزې ورکړې دي.

٧. پدې باندې ايمان لرل چې د نبوت لړۍ په محمدﷺ پای ته رسېدلې او محمدﷺ ټولو خلکو ته استول شوی دی او د ده له رحلت ښخه وروسته بل نبي يا رسول د قيامت تر ورځې پورې نه راځي او د وحې لړۍ پای ته رسېدلې ده.

**فعاليت:** په قرآن کريم کې د ښو پيغمبرانو نومونه ذکر شوي دي؟

## ٨. په انبياوو او رسولانو باندې د ايمان معنا

الله تعالی په خپل کتاب قرآن کريم کې فرمايلي دي: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ١٣٦]

**ژباړه:** ووايئ چې! مونږ ايمان راوړی دی په الله او پر هغه هدايت چې مونږ ته نازل شوی دی او هغه چې ابراهيم عليه السلام، اسماعيل عليه السلام، اسحاق عليه السلام، يعقوب عليه السلام او د دوی اولادې ته نازل شوی ؤ او هغه چې موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام او نورو ټولو پيغمبرانو ته د هغو د رب له لوري ورکړی شوی ؤ، مونږ د هغو په منځ کې هيڅ توپير نه کوو، او مونږ الله ته غاړه ايښودونکي يو.

په انبياوو او رسولانو باندې ايمان او ټينګ باور لرل دې ته وايي چې الله تعالی خپلو ځينو بنده ګانو ته وحې کوي تر ښو خلکو ته د الله تعالی د نعمتونو زېری ورکړي او د هغه له

عذاب څخه يې ووېروي، خو دا هر څه يوې موخې ته د رسېدو لپاره تر سره کوي چې هغه د الله تعالى عبادت، د دين اقامت او الله تعالى په ربوبيت، الوهيت، اسماوو او صفاتو کې يو ګڼل دي.

## پوښتنې

١. نبي او رسول تعريف کړئ.
٢. نبي او رسول څه توپير لري؟ په لنډو ټکو کې يې بيان کړئ.
٣. آيا نبوت په زيار او عبادت سره تر لاسه کيږي؟
٤. په انبياوو او رسولانو باندې د ايمان د وجوب دلايل ذکر کړئ.
٥. په قرآن کريم کې د څو پيغمبرانو عليهم السلام نومونه راغلي دي؟ کوم چې درته ياد دي ويې ليکئ.
٦. په انبياوو او رسولانو عليهم السلام باندې ايمان څه حکم لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د نبي او رسول په اړه په خپلو کتابچو کې يوه مقاله وليکي چې له شپږو کرښو کمه نه وي.

# د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام صفتونه

الله تعالی پیغمبران د ښو، غوره او نیکو صفتونو خاوندان گرځولي دي تر څو په ښه توگه خلک نېکې لارې ته دعوت کړي. همدارنگه الله تعالی دوی له ټولو هغو خویونو او کړنو څخه چې د نبوت له منصب سره مناسب نه دي، پاک او سپېڅلي کړي دي.

## د انبیاوو صفتونه

د انبیاوو علیهم السلام ځیني صفتونه په قرآن کریم کې ذکر شوي دي، چې په لاندې ډول بیانېږي:

۱. **بشریت:** انبیاء او رسولان ټول بشر دي، خوراک، څښاک کوي، ویده کېږي، ناروغه کېږي، وږي کېږي، تږي کېږي، نکاح کوي په غیبو باندې نه پوهېږي او د داسې نورو ټولو بشري صفتونو خاوندان دي او دا په دې موخه چې پیغمبران باید د خلکو سره نیږدې والی ولري، د ټولو ضروریاتو، انساني صفاتو او د دوی له احساس څخه خبر وي ترڅو د مستقیمې لارې په ښودلو کې الله تعالی د دوی په واسطه باندې په خلکو قوي حجت قائم کړی، الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي: ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [التوبة: ۱۲۸]

**ژباړه:** ښشکه(یقیناً) تاسې ته یو پیغمبر راغلی دی چې په خپله له همدا تاسې څخه دی، په زیان کې ستاسې لوېدل پر هغه گران تمامېږي، هغه ستاسې د رغېدنې حرصناک دی. د مؤمنانو له پاره هغه خواخوږی او زړه سواندی دی.

۲. **تبلیغ:** خلکو ته د هغو احکامو رسول چې په رسولو یې انبیاء علیهم السلام مامور شوي وو تبلیغ بلل کېږي، تر څو هغوی ته د دنیا او آخرت د نېکمرغیو لارښوونه وکړي، چې دا کار ټولو پیغمبرانو تر سره کړی او هېڅ شی یې نه دي ورڅخه پټ کړی، الله تعالی پدې اړه فرمایلي دي: ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ﴾[المائدة: ٦٧]

**ژباړه:** اې پيغمبره! څه چې ستا د رب له لوري پر تا نازل کړی شوي دي (هغه خلکو ته) ورسوه. که داسې دې ونه کړل نو د الله تعالى پيغام دې ادا نه کړ.

۳. **زيرکتيا:** هر نبي د زيرکتيا او لوړ فهم څخه برخمن وي، الله تعالى پدې اړه فرمايي: ﴿فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ﴾ [الأنبياء: ۷۹]

**ژباړه:** نو په هغه وخت کې موږ د فيصلې صحيح صورت سليمان ته وښوده پداسې حال کې چې موږ حکم او علم دواړو ته ورکړی و، له داؤد سره موږ غرونه او الوتونکي ايل کړي وو چې پاکي يې بيانوله، د دغه کار کوونکي همدا موږ وو.

٤. **نارينتوب:** ټول علماء پدې اتفاق دي چې الله تعالى ټول انبياء نارينه رالېږلي دي هيڅ ښځې ته د نبوت منصب نه دی ورکړای شوی، آن تر دې چې ځينو علماوو په دې خبره اجماع هم نقل کړې ده، څکه الله تعالى فرمايلي دي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ﴾ [يوسف: ۱۰۹]

**ژباړه:** اې محمده (ﷺ) له تا نه مخکې موږ (پيغمبران) نه وو لېږلي، مگر هغوی ټول سړي وو، همغو لوري ته موږ وحې لېږلي وه. په پورتني آيت کې د «رجل» لفظ ذکر شوی دی او په عربي ژبه کې رجل نارينه ته ويل کيږي.

٥. **له عيبونو څخه پاکوالی:** پيغمبران له لاندې عيبونو څخه پاك او سپېڅلي دي:

الـ هر پيغمبر د بعثت په وخت کې د خپلې زمانې له ټولو خلکو څخه د خلقت لـه مخې غوره وي.

ب ـ هر نبي له داسې عيبونو څخه چې طبعيت ورڅخه نفرت کوي، پاك او سپېڅلی دی، لکه: پيس، جذام او داسې نور.

ج ـ نبي د داسې کسب خاوند نه وي چې عرف يې بد وګڼي، لکه: ښکر لګول او داسې نور.

د ـ نبي د زړه له سختوالي څخه پاك وي، څکه که چېرې نبي بې رحمه او د سخت زړه خاوند وي نو بيا خلك ورڅخه نفرت کوي، الله تعالى پدې اړه داسې فرمايلي دي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ [آل عمران: ۱۵۹]

**ژباړه:** اې پیغمبره ﷺ دا د الله لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته توند خویه او سخت زړی وای نو دا ټول به ستا له شاوخوا نه خواره شوي وو.

## ٦- عصمت

د عصمت تعریف: عصمت په لغت کې حفظ او ساتلو ته وایي.

او د عقایدو د علم په اصطلاح کې عصمت (پاکوالی): د الله تعالی هغه لطف دی چې پیغمبر د نېکو کارونو کولو ته هڅوي او د بدو کارونو له کولو څخه یې ساتي، له انسان څخه اختیار نه ساقطوي تر څو د ازمایښت او امتحان حقیقت باقي وي.[١]

### د تعریف شرح

الله تعالی خپل ټول انبیاء په خپل فضل او کرم سره له نبوت څخه مخکې او وروسته له ټولو ګناهونو څخه پاک ساتلي دي، داسې ځواک یې ورکړی دی چې د نېکو کارونو کولو ته یې هڅوي او د ناوړه کارونو له کولو څخه یې منع کوي، خو له دوی څخه اختیار نه ساقطوي.

### له ګناهونو څخه د انبیاوو علیهم السلام عصمت

د دې وضاحت لپاره باید ووایو چې ګناهونه په دوه ډوله دي:

الف- کبائر ګناهونه: کبیره ګناه هغې ګناه ته ویل کېږي چې یا په دنیا کې حد ورته ټاکل شوی وي او یا د جهنم په اور باندې وعده ورکړل شوې او یا لعنت او یا غضب ورباندې ویل شوی وي.

ب - صغائر ګناهونه: صغیره ګناه هغې ګناه ته ویل کېږي چې په دنیا کې حد ونه لري او په آخرت کې ورته عذاب نه وي ټاکل شوی.

ټول انبیاء کرام له بعثت څخه مخکې او وروسته له ټولو ګناهونو څخه که صغیره وي او که کبیره لکه: کفر، دروغ او داسې نورو څخه پاک او سپېڅلي دي، له دوی څخه قصداً او یا سهواً هېڅ وخت ګناه نه پېښېږي او که صغیره ګناه ترې سهواً صادره شي نو هغې ته «زلة» ویل کېږي نه صغیره ګناه، نو دوی له ټولو ګناهونو څخه پاک او معصوم دي.

---

١ - المسامرة. ص: ٢٢٩.

## د دې عصمت دلایل

څرنګه چې د انبیاوو له ټولو ستره او مهمه دنده خلکو ته د الله پیغام رسول دي نو قرآن په څرګندو ټکو کې په دې هکله د هغوی په صدق ګواهي ورکړې، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾ [النجم:۳، ٤]

**ژباړه:** هغه له خپل نفسي خواهش څخه نه غږیږي، دا نده مګر یوه وحې ده چې ورته کیږي.

همدارنګه نبي کریمﷺ په خپل یوه مبارک حدیث شریف کې فرمایي: عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: قالوا: يا رسول الله إِنَّك تُدَاعِبُنا. قال: ( إِنِّي لا أَقُولُ إلا حَقًّاً )[۱]

**ژباړه:** له حضرت ابو هریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې اصحابو کرامو وویل: اې د الله تعالی رسوله! ته له موږ سره ټوکې کوې، رسول اللهﷺ وفرمایل: زه له حق څخه پرته بل څه نه وایم، همدا راز أنبیاء علیهم السلام د خیر د اقتداء یوه بیلګه دي او دا د هر قسم ګناه څخه د عصمت نه پرته امکان نلري، الله تعالی په دوی پسې د اقتداء په هکله فرمایي: ﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ [الأنعام : ۹۰]

ژباړه: دا هغه خلک دي چې الله تعالی ورته لارښوونه کړې نو د دوی په هدایت پسې اقتداء وکړه (روان شه): او د انبیاوو په توصیف کې الله تعالی فرمایي: ﴿وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ﴾ [ص، ۴۸].

ژباړه: او هر یو د دوی له غوره خلکو څخه و. او همدا راز الله تعالی فرمایي: ﴿وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ [الانعام، ۸۷]

**ژباړه:** هغوی ما غوره کړي وو او د سمې لارې هدایت مې ورته کړی و.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د انبیاوو علیهم السلام د صفتونو په اړه یو له بل سره بحث وکړي.

---

۱ - سنن الترمذي - (٤ / ۳۵۷)

## پوښتني

۱. عصمت تعریف کړئ.

۲. د انبیاوو د عصمت دلایل بیان کړئ.

۳. د بشریت د صفت دلایل ووایئ.

٤. د تبلیغ د صفت دلایل ووایئ.

٥. د زیرکتیا د صفت دلایل ووایئ.

٦. د نارینتوب د صفت دلایل بیان کړئ.

۷. له کومو عیبونو څخه د انبیاوو پاکوالی لازمي دی؟

## کورني دنده

زده کوونکي دې د انبیاوو د صفتونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# اولو العزمه پيغمبران

ټول پيغمبران د الله تعالى په وړاندې معزز او د عزت خاوندان دي، ټول پيغمبران د ډېر زيات عزم، صبر اوحوصلې خاوندان وو، خو ځينې پيغمبران الله تعالى په عزم سره ستايلي دي دا په دې دلالت کوي چې دوى د نورو انبياوو عليهم السلام په پرتله د ډېر قوي عزم او د الله تعالى په وړاندې د ډېر لوړ مقام او لوړې درجې خاوندان دي.

## د عزم تعريف

عزم صبر، ثبات او د يو کار د کولو لپاره قوي هوډ ته ويل کيږي.

## ولې ځينو پيغمبرانو ته اولوالعزم ويل کيږي؟

ځينو پيغمبرانو ته ځکه اولو العزم ويل کيږي چې دوى د دعوت او رسالت په کار کې له ډېر صبر، زغم او حوصلې څخه کار اخيستى دى، نو الله تعالى پـه اولـوالعزم صفت سره ستايلي دي او فرمايي: ﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ﴾ [الاحقاف، ٣٥]

**ژباړه:** نو صبر کوه لکه چې همتناکو رسولانو صبر کولو.

## د اولو العزمه پيغمبرانو شمېر

د اولو العزمه پيغمبرانو د شمېر په اړه له علماوو څخه ډېر قولونه نقل شوي دي خو د جمهورو علماوو په نزد اولو العزم پيغمبران پنځه کسان دي: حضرت نوح عليه السلام، حضرت ابراهيم عليه السلام، حضرت موسى عليه السلام، حضرت عيسى عليه السلام او حضرت محمد ﷺ چې الله تعالى پدې قول کې راټول کړي دي:﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا﴾ [الأحزاب: ٧]

**ژباړه:** او هغه مهال چې موږ له (ټولو) انبياوو او (خصوصاً) له ستا، نوح، ابراهيم، موسى او د مريمې زوى عيسى نه ژمنه واخيسته او ښه پخه ژمنه مو ترې واخيسته.

او همدارنګه الله تعالى پدې مبارک آيت کې هم ذکر کړي دي: ﴿شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ﴾ [الشورى: ١٣]

**ژباړه:** تاسو ته يې هماغه دين ټاکلی (بيان کړی) چې په هغه سره يې نوح ته سپارښتنه کړې وه او هغه چې تا ته مو وحې کړی او په هغه سره موږ ابراهيم، موسی او عيسی ته سپارښتنه کړې وه چې (همدغه) دين تر سره(قايم) کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ. مشرکانو باندې هغه خبره ډېره درنه ده چې ته يې بلنه ورکوې.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د اولوالعزمه پيغمبرانو د شمېر په اړه په خپلو کې سره خبرې اترې وکړي.

## د اولو العزمه پيغمبرانو فضيلت

دغه اولو العزمه پيغمبران له نورو ټولو پيغمبرانو څخه د زيات فضيلت خاوندان دي او په دوی کې د ډېر زيات فضيلت خاوند حضرت محمدﷺ دی.

له ابي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل:«خِيَارُ وُلْدِ آدَمَ نُوحٌ وَإِبْرَاهِيمُ وَعِيسَى وَمُوسَى وَ مُحَمَّدٌ وَ خَيْرُهُمْ مُحَمَّدٌ»

**ژباړه:** د آدم‌عليه السلام د اولادې تر ټولو غوره حضرت نوح‌عليه السلام، حضرت ابراهيم‌عليه السلام، حضرت عيسی‌عليه السلام، حضرت موسی‌عليه السلام او حضرت محمدﷺ دي او په دوی کې غوره محمدﷺ دی.

همدارنګه امام بخاري له ابي هريرهرضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: «أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ».(۱)

**ژباړه:** زه د قيامت په ورځ د آدم‌عليه السلام د اولادې سيد او مشر يم، لومړی به له ما څخه قبر څېرې کيږي، زه لومړی شفاعت کوونکی يم، او لومړی به زما شفاعت قبليږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د اولو العزمه پيغمبرانو نور فضيلتونه هم بيان کړي.

### پوښتنې

۱. عزم تعريف کړئ.
۲. اولو العزمه پيغمبرانو ته ولې اولوالعزمه ويل کيږي؟
۳. اولو العزمه پيغمبران څو دي؟
٤. د اولو العزمه پيغمبرانو د فضيلت په اړه يو حديث شريف ووايئ.

---

۱ – أصول الإيمان في ضوء الكتاب والسنة – (۱ / ۲۲۱)

# معجزه او کرامت

## ۱. معجزه

### د معجزې تعریف

معجزه په لغت کې له عجز څخه اخیستل شوې چې ښيوسې کوونکې او عاجز کوونکي ته وېل کيږي او په اصطلاح کې د هغه ننګوونکي، خارق العادة کار او وینا څخه عبارت ده چې الله تعالی يې د نبوت او رسالت د دعوا لرونکو د رښتینولۍ په قصد له دوی څخه صادروي چې نور انسانان ورڅخه عاجز وي.

### د تعریف شرح

معجزه داسې کار او وینا ته ویل کیږي چې د نبوت او رسالت له دعوا لرونکو څخه صادریږي او لاندې شرطونه لري:

۱. معجزه به ننګوونکې وي او مقابل لوری يې باید د ترسره کولو څخه عاجز وي، که چېرې ننګونه ونه لري معجزه نه بلل کیږي.

۲. د رسالت او یا نبوت د دعوا د رښتینولۍ په خاطر يې ښکاره کوي که څوک که خارق العادة کار تر سره کوي مګر د نبوت یا رسالت دعوا ونه لري معجزه نه بلل کیږي.

۳. خارق العاده کار به له دعوا سره برابر وي.

٤. مقابل لوری به د دغه خارق العاده کار له سر ته رسولو څخه عاجز وي. که چېرې مقابل لوری هم د داسې خارق العاده کار په تر سره کولو قادر وي، معجزه نه بلل کیږي.

### د معجزې ډولونه

د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام معجزې په دوه ډوله دي:

۱. محسوسې معجزې.

۲. غیر محسوسې معجزې.

لومړی محسوسې معجزې: له هغه ډول معجزو څخه عبارت دي چې انسانان يې په پنځه ګونو حواسو سره درک کوي، لکه د صالح عليه السلام په دعاء سره له غره څخه د بلاربې اوښې را ایستل، د عیسی عليه السلام په دعاء سره د مور زادي ړوند او د برص (برګي) مریض

روغېدل، د موسى عليه السلام امسا په مار باندې بدلېدل او د نيل بحر دوه ځايه کېدل، د پيغمبرﷺ اسراء او معراج، د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل، د پيغمبرﷺ له مبارکو ګوتو څخه د اوبو بهېدل او داسې نور.

**دويم** غير محسوسې معجزې: دا هغه معجزې دي چې د عقل په وسيله درک کېږي، لکه د راتلونکو غائبو واقعاتو او حوادثو په اړه معلومات ورکول او پر محمدﷺ نازل شوی کتاب (قرآن کريم) چې د محمدﷺ تر ټولو ستره معجزه ده.

## د معجزې حکم

د پيغمبرانو عليهم السلام پر معجزاتو ايمان درلودل فرض دي، ځکه چې د هر پيغمبر معجزه په حقيقت کې د الله تعالى وحې ده چې د پيغمبر ريښتينولي ثابتوي لکه څرنګه چې پر پيغمبر ايمان درلودل فرض دي، همدا راز د هغوى پر معجزو هم ايمان درلودل فرض دي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د معجزې په اړه يو له بل سره بحث وکړي.

## ۲- کرامت

## د کرامت تعريف

کرامت په لغت کې عزت او درناوي ته وايي، الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ [الإسراء: ۷۰]

**ژباړه:** بې شکه د آدم اولاد ته مې عزت ورکړی دی.

او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې له ولي(ايمان لرونکي او پرهېزګار بنده) څخه صادرېږي.[۱]

## د تعريف شرح

عادتاً د ناشوني کار صادرېدل که له داسې شخص څخه سرته ورسېږي چې عقيده او عمل يې د اسلام په تله برابر وي کرامت بلل کېږي او که د شخص عقيده يا عمل له اسلام سره برابر نه وي نو د ده خارق العاده کار کرامت نه دی بلکې استدراج ګڼل کېږي.

## دکرامت د اثبات دليل

د اولياووکرامت په زياتو دلايلو ثابت دی، لکه چې الله تعالى د مريم عليها السلام په هکله فرمايلي دي: ﴿كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ﴾ [آل عمران: ۳۷]

۱ـ التعريفات – (۱ / ۲۳۵)، إتحاف السائل بما في الطحاوية من مسائل – (۳۰ / ۲۱)

**ژباړه**: هرکله به چې زکریا عليه السلام د هغې عبادت خانې ته ورننوتلو له هغې سره به يې د خوراک او څښاک څه ميندل، پوښتنه به يې ترينه کوله اې مريم! دا تا ته له کومه راځي؟ هغې به ځواب ورکاوه د الله تعالی له لوري (راغلي) دي.

او لکه د اصحاب کهف قصه چې په قرآن کريم کې ذکر شوې ده، د أصحاب کهف په کرامت دلالت کوي.

همدا رنګه د صحابه وو په دورکې له بې شميره صحابه وو څخه ډول ډول کرامتونه صادر شوي دي چې تفصيل يې د حديثو او تاريخ په کتابونو کې بيان شوی دی.

**فعاليت**: زده کوونکي دې د اصحاب کهف د قصې يوه يوه برخه په نوبت سره بيان کړي.

## د کرامت حکم

د اولياوو کرامت (د هغوی د تاييد، مرستې او د دين د اوچتوالي په خاطر) حق او ثابت دی، خو کرامت د ولي په اختيار کې نه وي، نو دا ضروري نه ده چې له هر ولي څخه دې کرامت صادر شي ځکه چې کرامت د الله تعالی په ارادې او خوښی پورې تړاو لري.
په کرامت باندې کوم نوی شرعي او ديني حکم نه ثابتيږي.

### پوښتنې:

۱. معجزه او کرامت تعريف کړئ.
۲. د معجزې ډولونه بيان کړئ.
۳. د معجزې حکم بيان کړئ.
۱) ولي چاته ويل کيږي؟
۲) دکرامت د اثبات دليل وواياست.
٤. الله تعالی کرامت د څه لپاره له ولي څخه صادروي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د معجزې په اړه يوه مقاله وليکي او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ځينو معجزو نمونه دې واخلي.

# استدراج او سحر

## ۱- استدراج

### د استدراج تعریف

استدراج په لغت کې قدم په قدم پورته ختلو ته وايي.

او په اصطلاح کې هر هغه خارق العاده کار چې له کافر يا فاسق شخص څخه صادرېږي استدراج بلل کېږي.

### د تعریف شرح

که چیرې کوم خارق العاده کار د کافر، فاسق،کاهن، نجومي، ساحر او يا کوډګر شخص څخه صادر شي استدراج ورته ويل کېږي.

هر څومره چې د دوی سرکشي زياتيږي په هماغه اندازه ورته الله تعالی خپل نعمتونه پراخوي تر څو قدم په قدم د هلاکت لوري ته نيږدې او د الله تعالی تر حجت لاندې راشي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ۱۸۲].

**ژباړه:** او هغه کسان چې زموږ آيتونه يې دروغ ګڼلي دي، نو هغوی به موږ په داسې تدريجي ډول هلاک کړو چې هغوی به خبر هم نه وي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د کرامت او استدراج تر منځ پر توپير يو له بل سره بحث وکړي.

## ۲- سحر

### د سحر تعریف

سحر په لغت کې دوکې، باريکی، د يوشي شکل بدلولو او هغه کارته وايي چې ظاهري سبب ونه لري.

او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې د شيطانانو په مرسته د ناوړه او خبيثو نفسونو له خوا ترسره کيږي.

### د تعريف شرحه

سحر په عربي لغت کې دوکې او هغه نازکه کړنې ته وايي چې ظاهري سبب يې په سترګو نه ښکاري.

او په اصطلاح کې هغه نا اشنا کار ته ویل کیږي چې د دین څخه لرې او د بد عمله اشخاصو له خوا د کفري الفاظو په ویلو او د شیطانانو په ملتیا ترې صادریږي چې د ښوونې او زده کړې له لارې ورته لاس رسی پیدا کوي.
که چیرې څوك داسې نا اشنا او خارق العاده کار ترسره کړي چې په هغه کې د لاسونو او حرکاتو چالاکي او یا د خاصو دواګانو استعمال رول ولري حقیقي سحر نه بلل کیږي.

### د سحر حقیقت

د سحر حقیقت په قرآن کریم او نبوي احادیثو او د امت په اجماع سره ثابت دی چې واقعیت لري.

الله جَلَّ جَلَالُهُ د موسی عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې د موجودو ساحرانو په باره کې فرمايي: ﴿قَالَ أَلْقُوا فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ﴾[الأعراف: ١١٦]

**ژباړه:** موسی عَلَيْهِ السَّلَام ورته وویل: تاسې یې وغورځوئ کله چې هغوی (پړي او همساګانې) واچولې او (په خپلو منترونو ویلو سره یې) د خلکو سترګې مسحورې کړې او په ویره کې یې واچول او ډیر غټ سحر یې وکړ.

په حدیث شریف کې راځي یوکس چې لبید بن اعصم نومیده پر پیغمبر ﷺ یې سحر کړی و او د ټول اسلامي امت په دې اجماع ده چې سحر حقیقت لري.

### د سحر زده کړه

د سحر ښوونه او زده کړه حرام کار دی او که سحر په کفري عقیده بنا وي نوبیا یې زده کړه کفر او زده کوونکی یې واجب القتل دی.

### د سحر او معجزې تر منځ توپیر

د سحر او معجزې تر منځ ډیر توپیرونه شته چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

١. سحر له شریرو او پلیتو نفسونو څخه صادریږي مګر معجزه د پاکو، عزتمندو او الله جَلَّ جَلَالُهُ ته له ډیرو نږدې نفسونو څخه صادریږي.
٢. معجزه په ننګونې بناء وي، مګر په سحر کې ننګونه نه وي.
٣. د سحر په سر ته رسولو کې د ناروا اعمالو انجامول او له شیطانانو څخه په کې مرسته غوښتل کیږي او معجزه یوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په مرسته او ارادې صورت مومي.

٤. سحر د ښوونې او زده کړې له لارې ممکن وي، مګر په معجزه کې پیغمبر یواځې له الله ﷻ څخه د هغې د تر سره کولو غوښتنه کوي.
٥. معجزه د شي حقیقت بدلوي، مګر سحر یواځې د شی ظاهري شکل بدلوي.
٦. په معجزې سره د پیغمبر رښتینولي ثابتیږي، مګر سحر لویه ګناه او د خلکو د ګمراه کولو او په ځمکه کې له فساد خپرولو څخه پرته بله هیڅ ګټه نلري.
٧. سحرپه خاصو شرطونو، ځایونو او وختونو پورې تړلی وي، مګر معجزه په هیڅ شرط او کوم معین ځای او وخت پورې مربوطه نه وي.
٨. د سحر معارضه او مقابله کیدای شي، مګر د معجزې مقابله محاله ده.[1]

**فعالیت:** د لوست په رڼاکې د ساحر او نجومي تر منځ څه توپیر معلومیږي؟

## پوښتنې:

١. استدراج او سحر تعریف کړئ.
٢. د استدراج او سحر د اثبات دلایل بیان کړئ.
٣. د سحر زده کړه څه حکم لري؟
٤. د معجزې او سحر تر منځ توپیر واضح کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د استدراج او سحر او د دوی د اثر په اړه یوه مقاله ولیکي چې له پنځو کرښو کمه نه وي.

١_ جامع العلوم في اصطلاحات الفنون - (٢ / ١٢٠)، مذكرة التوحيد - (١ / ٦١)

# قضاء او قدر

د ایمان له ارکانو څخه یو رکن په قضاء او قدر باندې عقیده درلودل دي.

په قضاء او قدر ایمان درلودل هغه موضوع ده چې د مسلمان په عقیده، کړنو، افعالو او د ژوندانه په ښو او بدو حالاتو ژوره اغېزه لري.

## د قضاء او قدر تعریف

اـ قضاء: په عربي ژبه کې فیصلې، پوره کولو او حتمي والي ته ویل کیږي.

ب ـ قدر: په عربي ژبه کې حکم، فیصلې او اندازې ته ویل کیږي.

او په اصطلاح کې قضاء او قدر له هغه تقدیر او اندازې څخه عبارت دي چې الله ﷻ د خپل علم په بناء د کائناتو لپاره ټاکلي دي په هغه توګه چې دهغه دحکمت غوښتنه وه.

## د تعریف شرح

د قضاء او قدر[1] پر موضوع د ښه پوهیدلو په خاطر د څلورو خبرو پیژندل ډېر اړین دي چې په لاندې توګه بیانیږي:

**۱ـ د الله ﷻ ازلي علم:** په دې خبره ایمان درلودل چې الله ﷻ د هرشي په اجمالي او تفصیلي، ماضي او مستقبل پر ټولو حالاتو عالم او پوه دی، لکه څرنګه چې په خپلو کړنو پوره عالم دی، د خپلو بندګانو په کړنو او افعالو هم پوره علم لري. په تیرو او راتلونکو ټولو واقع کیدونکو حوادثو اوتغیراتو داسې علم لري چې هیڅ شی یې له علم څخه پټ ندی.

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿عَالِمِ الْغَيْبِ لا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلا فِي الأَرْضِ وَلا أَصْغَرُ مِنْ ذَلِكَ وَلا أَكْبَرُ إِلا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ [السبأ: ۳]

**ژباړه:** هغه (الله ﷻ)په ټولو پټو پوه دی له هغه نه دیو بخري په اندازه کوم شی نه په آسمانونو کې پټ دی اونه په ځمکه کې نه له بخري څخه غټ او نه له بخري کوچنی، مګر هرڅه په یو څرګند دفتر کې درج دي.

---

۱ ـ د قضاء او قدر لفظونه په عربي ژبه کې د مختلفو معناګانو لپاره استعمال شوي دي مګر د عقایدو په علم کې دواړه هغه مترادف لفظونه دي چې له یو مقصد څخه پرې تعبیر شوی دی.

الله ﷻ د مخلوقاتو له پیدایښت څخه لا ډېر مخکې په دې پوره عالم و چې مخلوقات څرنګه اوکله یې پیداکړي او هم د مخلوقاتو د ارزاقو، عملونو، لویو او وړو حرکتونو خوځښتونو او د هغوی پر اجلونو پوره عالم دی.

**۲ـ په لوح محفوظ کې هر څه لیکل شوي دي:** په دې هم ایمان لرل فرض دي چې الله ﷻ ټول هغه څه چې د مخلوقاتو په اړه ورته معلوم وو په لوح محفوظ کې لیکلي دي او د مخلوقاتو ټول هغه تقدیرونه یې کښلي چې دوی ته پیښیدونکي دي او یایې دوی انجاموونکي وي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ﴾.[القمر: ۵۲ ، ۵۳]

**ژباړه:** او هر څه چې دوی یې کوي په لوح محفوظ کې لیکل شوي دي او هره کوچنی او لویه خبره لیکل شوي ده.[۱]

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلاَئِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ...»[۲]

**ژباړه:** الله تعالی دمخلوقاتو تقدیرونه د آسمانونو او ځمکو له پیدایښت څخه پنځوس زره کاله مخکې لیکلي دي.

**۳ـد الله ﷻ خوښه او مشیئت:** په دې ایمان لرل فرض دي چې هیڅ څیز د الله ﷻ د خوښې،ارادې او مشیئت څخه پرته له عدم څخه وجود ته نشي را تلای، نو څه چې الله ﷻ وغواړي هغه کیږي او څه چې ونه غواړي، نه کیږي.

الله ﷻ فرمایي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾ [القصص: ٦٨]

**ژباړه:** ستا رب پیدا کوي هر څه چې وغواړي او(هغه په خپله دخپل کار لپاره چاته یې چې خوښه شي) غوره کوي یې.

همدا راز فرمایي: ﴿وَمَا تَشَاءُونَ إِلا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ [التکویر: ۲۹]

**ژباړه:** اوستاسې په غوښتنه هیڅ نه کیږي ترڅو پورې چې د الله (رب العالمین) خوښه نه وي.

---

۱ـ تفسیر القرطبي – (۱۷ / ۱۴۹)

۲ – صحیح مسلم

**٤ـ د الله جَلَّ جَلَالُهُ تخليق:** سره له دې چې هېڅ كار د الله تعالى له ارادې پرته نه شي كېداى او هر شى د الله تعالى تر ارادې پورې تعلق لري، خو بيا هم انسان ته اختيار وركړل شوى دى، څوك چې ښه كار تر سره كوي په خپله اراده او خوښه يې تر سره كوي او څوك چې بد كار تر سره كوي په خپله اراده او خوښه يې تر سره كوي او الله تعالى له قديم څخه د ښه يا بد كار په كولو عالم و، د الله تعالى دا علم په خلكو باندې د ښو يا بدو كارونو په ترسره كولو كې د اجبار معنى نه لري، بلكې دوى خپل كارونه په خپله خوښه او رغبت سره تر سره كوي، پدې اړه الله تعالى فرمايي: ﴿ فَمَن شَاء فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاء فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ﴾ [الكهف: ٢٩].

**ژباړه:** اوس كه د چا زړه غواړي ودې مني او كه د چا زړه غواړي منكر دې شي موږ د (انكار كوونكو) ظالمانو له پاره داسې يو اور تيار كړى دى چې د هغه پردو هغوى ايسار كړيدي.

## په قضاء او قدر د اثبات دليل

د قضاء او قدر موضوع په بې شمېره آيتونو او احاديثو سره ثابته ده:

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾ [القمر: ٤٩]

**ژباړه:** موږ هر څه په اندازه او تقدير سره پيدا كړي دي.

په بل آيت كې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ [الفرقان: ٢]

**ژباړه:** او (الله) هغه ذات دى چې ټول شيان يې پيدا كړي دي او ورته يې اندازه ټاكلې ده.

همدارنګه الله تعالى فرمايي: ﴿لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا﴾ [الأنفال: ٤٢]

**ژباړه:** د دې لپاره چې فيصله كړي الله تعالى هغه كار چې كېدونكى و.

په حديث شريف كې راځي: «وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»(١)

**ژباړه:** جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ پيغمبر ﷺ ته وويل: او دا چې ته ايمان ولرې د خير او شر په تقدير باندې.

په بل حديث شريف كې راځي: «لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ وَأَنَّ مَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ»(٢)

---

١ – صحيح مسلم – (١ / ٢٨)

٢ – رواه الترمذي

**ژباړه:** هېڅکله يو بنده د ايمان خاوند کېدای نه شي تر څو چې د تقدير په خير او شر ايمان ونه لري او تر څو چې په دې ايمان ونه لري هغه څه چې ده ته رسېدونکي دي هېڅکله نه خطا کيږي او هغه څه چې ده ته رسيدونکي نه دي هېڅکله نه ورته رسيږي.

## په قضاء او قدر باندې د ايمان درلودلو حکم

په قضاء او قدر ايمان درلودل فرض دي.

### پوښتنې

۱. قضاء او قدر تعريف کړئ.
۲. د قضاء او قدر د اثبات دلايل ووايئ.
۳. په قضاء او قدر باندې د ايمان حکم واضح کړئ.
٤. که څوك له قضاء او قدر څخه منکر شي څه حکم لري؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قضاء او قدر په اړه يوه مقاله وليکي چې له پنځو کرښو کمه نه وي.

# د برزخ حالات

هر انسان له وفات څخه وروسته د ژوند دوه مرحلې لري يوه له مرګه وروسته د قيامت تر ورځې پورې، چې دې مرحلې ته د برزخ ژوند وايي او دويمه له قيامت څخه وروسته د اوږد او ابدي ژوند مرحله ده، په دې لوست کې به د برزخ د حالاتو په هکله معلومات لاس ته راوړو.

## ۱. د برزخ تعريف

برزخ په لغت کې پردې او حائل ته وايي او د عقايدو د علم په اصطلاح کې د دنيوي او اخروي ژوند تر منځ (له مرګه وروسته تر بيا ژوندي کېدو پورې) مرحلې ته برزخ ويل کېږي.

## د تعريف شرح

له نبوي احاديثو څخه دا جوتيږي: انسان چې کله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي هغه ګړۍ بېرته ژوندی شي که نېکو کاره مؤمن وي، د خوښۍ د حالاتو احساس کوي او په قبر کې هم په ډول ډول نعمتونو سره نازول کېږي او که بد کرداره او کافر وي د غم او خواشينۍ احساس کوي او په قبر کې په ډول ډول عذابونو سره سزا ورکول کېږي، چې د قبر همدې حالاتو ته برزخ ويل کېږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د برزخ د لغوي او اصطلاحي تعريفونو تر منځ اړيکه ووايِي.

## د برزخ د اثبات دليل

د برزخ پړاو د قرآن کريم په مبارکو آيتونو او د نبي کريمﷺ په مبارکو احاديثو باندې ثابت دی.

الله تعالی د المؤمنون په سورت کې فرمايلي دي:﴿وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾[المؤمنون: ۱۰۰]

**ژباړه**: او د دوی په مخ کې د برزخ (قبر) پرده ده (چې دوی نه پرېږدي دنيا ته رجوع وکړي) تر هغې ورځې پورې چې په قيامت کې را پاڅول کيږي.

۲. نَكِيْر او مُنْكَرْ

**د نَكِير او مُنْكَرْ پېژندنه**

نکير او منکر د الله تعالی دوه ملکې دي، چې الله تعالی له مړو څخه په قبر کې په پوښتنو کولو ګمارلي دي، د نبي کريمﷺ د حديث له مخې يې رنګونه تور او سترګې يې شنې دي.

## له مړي څخه په قبر کې پوښتني کول

کله چې مړی په قبر کې ښخ کړل شي او خلک ورڅخه بېرته را وګرځي نو ده ته نوموړي دوې ملکې راځي(مکلف مړی د الله تعالی په امر سره په يو خاص ژوند را ژوندی کيږي، خپل عقل او پوهه يې بېرته ورته را ګرځي) او له ده څخه د رب، دين او نبي په هکله پوښتنې کوي، که چېرې مړي د دغو پوښتنو صحيح ځواب ورکړ او بريالی شو نو د الله تعالی له خوا ورته نعمتونه ورکول کيږي او وروستي پړاوونه پرې آسانيږي او که ناکام شو نو عذاب ورکول کيږي او وروستي پړاوونه يې هم سختيږي.

## په قبر کې د پوښتنو کولو د اثبات دليل

په قبر کې له مړي څخه د نکير او منکر سوال کول په قرآن کريم او د نبي کريمﷺ په مبارکو احاديثو سره ثابت دی.

**قرآن کريم:** الله تعالی پدې اړه په قرآن کريم کې فرمايلي دي: ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ [إبراهيم: ۲۷]

**ژباړه:** الله تعالی به مؤمنان په نړدې ژوند او په آخرت کې په ثابته وينا (د توحيد په کلمه) کلک او ثابت قدمه کړي. نبي کريمﷺ څرګنده کړې ده چې دلته له آخرت څخه مراد قبر دی، ځکه قبر د آخرت له منازلو څخه لومړی منزل دی.

**حديث شريف:** حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: «إِذَا أُقْبِرَالْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ فَيَقُولَانِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ نَمْ فَيَقُولُ أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ فَيَقُولَانِ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ فَقُلْتُ مِثْلَهُ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ الْتَئِمِي عَلَيْهِ

فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ»[١]

**ژباړه:** کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي نو دوې ملکې ورته راشي، چې توري څېرې او شنې سترګې لري، يوې ته نکير او بلې ته منکر ويل کېږي، هغوی به پوښتنه وکړي: آيا تا ددې سړي نبی کريمﷺ په شان کې څه ويل؟ نو هغه به ځواب ورکړي، دا د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی. زه شاهدي وايم چې له الله تعالی نه پرته بل بر حق معبود نشته او شاهدي وايم په دې چې محمدﷺ د هغه بنده او د هغه رسول دی. نو پرښتې به ووايي موږ پوهېدو چې ته به همدا وايې. له هغه وروسته به د هغه قبر اويا ګزه په اويا ګزو کې پراخه او ورته رڼا کړای شي، بيا به ورته ووايي چې ويده شه، نو دی به ووايي زه ځم خپلې کورنۍ ته چې د خپل حال زېرى ورکړم نو پرښتې به ورته ووايي: ته د هغې ناوې غوندې ويده شه چې د خپلې کورنۍ د ډېر ګران فرد نه پرته بل څوک يې نه ويښوي. (د دغه مړي به همدغسې حالت وي) تر هغه وخته چې الله تعالی يې له دغه آرامځې څخه پاڅوي. او که دا مړی منافق وي نو په ځواب کې به وايي چې له خلکو مې اورېدل چې هغوی ويل ما هم همغسې ويل. نه پوهېدم چې څوک دی، نو پرښتې به وايي موږ پوهېدو چې ته به همداسې وايې. بيا به ځمکې ته وويل شي پر ده باندې را تنګه او راجوخته شه. نو داسې به پرې راتنګه شي چې د ده پښتۍ به سره تېرې ببرې شي، په همدې عذاب کې به تر هغې پورې اخته وي چې الله تعالی يې له دغه استوګنځي نه را پاڅوي.

### ۳. د قبر نعمتونه او عذاب

### د قبر پېژندنه

سره له دې چې قبر په مشهوره اصطلاح کې د ځمکې هغې برخې ته ويل کېږي چې مړی پکې ښخ شوی وي، خو د نعمتونو او عذابونو د اثبات په بحث کې قبر له مرګ څخه وروسته د مړي شتون ځای ته ويل کېږي، که هغه قبر وي او که بل ځای وي، لکه چې څوک په اوبو کې مړ شي او اوبه يې يوسي او يا څوک له مرګه وروسته ځناور وخوري، ياېې څوک وسوځوي او داسې نور.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ﴾ [الحج: ٧] **ژباړه:** او الله تعالی د قبرونو والا خامخا راپاڅوي.

---

١ - رواه الترمذي.

په دې آیت کې له قبرونو څخه عامه معنا مراد ده، په دې توګه چې الله تعالی مړي هرو مرو راپاڅوي که هغه په ځمکه کې ښخ وي که سوځېدلي وي او که ځناورو خوړلي وي.

## د قبر د نعمتونو او عذابونو د اثبات دلیل

د قبر نعمتونه د قرآن کریم په مبارکو آیتونو او د نبي کریمﷺ په مبارکو احادیثو باندې ثابت شوي دي.

۱ـ الله تعالی په قرآن کریم کې د قبر د نعمتونو په اړه فرمایلي دي: ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ [إبراهيم: ٢٧]

**ژباړه:** الله تعالی به مؤمنان په نړدې ژوند او په آخرت کې په ثابته وینا کلك او ثابت قدمه کړي.

۲ـ نبي کریمﷺ د قبر په اړه فرمایلي دي: «اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ»[1]

**ژباړه:** په یقیني توګه قبر یا د جنت له باغچو څخه یوه باغچه ده او یا د دوزخ له کندو څخه یوه کنده ده.

۳ـ نبي کریمﷺ په دوو قبرونو تیرېده، نو ویې فرمایل: «إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ»[2]

**ژباړه:** دغه دواړه (مړي) په عذاب کې دي د داسې لویې ګناه له امله ورته عذاب نه ورکول کیږي یوه به د خپلو تشو متیازو (له څاڅکو) څخه ځان نه ساته او بل به چغلي کوله.

## په برزخ، نکیر او منکر او د قبر په نعمتونو او عذاب د ایمان حکم

په برزخ او ټولو هغو شیانو چې په برزخ کې واقع کیږي او نبي کریمﷺ موږ پرې خبر کړي یو لکه په قبر کې د نکیر او منکر پوښتنې کول، د قبر عذاب او نعمتونه په دې ټولو ایمان راوړل فرض دي.

---

۱ – رواه الترمذي.

۲ – صحیح البخاري ت – (۱ / ۲۲۹)

## پوښتنې:

۱. برزخ تعریف کړئ.
۲. د برزخ د اثبات لپاره دلائل ذکر کړئ.
۳. په قبر کې د پوښتنو کوونکو ملائکو نومونه څه دي؟
٤. له مړي څخه په قبر کې ملائکې د څه شي پوښتنې کوي؟
٥. د قبر د سوال په هکله یو نقلي دلیل بیان کړئ.
٦. قبر تعریف کړئ.
۷. د قبر د نعمتونو په هکله یو نقلي دلیل ووایئ.
۸. د قبر د عذاب په هکله یو نقلي دلیل ووایئ.
۹. په پورتنیو موضوعاتو د ایمان حکم بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د برزخ د حالاتو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

# بعث او حشر

مسلمانان ټول په دې کلک ایمان لري کوم غیبي حالات چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کریم کې او پیغمبر ﷺ په احادیثو کې بیان کړي، حق دي لکه: بعث، حشر، د اعمالو تلل، جنت، دوزخ او داسې نور.

۱. **بعث**

**د بعث تعریف:** په لغت کې لیږلو، راپاڅولو او ژوندي کولو ته وایي: او د عقایدو د علم په اصطلاح کې جسدونو ته د ارواحو بیرته راګرځولو او له قبرونو څخه د انسانانو راپاڅولو ته بعث ویل کیږي.

## د تعریف شرح

بعث، نشور او معاد مترادف الفاظ دي چې د یو حالت لپاره په قرآن کریم کې ذکر شوي او هغه پس له مرګه د مړو را ژوندي کېدل دي، ټول مړي به د الله جَلَّ جَلَالُهُ په امر له قبرونو څخه راولاړیږي او ارواح به یې له خپلو جسدونو سره بیا یو ځای کیږي چې له دغه حالت څخه په قرآن کریم او احادیثو کې کله د بعث، کله د نشر او نشور او کله هم ورڅخه د نشأة ثانية (دویم ځل ژوندون) په لفظ تعبیر شوی دی.

## د بعث د اثبات دلیل

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ﴾ [المؤمنون: ١٦]

**ژباړه:** بیا به تاسې د قیامت په ورځ کې راپاڅولی شئ.

په بل آیت کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ﴾ [الحج: ٧]

**ژباړه:** او بېشکه الله جَلَّ جَلَالُهُ راپاڅوي هغه خلک چې په قبرونو کې دي.

## په بعث ایمان درلودل

په بعث ایمان درلودل د ایمان اساسي رکن دی نو له مرګ څخه وروسته په بیا ژوندي کیدو ایمان درلودل فرض دي، هر څوک چې له بعث څخه منکر وي کافر دی.

## ۲. حشر

**د حشر تعریف:** حشر په لغت کې د قیامت په ورځ د فیصلې او حساب لپاره د انسانانو راټولېدلو ته ویل کیږي.

## د تعریف شرح

د قیامت په ورځ د انسانانو موقف او د محشر میدان ته راټولولو او راجمع کولو ته حشر ویل کیږي، انسانان به ټول د محشر په میدان کې د دې لپاره راجمع کیږي تر څو له دوی سره د دوی د اعمالو حساب وشي د هر چا نیکي او بدي و تلل شي او د بدانو او نیکانو خپلې خپلې عملنامې په ښي یا چپ لاس کې ورکړل شي.

د دوی ترمنځ به دا فیصله او پریکړه وشي چې څوک د جنت مستحق دي او څوک د جهنم چې دې ته لوی حشر هم ویل کیږي.

## د حشر د اثبات دلیل

د قیامت په ورځ حشر په بې شمیره دلایلو ثابت دی.

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ [البقرة: ۲۰۳]

**ژباړه:** او ښه پوه شئ بیشکه تاسې به د الله جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته راټولیږئ.

په بل آیت کې فرمايي: ﴿وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ [المؤمنون: ۷۹]

**ژباړه:** او الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ذات دی چې تاسې یې په ځمکه کې خواره واره پیدا کړي یاستئ بیا به همده ته راجمع کیږئ.

رسول الله ﷺ په خپل یو مبارک حدیث کې فرمايلي دي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا»[۱] **ژباړه:** اې، خلکو بېشکه تاسې به په داسې حال کې چې پښې به مو لوڅې وي، په بدن باندې به مو کالي نه وي، سنت شوي به نه یاست الله تعالی ته به راټولیږئ.

## حشر به د چا کیږي؟

د انسانانو، پیریانو او ټولو ژوندیو مخلوقاتو حشر به سر ته رسیږي، کله چې ځاروي او نور ژوي یو له بل څخه د خپلو ظلمونو غچ واخلي نو دوی به بیا مړه شي او یواځې انسانان به په محشر کې پاتې شي لکه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾ [التکویر: ۵]

**ژباړه:** او (یاد کړه هغه ورځ) کله چې وحشي ژوي راجمع کړل شي.

---

۱ - صحیح البخاري ت - (۱۱ / ۲۴۸)

په بل آیت کې فرمایي: ﴿وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ [الأنعام: ۳۸]

**ژباړه:** ندي په ځمکه کې خوځېدونکي ساکښان او په هوا کې په وزرونو سره الوتونکي مارغان مگر ستاسې په څېر انواع او ډولونه دي، موږ د هغو د تقدير په لیکنه کې څه نیمگړتیا نده پرېښې. بیا به دا ټول د خپل رب لوري ته راغونډېږي.

**حدیث:** په حدیث شریف کې راځي: د ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ دوه پسونه ولیدل چې یو بل یې په ښکرو ووهل. پیغمبر ﷺ و فرمایل: اې أبو ذره ته پوهیږې چې دوی ولې یو بل په ښکرو وهي؟ ما وویل نه پوهیږم. پیغمبر ﷺ وفرمایل: مگر الله ﷻ پوهیږي، چې ولې دوی یو بل په ښکرونو وهي او نیږدې ده چې د دوی تر منځ به فیصله وکړي.[1] په بل حدیث کې د هغه چا په حق کې راځي چې د خپلو څارویو څخه زکات نه ورکوي: اوښان به خپل مالکان د پښو لاندې کوي او وزې به خپل مالکان په پښو او ښکرو باندې وهي.[2] په بل روایت کې راځي: کله چې الله ﷻ وحشي حیوانات راټول کړي او دوی یو له بل څخه خپلې بدلې او غچ واخلي بیا به ورته الله تعالی امر وکړي چې خاوري شئ، هغوی به خاورې شي نو په دغه وخت کې به کافر د دې ارمان وکړي چې کاش زه هم خاورې شوی وای.[3]

پوښتنې

۱. بعث تعریف کړئ.
۲. حشر تعریف کړئ.
۳. د بعث او حشر د اثبات دلیلونه ووایئ.
٤. د بعث او حشر تر منځ توپیر واضح کړئ.
۵. الله تعالی به د قیامت په ورځ څوک حشر کوي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د بعث او حشر په اړه له قرآن کریم څخه نور دلایل ووایي چې په کتاب کې ندي ذکر شوي.

---

۱ – احمد .

۲ – متفق علیه .

۳ – تفسیر بحر العلوم د ابو اللیث السمرقندي. کتاب ۱/ ٤٦۷ تفسیر طبري.

# د پیغمبرﷺ شفاعت

آیا پوهیږئ چې شفاعت څه ته وايي؟ او شفاعت په څو ډوله دی؟ او پیغمبرﷺ به شفاعت څه وخت او د چا لپاره کوي؟

د دې لپاره چې په پورتنیو مطلبونو ښه پوه شو، لاندې لوست لولو.

## د شفاعت تعریف

شفاعت په لغت کې له چا څخه د بل چا لپاره د نېکۍ کولو او د جرم او خطا ښنلو غوښتلو ته وايي.

او د عقایدو د علم په اصطلاح کې له الله تعالی څخه د قیامت په ورځ غوښتنه ده، څو د یو چا له خطاوو څخه تېر شي او ښښنه ورته وکړي.[1]

## د شفاعت د اثبات دلیل

۱ـ الله ﷻ فرمايي: ﴿عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا﴾ [الإسراء: ۷۹]

**ژباړه:** نژدې ده چې ستا رب (څښتن) به تا ستایل شوي ځای ته ورسوي.

حضرت عبدالله بن مسعود، حذیفة بن الیمان، عبدالله بن عمر، سلمان فارسي او جابر بن عبدالله رضی الله عنهم ویلي دي چې له ((مقام محمود)) څخه د پیغمبرﷺ کبری شفاعت مراد دی.[2]

۲ـ د پیغمبرﷺ د شفاعت په باره کې دومره زیات احادیث راغلي چې د تواتر اندازې ته رسیږي، لکه چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ»[3].

ژباړه: زه به د قیامت په ورځ د آدمعليه السلام په اولاده کې سردار یم او زه به لومړی هغه څوک یم چې له قبر څخه راپاڅیږي او زه به لومړی هغه څوک یم چې شفاعت به کوم او لومړی هغه څوک به یم چې شفاعت یې قبلیږي.

---

[1] - په دې ځای کې له شفاعت څخه مرا د زموږ د خوږ پیغمبر حضرت محمدﷺ شفاعت مراد دی چې د قیامت په ورځ به یې د ټولو خلکو لپاره په عامه توګه کوي.

[2] - تفسیر زاد المسیر للامام ابن الجوزی رح- (۵ / ۷۶) و تفسیر النکت والعیون للامام الماوردي البصري (۳ / ۲۶۵)

[3] - صحیح مسلم - ۷ / ۵۹

## د پیغمبرﷺ د شفاعت ډولونه

### ۱. کبری شفاعت

کله چې ټول انسانان د محشر په میدان کې د خپلو اعمالو د حساب لپاره راټول شي او په دې انتظار کې وي چې کله به الله تعالی له دوی سره د اعمالو محاسبه پیلوي، نو انسانان به د پیغمبرﷺ حضور ته راشي او ورڅخه به وغواړي څو له الله تعالی څخه غوښتنه وکړي چې له دوی سره محاسبه پیل کړي، بیا به پیغمبرﷺ الله تعالی ته په سجده پرېوزي او الله تعالی ته به دومره عذر او زارۍ وکړي چې الله تعالی به ووایي: اې محمده! سر را پورته کړه هر څه چې غواړې درته به درکړل شي اوشفاعت به دې قبول شي.(۱) پیغمبرﷺ به الله تعالی ته له انسانانو سره د حساب کولو شفاعت وکړي او الله تعالی به یې قبول کړي.

**فعالیت:** آیا امتونه به له نورو پیغمبرانو څخه هم د شفاعت کولو غوښتنه کوي؟ په دې هکله مو څه اورېدلي، په نوبت سره یې بیان کړئ.

### ۲. صغری شفاعت

له صغری شفاعت څخه مراد د پیغمبرﷺ هغه شفاعت دی چې د نورو خلکو لپاره به یې په بېلا بېلو توګه کوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱. د ټولو مؤمنانو لپاره جنت ته د تللو په هکله شفاعت.
۲. د هغه چا لپاره شفاعت چې نیکۍ او بدۍ یې برابرې وي نو د دوی په هکله به شفاعت کوي تر څو جنت ته داخل کړل شي.
۳. د خپل امت د ګناهکارو لپاره شفاعت تر څو الله تعالی یې ګناهونه وروبښي او له دوزخ څخه یې راوباسي او جنت ته یې داخل کړي.
٤. د نیکانو د درجو او مرتبو د لا اوچتولو لپاره د پیغمبرﷺ شفاعت.
٥. د پیغمبرﷺ شفاعت د ځینو خلکو لپاره تر څو بې له محاسبې جنت ته داخل شي.
٦. د عذاب د مستحقینو لپاره د عذاب د تخفیف لپاره شفاعت(۲)

---

۱ ـ صحیح مسلم: ۴۷۲
۲ ـ شرح العقیدة الطحاویة - (۱ / ۲۰۳)

## پوښتنې:

۱. شفاعت تعریف کړئ.

۲. د پیغمبرﷺ د شفاعت ډولونه ووایاست.

۳. د پیغمبرﷺ په شفاعت به کوم اشخاص له دوزخ څخه راوځي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د احادیثو کتابونو ته مراجعه وکړي او د پیغمبرﷺ د کبرى شفاعت قصه دې پوره ولیکي.

# د اعمالو تلل (وزن كول)

انسان په نړۍ كې بې هدفه نه دى پيدا شوى ، بلكې د ده كړه وړه ټول ليكل كېږي، دقيامت په ورځ به حساب ورسره كيږي، نيكي او بدي به يې تلل كېږي. د چا چې د نيكۍ تله درنده شوه، كامياب دى او د چا چې د نيكۍ تله سپكه شوه، ناكام دى.

د اعمالو وزن څه ته وايي؟ دليل يې څه دى؟ څنګه به ترسره كيږي؟ په دې لوست كې به د دې پوښتنو ځواب بيان شي.

**د اعمالو د وزن څرنګوالى**

د قيامت په ورځ، وروسته له دې چې انسانان ژوندي كړاى شي، د حضرت محمدﷺ په شفاعت به د الله تعالى غضب سوړ شي. عملنامې به نيكانو ته په ښي لاس او بدانو ته د شا له خوا په كيڼ لاس وركړل شي. حساب به پيل شي خلك به په خپلو اعمالو اعتراف وكړي او د مؤمنانو د اعمالو تلل به پيل شي. د چا چې د نيكۍ پله درنه شوه، هغه به جنت ته ځي او د چا چې د بدۍ پله درنه شوه، هغه به د الله تعالى مشيت ته سپارل كيږي، كه خوښه يې شي، نو جنت ته به يې ولېږي او كه خوښه يې شي د څه وخت لپاره به يې په دوزخ كې واچوي، د عمل د جزا له ليدلو وروسته به يې جنت ته داخل كړي.

**د اعمالو د تللو د اثبات دلايل:** د اعمالو تلل په قرآن كريم او سنتو ثابت دي.

د عملنامو او د حساب په هكله الله تعالى فرمايي: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۞فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۞وَيَنْقَلِبُ إِلَى اهلهِ مَسْرُورًا ۞ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ۞ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا۞ وَيَصْلَى سَعِيرًا﴾ [الإنشقاق: ۷ - ۱۲]

**ژباړه:** نو هغه څوك چې عملنامه يې په ښي لاس وركړل شي ، نو په اسانه توګه به حساب ورسره وشي او خپلې كورنۍ ته به خوشحاله ور وګرځي او هغه څوك چې عملنامه يې دشا له لوري وركړل شي ، هلاكت به ځان ته غواړي او اور ته به ور دننه شي.

په يو بل آيت كې الله تعالى د اعمالو د وزن په هكله فرمايي: ﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [الأعراف: ۸]

**ژباړه:** او په هغه ورځ د اعمالو تلل حق دي، د چا چې د (نيكۍ) پله درنه وي، هغوى به نجات ومومي.

له کافر سره د ده د اعمالو محاسبه شته، خو د اعمالو تلل يې نشته، ځکه چې د بلې پلې لپاره نيکي نه لري. الله تعالی په دې اړه فرمايي:﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ [الکهف: ۱۰۵]

**ژباړه:** دا هغه کسان دي چې د خپل رب (ښښتن) د آيتونو له منلو نه يې انکار کړی نو د دوی عملونه ضائع شوي نو د قيامت په ورځ به ورته تله نه ږدو.

**له عملنامې څخه د بديو د محوې لارې چارې**

که له يو چا څخه بد عمل صادر شي، نو په عملنامه کې يې ليکل کيږي. آيا داسې څه چارې شته چې دا بدي له عملنامې څخه محوه کړي؟

هو: نيکي بدي له منځه وړي. الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ (**هود ۱۱۴**)

**ژباړه:** بې شکه نيکي بدي له منځه وړي. ځينې هغه نيکي چې د بديو په محوه کولو کې مرسته کوي دا دي:

**۱ـ له بدو څخه وروسته نيکي کول:** رسول الله ﷺ ابوذر رضي الله عنه ته وفرمايل: «اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقْ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ»[(۱)]

**ژباړه:** هر چيرته چې يې له الله تعالی څخه وېرېږه. له بدی نه وروسته نيکي کوه چې بدي دې له منځه يوسي او د خلکو سره په ښو اخلاقو تعامل کوه.

**۲ـ له ګناه نه وروسته اودس کول، بيا دوه رکعته لمونځ او له الله ﷻ څخه ښښنه غوښتل**

رسول الله ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فَيَسْتَغْفِرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا غَفَرَ لَهُ»[(۲)]

**ژباړه:** څوک چې يوه ګناه وکړي بيا په ښه توګه اودس وکړي ورپسې دوه رکعته لمونځ وکړي او له خدای څخه ښښنه وغواړي الله ﷻ به ورته هرومرو ښښنه وکړي.

**۳ـ پر کړاوونو، ناروغيو او مصيبتونو باندې صبر کول:** رسول الله ﷺ فرمايي: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ»[(۳)]

**ژباړه:** مسلمان ته هيڅ ستوماني، ناروغي، تکليف، پريشاني، ضرر او غم نه رسيږي او آن ازغی يې په پښو کې نه ننوزي، مګر د ده ګناهونه پرې ښنل کيږي.

---

۱ـ مسند أحمد

۲ ـ مسند احمد

۳ – صحيح البخاري

**په تله کې د پام وړ درانه عملونه**

ټول نيک عملونه د پام وړ دي او بايد د کوچني ګڼلو له کبله ترک نه شي، خو د نبوي سنتو د هداياتو په رڼا کې ځينې اعمال د عمل په تله کې ډېر درووند والى راولي، چې په لاندې توګه دي:

**۱ـ ښه اخلاق:** رسول الله ﷺ فرمايي: «مَا شَيْءٌ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَيُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ»[۱]

**ژباړه:** د قيامت په ورځ د مؤمن د نيکى په پله کې له نيکو اخلاقو څخه درووند څيز نشته او الله ﷻ بد ويونکي ته د قهر په سترګه ګوري.

همدا راز نيک اخلاق د کامل مؤمن نښه ده. رسول الله ﷺ فرمايي: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا».[۲]

**ژباړه:** تر ټولو مؤمنانو د کامل ايمان خاوند هغه مؤمن دى چې تر ټولو يې اخلاق غوره وي.

**۲ـ ذکر:** د مسنونو اذکارو سرته رسول، لکه د (سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ) په کلماتو ذکر، ډېر اجر لري، رسول الله ﷺ په دې اړه فرمايي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»[۳]

**ژباړه:** دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې(اسانې) خو په تله کې درنې دي او الله ﷻ ته محبوبې دي دا د «سبحان الله وبحمده او سبحان الله العظيم» کلمې دي.

همدا راز د (الْحَمْدُ لِلَّهِ) په کلمې ذکر: رسول الله ﷺ فرمايي: «الْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلأُ الْمِيزَانَ»[۴]

**ژباړه:** الحمد لله تله ډکوي.

**پوښتنې:**

۱ـ د انسانانو عملونه څه وخت تلل کيږي؟

۲ـ د انسانانو د عملونو د تللو د اثبات دلايل ذکر کړئ.

۳ـ د ګناهونو د محوه کولو اسباب ذکر کړئ.

۴ـ کوم عملونه د تلې په درووندوالي کې ډېر رول لري؟

---

۱ – مسند الصحابة في الكتب الستة – (۳۸ / ۱۲۵)

۲ – سنن أبى داود– ن – (٤ / ۳٥٤)

۳ – متفق عليه

٤ – صحيح مسلم – (۱ / ۱٤۰)

# حوض

انسانانو ته د عملنامو له سپارلو، حساب او د مسلمانانو د عملونو له تول څخه وروسته به مسلمانان د رسول اللهﷺ له حوض څخه اوبه څښي، چې تنده به یې وربانديې ماتیږي.
حوض هم د هغو مغیباتو له جملې څخه دی چې ځان پوهول او ایمان راوړل وربانديې لازم دي.

## د حوض تعریف

حوض د اوبو د غونډېدلو ځای ته ویل کیږي او دلته له حوض څخه مراد هغه حوض دی چې الله تعالی یې خپل نبي محمدﷺ ته د حشر په میدان کې د ده د تکریم او عزت لپاره ورکوي، څو د ده امتیان ورڅخه اوبه وڅښي او خپله تنده وربانديې ماته کړي.

## د حوض د اثبات دلایل

هغه حوض چې الله تعالی یې خپل رسول، محمدﷺ ته په آخرت کې ورکوي په قرآن کریم او په صحیحو احادیثو ثابت دی:

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾

**ژباړه**: بې شکه مونږ تاته «کوثر» درکړی دی.

ډېرو علماوو له «کوثر» څخه په دې ځای کې د حوض معنا اخیستې ده.

د حوض اثبات په احادیثو کې هم شوی او په دې هکله روایت شوي احادیث متواتر دي.

د هغو راویانو شمېر چې په دې باب یې احادیث روایت کړي دي له پنځوسو تنو څخه هم زیاتیږي، نبي کریمﷺ په یو حدیث شریف کې فرمایلي دي: عَنْ أَبِى ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ قَالَ « وَالَّذِى نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا أَلاَ فِى اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ الْمُصْحِيَةِ آنِيَةُ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ يَشْخُبُ فِيهِ مِيزَابَانِ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ عَرْضُهُ مِثْلُ طُولِهِ مَا بَيْنَ عَمَّانَ إِلَى أَيْلَةَ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ »[١]

---

١ - رواه مسلم.

**ژباړه:** ابوذرﷺ فرمايي: ما له رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د حوض لوښي څومره دي؟ نبي کريمﷺ وفرمايل: د لوښو شمار يې د آسمان له ستورو څخه زيات دی، له هغو ستورو څخه چې په تپه تياره شپه کې چې آسمان شين(صفا) وي. هر څوک چې لـه دې حوض څخه اوبه وڅښي هېڅکله به تږی نه شـي. لـه جنت څخـه پکـې دوې نـاوې اوبـه تويېږي. هر څوک چې لدې حوض څخه اوبه وڅښي هېڅکله به تږی نه شي، پلنـوالی او اوږدوالی يې سره برابر دي او دومره فاصله لري لکه له عمان څخه تر ايله پورې (عمان او اَيلَه دوه ښارونه دي) اوبه يې له شيدو څخه زياتې سپينې او تر شاتو ډېرې خوږې دي.

په يو بل حديث شريف کې رسول کريمﷺ فرمايلي دي: «حَوْضِی مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ الْوَرِقِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلاَ يَظْمَأُ بَعْدَهُ أَبَدًا »[1] **ژباړه:** زما حوض د يوې مياشتې په اندازه فاصله لري. زاويې يې ټولې سـره برابرې دي. اوبه يې له سپينو زرو څخه ډېرې سپينې دي. بوی يې لـه مشـکو زيـات خـوږ دی. لوښي يې دومره زيات او داسې ځلېدونکي دي لکه د آسـمان سـتوري، هـر څـوک چې له دې حوض څخه اوبه وڅښي هېڅکله به تږی نه شي.

**پر حوض باندې د ايمان حکم**

په حوض باندې ايمان او يقين لازم دی. هغه څوک چې حـوض منـي، د ثـواب مسـتحق ګرځي او هغه څوک چې له حوض څخه منکر شي، بدعتي او فاسق دی.

**څوک له حوض څخه محروميږي؟**

امام بخاري (رحمه الله) له حضرت انسﷺ څخه روايـت کـوي چـې نبـي کـريمﷺ وفرمايـل: «لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِي الْحَوْضَ حَتَّى عَرَفْتُهُمْ اخْتُلِجُوا دُونِي فَأَقُولُ أَصْحَابِي فَيَقُولُ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ»[2]

**ژباړه:** خامخا به زما ځينې اصحاب زما خواته د حوض (غاړې ته) راشي، چې زه بـه يـې وپېژنم. بيا به له ما څخه وګرځول شي، نو زه به وايم دا زما ملګري دي، نو و به وايي: تـه نه پوهيږې چې دوی له تا وروسته څه چارې (په دين کې) راپيدا کړې وې.

---

۱ - رواه مسلم.

۲ - رواه البخاري.

همدارنګه په يو بل حديث شريف کې چې اسماء بنت ابوبکر صديق رضي الله تعالی عنهما روايت کړی، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «إِنِّي عَلَى الْحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ وَسَيُؤْخَذُ أُنَاسٌ دُونِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي. فَيُقَالُ أَمَا شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ وَاللَّهِ مَا بَرِحُوا بَعْدَكَ يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ»[۱]

**ژباړه**: زه به په حوض باندې يم او ګورم به چې له تاسو څخه څوک ماته راځي؟ او ز ما له مخې به ځينې خلک وګرځول شي، نو زه به وايم، اې الله! دا زما او زما له امت څخه دي، نو وبه ويل شي، آيا ته خبر نه يې په هغه څه چې دوی له تا څخه وروسته کول؟ زما دې په الله تعالی قسم وي چې دوی له تا څخه وروسته تل په خپلو پوندو باندې بېرته ګرځېدل.

نو هر هغه څوک چې د الله تعالی له دين څخه واوړي او يا په دين کې کوم نوی شی پيدا کړي ، هغه به د نبي کريمﷺ له حوض څخه وشړل شي او هېڅکله به له دې حوض څخه اوبه ونه څښي.

**پوښتني:**

۱. حوض تعريف کړئ.
۲. د حوض د اثبات دلايل ذکر کړئ.
۳. په حوض باندې د ايمان حکم بيان کړئ.
٤. څوک حوض ته نه پرېښودل کيږي؟

---

۱ ـ رواه مسلم

# د صراط پُل

کله چې د حشر په میدان کې له انسانانو سره حساب او کتاب وشي، ملائکې به د الله تعالی په امر سره د دوی د تېرېدلو لپاره د دوزخ په ملا باندې پُل کېږدي او دوی به پرې تېر یږي.

## د صراط تعریف

صراط د ژبې له مخې لویې لارې ته وایي او په اصطلاح کې: د هغه پُل څخه عبارت دی چې د ټولو خلکو لپاره به د قیامت په ورځ پر جهنم باندې اېښودل کېږي. نیکان به پرې تیریږي او بدان به ورڅخه په جهنم کې لویږي.

کله چې له انسانانو سره د محشر په میدان کې محاسبه وشي، نو وروسته به الله ﷻ ملایکو ته امر وکړي چې د جهنم په ملا باندې پل کېږدئ. بندګانو ته به حکم وشي چې د پل څخه تیر شي، پر پل تیریدل د بنده په عمل پورې اړه لري،که د چا عمل ښه (نېک) وي هغه به ورڅخه په ډېره اسانۍ تیریږي او که د چا عمل بد وي هغه به ورڅه په ډېره سختی تیریږي او یا به په جهنم کې لویږي.

## د صراط د پل د اثبات دلیل

د صراط پل او وربانديې تیریدل په قرآنکریم، نبوي احادیثو او د امت په اجماع سره ثابت دي.

**اـ قرآن کریم:** الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ [مريم: ٧١]

**ژباړه:** نشته هیڅوک له تاسې څخه مګر دا چې جهنم ته به وارديږي.

ځینو مفسرینو د ورود ترجمه په عبور کړې او ویلي يې دي چې ټول خلك به يو ځل د قيامت په ورځ د صراط په پل تېريږي.

**ب ـ حديث شريف:** پـه ګـڼـو احـاديثو کـې د صـراط د پـل يادونـه شـوې ده، لکـه چـې پيغمبرﷺ فرمـايي: ﴿وَيُضْرَبُ جِسْرُ جَهَنَّمَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ وَدُعَاءُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ﴾[١]

١ـ صحيح البخاري ت - (١٦ / ٤١٩). صحيح مسلم - (١ / ١١٢)

**ژباړه:** او بیا به پر جهنم پل وتړل شي. پیغمبرﷺ وفرمایل: نو زه به لومړی هغه څوك یم چې په پل به تیر شم او ټول پیغمبران به په دغه وخت کې دا دعاء لولي: اې الله سلامتي غواړو، اې الله سلامتي غواړو.

ج ـ د اهل سنت او جماعت ټولو علماوو په دې اجماع کړې چې د صراط پل حق دی.

### د صراط د پل صفت

په قرآن کریم کې د صراط د پل ذکر په اجمالي توګه شوی دی خو په احادیثوکې د صراط د پل په اړه پوره او کره معلومات ذکر شوي دي.

لنډیز یې دا دی چې هېڅوك هم په پله باندې د هغه د پلن والي او پوخوالي له کبله نه شي تېرېدای، بلکې څوك چې وربانديې تېرېږي هغه به د خپل نېك عمل او د الله تعالی دتوفیق له امله وربانديې تېرېږي.

### د صراط په پل د تیریدونکوحال

د صراط په پل تیریدونکي انسانان به د خپلو ښو او بدو عملونو په اعتبار سره په یو شان نه وي. څوك به پرې ډیر تیز د برېښنا په شان تیریږي. څوك به پرې دتیز باد په شان تیریږي. څوك به د ښه ځغلنده آس په شان پرې تیریږي. څوك به پرې په منډه تیریږي. څوك به پرې لږ تیز تیریږي. څوك به د عادي حالت په شان پرې تیریږي. خو ځیني نور بد عمله انسانان به د صراط په پله په چنګکونو کې ننبلي او سر کښته به يې په جهنم کې راغورځوي.

### د صراط په پل ایمان درلودل

موږ په دې کلك ایمان لرو چې د قیامت په ورځ به الله جل جلاله د دوزخ په منځ باندې د صراط پل ږدي او انسانان به پرې تیریږي او دا یوحقیقي پل دی چې الله جل جلاله ته يې پوره کیفیت معلوم دی.

**پوښتنې:**

۱. د صراط لغوي او اصطلاحي معنا ذکر کړئ.
۲. په قیامت کې به تر ټولو لومړی څوك د صراط پر پل تیریږي؟
۳. د صراط پل به په کوم ځای کې ایښودل کیږي؟
٤. د صراط پل به حقیقي وي او که مجازي؟

**پنځه ويشتم لوست**

# جنت

لکه چې ومو لوستل الله ﷻ به انسانان ژوندي را پاڅوي اوهر يو انسان ته به خپله عملنامه په لاس کې ورکړل شي. عملونه به يې وتلل شي. د چا د عملونو تله چې درنده شوه هغه به سرلوړی جنت ته ځي.

## د جنت تعريف

جنت په عربی ژبه کې هغه پراخه باغ ته ويل کيږي چې ځمکه يې په ډول ډول ونو پوښل شوې وي. په شرع کې د هغه ځای څخه عبارت دی چې الله ﷻ د مؤمنانو لپاره تيار کړی، په ډول ډول نعمتونو ښکلی شوی دی او مؤمنان به د تل لپاره هلته اوسيږي.

جنت د الله تعالی له لوري د نيکو بندګانو لپاره د دوی د هغو نيکو اعمالو بدله او اجر دی چې په دنيا کې يې سرته رسولي وي.

## د تعريف شرح

د جنت لفظ په عربي ژبه کې په مختلفو معناګانو استعمال شوی دی، لکه هغه څيز چې له سترګو څخه پټ وي. هغه باغ او باغچه چې په کې رنګا رنګ بوټي او ميوه لرونکې ونې وي او په سيورو يې د ځمکې مخ پوښلی وي، خو د عقايدو په علم کې جنت په آخرت کې له هغه کور څخه عبارت دی چې ډول ډول نعمتونه به په کې وي او الله ﷻ د هغو خلکو لپاره تيار کړی دی چې په الله ﷻ او د هغه په ملايکو، رسولانو، کتابونو او د آخرت په ورځ کلک ايمان لري، په دنيا کې يې خپلې نا سمې نفسي غوښتنې نه دي منلې او د الله او د هغه د پيغمبر په لارښوونه ژوند تيروي. جنت ډير نومونه لري، لکه د سلامتيا کور، د دايمي استوګنې ځای، د ورتللو ځای، فردوس، د نعمتونو کور او داسې نور.

## د جنت د اثبات دلايل

### قرآن کريم

الله ﷻ د جنت د پيدايښت په اړه فرمايلي دي: ﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳]

**ژباړه:** (هغه جنت) چې تيارکړای شوی دی د پرهيزګارانو لپاره.

په بل آيت کې الله تعالی فرمايي: ﴿سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾ [الحديد: ٢١]

**ژباړه:** د خپل رب (څښتن) له لوري ښښنې ته (هڅه وکړئ)یو له بل څخه مخکې شئ او دهغه جنت خوا ته چې، د هغه پراختيا د ځمکې او آسمانونو په څېر ده او د هغه چا لپاره تيار کړای شوی دی چې په الله ﷻ او د هغه پر پيغمبرانو يې ايمان راوړی وي.

**حديث**

په بې شميره احاديثو سره د جنت وجود ثابت دی.

نبي کريم ﷺ په يو حديث شريف کې فرمايلي دي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ «قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِى الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ».[١]

**ژباړه:** ابوهريره رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې الله ﷻ فرمايلي دي: ما د خپلو نيکو بنده ګانو لپاره داسې نعمتونه تيارکړي دي چې نه سترګو ليدلي، نه يې غوږونو صفت اوريدلی، نه يې کوم انسان په زړه کې تصورکړی دی.

له پورتنيوحديثونو څخه په ډاګه معلوميږي چې جنت اوس هم موجود دی.

**جنتيان**

جنت د پرهيزګارانو، نيک عملو، رښتينو، دالله تعالی او د هغه د رسول د تابعدارانو، په ايمان د استقامت د خاوندانو، الله ﷻ ته د نژدې کسانو او د هغو خلکو ځای دی، چې د الله تعالی حکمونو ته غاړه ږدي او له نواهيو څخه يې ځان ساتي.

**جنت ته د جنتيانو تلل**

جنتيان به جنت ته خوشحاله او سپاره ډلې ډلې روان وي.الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَنِ وَفْدًا﴾ [مريم: ٨٥]

**ژباړه:** او ياده کړه [اې محمده] هغه ورځ چې را جمع به کړو موږ پرهيزګاران د الله ﷻ حضور ته په داسې حال کې چې ډلې ډلې به (په سپرليو سپاره) وي.

---

١ - صحيح مسلم

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: چې دوی به پياده نه بوتلل کيږي، بلکې دوی به په داسې سپرليو سپاره وي چې مخلوقاتو به هغه سپرلۍ نه وي ليدلې.[١]

### په جنت ايمان لرل

پدې باندې عقيده درلودل لازم دي چې الله جل جلاله جنت مخکې پيداکړی دی، او اوس هم موجود دی، تل به وي او هيڅ فنا نه لري.[٢]

### پوښتنې:

١. جنت تعريف کړئ.

٢. د جنت د اثبات دلائل بيان کړئ.

٣. جنت د کومو خلکو ځای دی؟

٤. جنت ته به جنتيان څرنگه بيول کيږي؟

٥. په جنت باندې د ايمان حکم بيان کړئ.

### کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د جنت د توصيف او هغو عملونو په اړه چې جنت ته د تللو لامل گرځي يوه مقاله وليکي.

---

١ـ تفسير الطبري – (١٨ / ٢٥٤)

٢ـ الفقه الأكبر – (١ / ٦٣)، العقيدة الطحاويه– (١ / ٥١)

# جهنم (دوزخ)

کله چې الله ﷻ ټول انسانان له قبرونوڅخه را پاڅوي، هر انسان ته خپله عملنامه ورکړل شي او د مسلمانانو عملونه وتلل شي، نو نه منونکي او بد عمله خلك به دوزخ ته ځي.

**د جهنم تعریف:** جهنم دکندې معنا لري او په شرع کې جهنم د هغه اور نوم دی چې الله ﷻ دکافرانو اوګناهکارو مسلمانانو د عذابولو لپاره پیدا کړی دی.[1]

## د تعریف شرح

جهنم له هغه اور څخه عبارت دی چې الله تعالی دکافرانو، مشرکانو، دپیغمبرﷺ د رسالت دمنکرینو او د ګناهکارانو مؤمنانو لپاره پیداکړی دی. جهنم دکافرانو لپاره ابدي ځای دی، او ګناهکار مؤمنان به په کې د خپلو ګناهونو او جرمونو په اندازه پراته وي او بیا به ورڅخه راویستل کیږي. جهنم ډیر نومونه لري لکه: لظی، حطمه، سعیر، سقر، جحیم، هاویه او هم زیاتې طبقې او درجې لري چې یوه به له بلې څخه سخته او هلاکوونکې وي.

## د دوزخ د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې د دوزخ په اړه فرمایلي دي: ﴿فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ [البقرة: ٢٤]

**ژباړه:** له هغه اور څخه ووېرېږئ چې د هغه خس(دسون توکي) به انسانان اوکاڼي وي چې د حق د منکرانو لپاره تیارکړای شوی دی.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي﴿وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ [آل عمران: ١٣١] **ژباړه:** (ځانونه له هغه اور څخه وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار شوی دی)

همدا راز په بې شمیره احادیثو کې د دوزخ یادونه شوې او ټول امت یې په شتون اجماع کړې ده.

---

۱ــ مفردات الفاظ القرآن للراغيب الاصفهاني (١ / ٢٠١)، القاموس الفقهي – (١ / ٧٢)

## جهنميان (دوزخيان)

جهنم د کافرانو، منافقانو، مجرمانو، سرکښانو، ظالمانو، گمراهانو، د آخرت په مقابل کې د دنيا خوښوونکو، بد عملو او د هغه چا ځای دی چې د الله ﷻ او د هغه له رسول سره دښمني لري اويا يې له اوامرو څخه سرغړونه کوي او دحق لارې ته نه راگرځي.

## جهنم ته د دوزخيانو ورتلل

ځينې خلک به جهنم ته پرمخې په مخونو باندې ورتلل کيږي. له رسول الله ﷺ څخه يوه صحابي پوښتنه وکړه چې څرنگه به دوی په مخونو ورتلل کيږي؟ پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: هغه ذات چې دوی په پښو بيولای شي په دې هم قادر دی چې په مخونو يې بوځي.[1]

جهنميان به د خارويو په شان رمې رمې شړل کيږي او له هر لوري څخه به ملايکې ورباندې آوازونه کوي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا﴾ [الزمر: ٧١] **ژباړه:** او هغه کسان چې کافران دي ډلې ډلې به د دوزخ خواته شړل کيږي.

په بل آيت کې الله تعالی فرمايي: ﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا﴾ [الطور: ١٣]

**ژباړه:** هغه ورځ چې دوی به په ټيلو ټيلو د جهنم د اور خواته بوتلل شي.

او مخکې له دې چې جهنم ته داخل شي د جهنم داسې آواز به واوري چې د دوی د غوږونو پردې به څيرې کړي اوزړونه به يې په سخته ويره او هيبت کې پريوزي. الله ﷻ فرمايي: ﴿إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾ [الفرقان: ١٢]

**ژباړه:** هغه اور چې کله له ليرې نه دوی ووينې نو دوی به د هغه د غضب او تاو آوازونه واوري.

او هم به ډير زيات تږي وي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَى جَهَنَّمَ وِرْدًا﴾ [مريم: ٨٦]

**ژباړه:** او مجرمان به د دوزخ لوري ته وشړو په داسې حال کې چې تږي به وي.

همدارنگه کله چې دوزخيان جهنم ته بوول کيږي دوی به ړانده شي هيڅ به نه ويني، هم به گونگيان شي ژبې به يې نه چليږي او هم به کاڼه شي هيڅ به نه اوري. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا﴾ [الإسراء: ٩٧]

**ژباړه:** دغه خلک به موږ د قيامت په ورځ پړ مخې راکاږو، په داسې حال کې چې ړانده، گونگيان اوکاڼه به وي.

---

١_تفسير الطبري ١٩\٢٦٨

اوکله چې جهنم ته وړل کیږي ډیر د ذلت او خوارۍ په حالت کې به وړل کیږي. الله تعالی فرمایي: ﴿قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾ [آل عمران: ۱۲]

**ژباړه:** (اې محمده!) کومو خلکو چې ستا د دعوت له منلو نه انکار کړی دی، هغوی ته ووایه هغه وخت نږدې دی چې تاسې به مغلوب شئ د دوزخ لوري ته به جمع کړی شئ او دوزخ ډیر بد استوګنځی دی. او بل ځای الله ﷻ فرمایي: ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا﴾[مریم: ٦٨]

**ژباړه:** ستا په رب قسم چې موږ به هرومرو دوی او شیطانان را جمع کړو، بیا به یې د دوزخ چارچاپیر سر ښکته په ګونډو را حاضر کړو.

او دا د ذلت ډیر بد حالت دی چې الله ﷻ تصویر کړی دی.

کله چې دوی د جهنم خواته وروستل شي او د اور ویروونکی حالت ویني نو ډیر زیات به پښیمانه شي او د دې ارمان به وکړي چې کاشکي یوځل بیا دنیا ته بوول شوي وای تر څو ایمان مو راوړی وای، خو له اور څخه به خلاصون نه مومي. الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلَوْ تَرَى إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾. [الأنعام: ۲۷]

**ژباړه:** کاشکي تا د هغه وخت حالت لیدلی وای چې دوی د دوزخ په غاړه ودرول شي، په دې وخت کې به دوی ووایي: کاشکي موږ دنیا ته یوځل بیا لیږل شوي وای نو د خپل رب آیتونه (نښانې) به مو دروغ نه ګڼلې او ایمان به مو راوړی و.

## په جهنم (دوزخ) د ایمان حکم

د دوزخ په شتون عقیده درلودل فرض دي او منکر یې د اسلام له دایرې څخه بهر ګڼل کیږي.[1]

**پوښتنې:**

۱. جهنم تعریف کړئ.
۲. د دوزخ د اثبات دلایل بیان کړئ.
۳. دوزخ د کومو خلکو ځای دی.
٤. کوم عملونه دوزخ ته د داخلیدو لامل کیږي؟
٥. دوزخیان به څرنګه دوزخ ته بیول کیږي؟
٦. په دوزخ باندې د ایمان حکم بیان کړئ.

---

۱_ الفقه الأکبر - (۱ / ٦٣)، العقیدة الطحاویه - (۱ / ٥۱)

# د ايمان نواقض (١)

## اكبر شرك

شرك د انسان د هلاکت لامل او تر ټولو لوی ظلم دی. شرک هغه ګناه ده چې الله تعالی يې نه بښي.

### د شرك تعريف

شرك په لغت کې حصې او برخې ته ويل کيږي چې په ګډون، سيالی او شراکت باندې يې هم اطلاق شوی دی او په اصطلاح کې له الله تعالی سره په ذات، صفاتو، تصرفاتو او عبادت کې شريک پيدا کولو ته شرك ويل کيږي.

١. **په ذات کې شرك:** لکه څوک چې دوه خدايان ومني.
٢. **په صفاتو کې شرك:** لکه څوک چې د الله تعالی د صفاتو په څېر نورو مخلوقاتو ته صفات ثابت وګڼي، له اسبابو پرته څوک په غيبو عالم وګڼي، د هغه تعالی په ډول بل څوک قادر او سميع وګڼي او يا په صفاتو کې تمثيل يا تکييف وکړي.
٣. **په تصرفاتو کې شرك:** دې ته وايي چې له الله تعالی پرته له اسبابو پورته متصرف، کار جوړوونکی او د حاجت پوره کوونکی يا مشکل کشا (اسانه کوونکي) بل څوک وګڼل شي.
٤. **په عبادت کې شرك:** په عبادت کې شرک دې ته وايي چې له الله تعالی پرته بل چا ته د بندګی سر ټيټ کړای شي، د الله تعالی په مقابل کې يې طاعت، ستاينه، ياتعظيم په دې بنياد وشي چې په غيبي قدرت سره دګټې اوزيان واکمن دی.

### د شرك ډولونه

شرک په دوه ډوله دی: ستر شرک (الشرک الاکبر) او کوچنی شرک(الشرک الاصغر).
ستر شرک چې له الله تعالی سره څوک سيال ونيول شي، داسې عبادت يې وشي لکه د الله تعالی، دا ډول شرک انسان له اسلام څخه باسي، ټول عملونه يې له منځه وړي او که په دې شرک مبتلا شخص له توبې پرته ومري نو د تل لپاره به په دوزخ کې وي.

**د قرآن کريم د هداياتو له استقراء ښخه معلوميږي چې ستر شرك په څلور ډوله دی:** په دعاء او بلنه کې شرك، په نيت او قصد کې شرك، په طاعت کې شرك او په محبت کې شرك، چې په لاندې توګه بيانيږي:

**۱ـ د دعاء او بلنې شرك:** دا ځکه چې دعاء د عبادت له مهمو ډولونو ښخه ده. رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (الدعاء هو العبادة)[1]، ژباړه: (دعاء، همدا دعاء عبادت دی). الله تعالى فرمايي: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر: ٦٠]

**ژباړه:** او ستاسو ښښتن وايي ما رابلئ بلنه مو قبلوم. يقيناً هغه کسان چې زما له عبادت ښخه په لويی مخ اړوي، ژر به جهنم ته د ذلت په حال کې ننوځي.

ښرنګه چې دعاء عبادت دی، له الله تعالى پرته بل چا ته يې اړول شرك ګڼل کيږي. الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾ (المؤمنون: ١١٧) **ژباړه:** او ښوك چې له الله تعالى سره بل اله (معبود) رابلي چې هيڅ دليل ورته په دې کارکې نشته، نو دده حساب يوازې د ده له رب (ښښتن) سره دی، بې شکه کافران برى نه مومي.

همداراز فرمايي: ﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ (العنكبوت: ٦٥)

**ژباړه:** کله چې دغه خلك په بيړۍ کښې سپاره شي نو د الله نه په خالص اعتقاد سره دعا غواړي، بيا کله چې الله دوی د هلاکت ښخه وچې ته وژغوري نو ناڅاپه بيا دوی شرك کوي.

له دې آيتونو ښخه په ډاګه ښرګنديږي چې له الله تعالى پرته د بل چا رابلل او له اسبابو پورته له بل چا ښخه مرسته غوښتل شرك دی.

**۲ـ د نيت او قصد شرك:** دا شرك دې ته وايي چې خاوند يې په خپلو ديني اعمالو سره يوازې دنيوي مقاصدو ته ځان رسول غواړي او موخه يې د ځان ښودنه او رياء وي، د منافقانو په دود د الله رضا نه غواړي. داسې شخص هم په ستر شرك کې غورښيدلی دی.

---

۱ – رواه احمد والترمذی

الله تعــالی فرمــايي: ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ۝أولئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [الهود: ۱۵، ۱۶]

**ژباړه:** کوم خلك چې (يوازې) د همدې دنيا د ژوند او د هغې د ښکلاوو غوښتونکي وي، د هغو د کړو وړو ټوله ميوه موږ همدلته ورکوو او په دې کې له هغو سره هيڅ کمي نه کيږي، خو په آخرت کې د دغه راز خلکو لپاره له اوره پرته نور څه نشته (هلته به معلومه شي) څه چې هغوی په دنيا کې کړيدي هغه ټول خاورې ايرې(برباد) شول او د هغو ټول کړه وړه باطل دي.

**۳ـ د طاعت شرك:** دا دې ته وايي چې يو څوك د حرامو او حلالو په هکله د الله تعالی د دين په خلاف د مخلوق ومني او په زړه کې دا و انګيري چې مخلوق د حلالو د تحريم او يا د حرامو د تحليل واك لري.

الله تعالی د نصاراوو په هکله فرمايي: ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ (التوبة: ۳۱). **ژباړه:** دوی خپل عالمان او روحانيون(پيران) له الله پرته خپل اربابان نيولي دي او همدغه راز مسيح ابن مريم هم. په داسې حال کې چې دوی ته له يو معبود نه پرته د بل هيچا د بنده ګۍ کولو حکم نه و ورکړی شوی، هيڅوك د عبادت وړ نشته مګر همدغه الله تعالی دی، پاك دی له هغو مشرکانه خبرو څخه چې دوی يې کوي.

**۴ـ د محبت شرك:** دا دې ته وايي چې يو څوك له الله تعالی پرته بل چا سره داسې مينه ولري چې د هغه د لوی ګڼلو له کبله د عبوديت او عاجزی سر ورته ښکته کړي، سره له دې چې د اجلال او تعظيم لپاره يوازې الله تعالی ته په مينه د عاجزي سر ښکته کيږي او عبادت يې کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ﴾ (البقرة: ۱۶۵).

**ژباړه:** ځيني خلك داسې دي چې له الله نه پرته نور د هغه سيالان ګرځوي او پر هغو داسې مين دي لکه چې څنګه له الله سره مينه لرل ښايي. په داسې حال کې چې ايمان لرونکو ته تر هر چا زيات الله ګران وي.

**د اکبر شرک حکم:**

د دې ډول شرک کوونکی مشرک بلل کیږي، د ابد لپاره به په دوزخ کې وي، هېڅکله له دوزخ څخه نه ایستل کیږي او د هېڅ شفاعت کوونکي شفاعت د ده په حق کې نه قبلیږي.

**پوښتنې:**

۱. شرک تعریف کړئ.
۲. شرک په څو ډوله دی؟
۳. اکبر شرک په څو ډوله دی؟
٤. آیا مشرک ته الله تعالی ببښنه کوي؟
٥. په نیت او قصد کې شرک څه ته وایي؟
٦. د دعاء او بلنې شرک څه شی دی؟
۷. د اکبر شرک حکم بیان کړئ.

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې د اکبر شرک په اړه یوه مفصله مقاله ولیکي.

# اصغر شرک

د اكبر شرك ډولونه او حكم مو په تير لوست كې ولوست. په دې لوست كې د اصغر شرك تعريف او ډولونه لولو.

### د اصغر شرک تعریف

اصغر شرك هغه گناه ده چې نبي كريمﷺ په خپلو مباركو احاديثو كې د زجر او تهديد له امله د شرك په نامه سره ياده كړې وي، خو هغه شرك نه دى چې لـه اسلام څخه د وتلو لامل وگرځي او يوازې هغو گناهونو ته د شرك نسبت كولاى شـو چـې شارع پـه شرك سره نومولي وي او دا شرك په دوه ډوله دى:

١. **ښكاره شرك:** دا شرك په الفاظو او افعالو كې منځ ته راځي.

أ. **الفاظ:** لكه، له الله تعالى پرته په بل شي سوگند (قسم) خوړل، ابن عمر رضي الله تعالى عنهما فرمايلي دي چې له الله تعالى پرته په بل شي سوگند مه كوئ، ځكه ما له رسول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ كَفَرَ وَأَشْرَكَ»[١]

**ژباړه:** هغه څوك چې له الله تعالى پرته په بل شي قسم وخوري يقيناً كافر او مشرك شو.

ب. **افعال:** لكه د ځينو ناروغيو د درملنې لپاره له هغو شيانو څخه گټه اخيستل چې الله تعالى هغه د دفعه كولو اسباب نه وي معرفي كړي. لكـه څرنگـه چې نبي كـريمﷺ فرمايلي دي: «مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ»[٢]

**ژباړه:** هر څوك چې (پخپله يا د ماشومانو او يا د حيوان په غاړه كې) يو څه شى تعويذ (ځوړند) كړي، يقيناً چې ده د شرك كار تر سره كړ.[٣]

---

١ – مسند أحمد – (١٠ / ٢٤٩)

٢ – مسند أحمد – (٢٨ / ٦٣٧)

٣ – دلته د تعويذ نه مراد هغه شيان دي چې د جاهليت په وخت كې مروج وو او مشركانو به د خپلـو ماشـومانو ياحيوانـاتو پـه غاړه كې د دې لپاره ځوړندول چې نظر نه شي. د هغو ټولو شيانو ځوړندول حرام دي، لكه: كونجكې، مرى، بندونـه او داسـې نور.

۲. **خفي شرک:** په نيتونو او ارادو کې شرک ته خفي شرک ويل کيږي، لکه: رياء. رياء دې ته ويل کيږي چې يو څوک نېک کار د دې لپاره تر سره کړي چې خلک يې ووينې او بيا ووايي چې فلانی ډېر ښه سړی دی او د ده مدح وکړي. الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي: ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [الکهف: ۱۱۰]

**ژباړه:** نو څوک چې له خپل پروردګار سره د يو ځای کېدو په هيله وي هغه ته په کار دي چې ښه عمل وکړي او په بندګۍ کې له خپل رب سره بل څوک شريک نه کړي.

نبي کريمﷺ فرمايلي دي: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ» ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ؟ قَالَ: «الرِّيَاءُ»[1]

**ژباړه:** يقيناً چې زه په تاسو باندې له ټولو شيانو څخه زيات له اصغر شرک څخه ويريږم. صحابه وو پوښتنه وکړه، اې د الله رسوله! اصغر شرک څه شی دی؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: رياء.

## د اصغر شرک حکم

اصغر شرک له اسلام څخه د وتلو لامل نه دی، خو د اکبر شرک لپاره وسيله ده او خاوند ته يې د مشرک نسبت نه کيږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د اکبر شرک او اصغر شرک د حکمونو په اړه يو له بل سره مباحثه وکړي.

## پوښتنې:

۱. اصغر شرک تعريف کړئ.
۲. د اصغر شرک څو مثالونه بيان کړئ؟
۳. اصغر شرک په څو ډوله دی؟
۴. ښکاره شرک په څو ډوله دی؟
۵. د اصغر شرک حکم بيان کړئ.

---

۱ - المعجم الکبير للطبراني - (۴ / ۳۳۸)

# د ايمان نواقض(۲)

## ستر کفر

لکه څرنګه چې شرك ډېر ناوړه عمل، له توحيد سره منافي او د توحيد له نواقضو څخه دی، همدارنګه کفر هم له ايمان سره منافي او د ايمان له نواقضو څخه دی.

**د کفر تعريف**

کفر په لغت کې پټولو ته وايي او د عقايدو د علم په اصطلاح کې د ايمان ضد ګڼل کيږي، يعنې په الله تعالی او د هغه په رسول باندې ايمان نه لرل، يا د هغوی له لارښوونو څخه انکار کول او نه منل کفر دی. که دغه ايمان نه راوړل يې د دروغ ګڼلو له امله وي او يا په هغه کې د شك، ترديد، حسد، کبر او يا ځينو نورو نفسي غوښتنو له امله وي، ټول کفر دی.

**د تعريف شرح**

د عقايدو د علم په اصطلاح کې په الله تعالی او په هغه شريعت چې د ده رسول راوړی دی، ايمان نه درلودل، يا پر ځينو هغو شيانو باندې چې ايمان راوړل پرې فرض دي، ايمان راوړل او له ځينو نورو څخه يې انکار کول، که يې دروغ وګڼي او يا شك پکې وکړي او يا د حسد، کبر او يا ځينو نورو نفسي غوښتنو له امله له الهي لارښوونو څخه مخ واړوي، ټول کفر ګڼل کيږي. ايمان داسې يو حقيقت دی چې تجزيه نه قبلوي. داسې نشي کېدای چې په ځينو يې ايمان راوړي او له ځينو نورو څخه يې منکر شي.

**د کفر ډولونه**

کفر په دوه ډوله دی:

۱. اکبر کفر (لوی کفر).

۲. اصغر کفر (کوچنی کفر).

**لومړی:** اکبر کفر: دا کفر د ايمان ضد دی.

اکبر (لوی) کفر په پنځه ډوله دی:

۱. **د دروغ ګڼلو کفر:** د الله تعالی انبیاوو ته د دروغجنۍ نسبت کول کفر دی. هر څوک چې د الله تعالی انبیاء، په هغه څه کې چې د الله تعالی لـه لـوري یې راوړي دي، دروغجن وګڼي هغه کافر شو، څکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ﴾ (العنکبوت: ٦٨) **ژباړه:** له هغه چا نه به غټ ظالم څـوک وي چې پـر الله بانـدې دروغ وتـړي یـا حق تـه د دروغو نسبت وکړي چې کله هغه ته حق راشي. آیا د دغسې کافرانو لپاره پـه دوزخ کې استوګنځی نشته؟

۲. **د انکار او ځان لوړ ګڼلو کفر:** دا په دې ډول چې د رسول په رښـتینوالی پـوهیږي او په دې باندې یې یقین وي چې دغه رسول د الله تعالی له لوري په حقـه سـره راغلـی دی، خو بیا هم د عناد او تکبر له امله د هغه اوامرو ته غاړه نه ږدي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾ (البقرة: **٣٤**)

**ژباړه:** او کله چې موږ پرښتو ته امر وکړ چـې د آدم پـه طـرف سـرونه پـه سـجده ښـکته کړئ، نو ټولو سرونه ښکته کړل، خو ابلیس انکار وکړ هغه ځان لوی وګڼلو او د کـافرانو له ډلې څخه شو.

۳. **شک، تردید او د رسول په صدق د یقین نه کولو کفر:** دې کفر ته د ظن او ګومان کفر هم ویل کیږي، څکه الله تعالی فرمـایلي دي: ﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا ۞ وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُدِدْتُ إِلَى رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِنْهَا مُنْقَلَبًا ۞ قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا ۞ لَكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا﴾ [الکهف: ٣٥ - ٣٨]

**ژباړه:** بیا هغه خپل باغ ته ننوت او د خپل نفس په حق کې تیری کوونکی شو، ویې ویـل ( زه دا نه ګڼم چې دغه شتمني او باغ به یو وخت فنا شي او زما باور نشته چې قیامـت بـه راشي بیا هم که خپل رب ته زه ور وګرځېدم، نو هرومرو به له دې نه هم زیـات شـاندار ځای ومومم د هغه ملګري (ګاونډي) په خبرو اترو کې هغه ته وویل: آیا ته په هغـه ذات کافر کیږې چې هغه ته له خاورې او بیا له نطفې څخه پیدا کړې او بیا یې یو بشپړ سـړی

جوړ کړی يې؟ خو زه (په دې اعتراف کوم چې) هماغه الله زما رب دی او زه لـه خپل رب سره هېڅوك نه شريکوم.

٤. **د اعراض او مخ اړولو کفر:** له دې څخه مراد دا دی چې څوك لـه ديـن څخـه مخ واړوي، يعنې نه نبوي لارښوونې اوري، نه په زړه کې څه التفـات ورتـه کـوي او نـه ځان ورباندې پوهوي، څکه الله تعالى فرمـايلي دي: ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنْذِرُوا مُعْرِضُونَ﴾ (الأحقاف: ٣) **ژباړه:** او کافران له هغه څه چې پـرې وېـرول شـوي دي مـخ اړوونکـي دي.

٥. **د نفاق کفر:** له نفاق څخه دلته مراد نفاق په عقيده کې دی. په دې ډول چې څـوك په ظاهر کې خلکو ته ايمان ښکاره کوي او په باطن کې يې عقيده د کفر وي، څکه الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ﴾ (المنافقون: ٣) **ژباړه:** دا هر څه له دې امله دي چې دوی ايمان راوړ بيا کـافر شـول لـه دې امله د دوی پر زړونو مهر ولګول شو اوس دوی په هېڅ نه پوهېږي.

**د نفاق ډولونه**

نفاق په دوه ډوله دی:

أ. **عقيدوي نفاق:** دې نفاق ته ستر کفر ويل کيږي او له اسلام څخه د وتلو لامل دی. دا نفاق په شپږ ډوله دی: د رسول تکذيب، يا د ځينـو هغـو شـيانو تکـذيب چـې رسـول راوړي وي، له رسول سره کينه کول، يا له هغو شـيانو سـره کينـه کـول چـې رسـول راوړي وي. د رسول د دين په ضعيفه کېدلو باندې خوښي ښکاره کول، يـا د رسـول له دين سره د مرستې بد ګڼل.

ب. **عملي نفاق:** دې نفاق ته اصغر کفر هم ويل کيږي. په دې بانـدې انسـان د اسـلام لـه دين څخه نه وځي خو بيا هم لويه ګناه ده، چې ځينې يې نبي کريمﷺ په دې حديث کې ذکـر کـړي دي: «أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ»[1] **ژباړه:** څلور شيان دي چې که په چا کې دا ټول پيدا شول، نو سـوچه منافق شو او که په چا کې له دې څلورو شيانو څخه يو پيدا شـو، نـو پـه هغـه کـې د

١ - متفق عليه

نفاق له عادتونو څخه يو عادت پيدا شو، تر څو چې پرې ابښى پې نه وي، کله چې خبرې کوي، نو دروغ وايي، کله چې تړون وکړي، بيا په هغې کې غدر کوي، کله چې وعده وکړي، نو وفا ورباندې نه کوي او کله چې شخړه کوي، نو کنځل کوي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د اکبر کفر د ډولونو لپاره مثالونه بيان کړي.

**د ستر کفر حکم**

د دې کفر خاوند کافر بلل کيږي له اسلام څخه وتلی، د تل لپاره به په دوزخ کې وي او د قيامت په ورځ د هيڅ شفاعت کوونکي شفاعت د ده په حق کې نه قبليږي.

**پوښتنې:**

۱. کفر تعريف کړئ.
۲. د کفر ډولونه کوم دي؟
۳. لوی کفر په څو ډوله دی؟
٤. نفاق په څو ډوله دی؟
۵. آيا عملي نفاق له اسلام څخه د وتلو لامل دی؟
٦. د ستر کفر حکم بيان کړئ.

# اصغر كفر

په مخكني لوست كې مو د اكبر كفر په اړه معلومات تر لاسه كړل. په دې لوست كې به د اصغر كفر د تعريف، ډولونو او حكم په اړه معلومات تر لاسه كړو.

## د اصغر كفر تعريف

دا هغه ګناهونه دي چې شارع د زجر او تهديد له امله ورته كفر ويلی دی، خو د اكبر كفر (لوی كفر) حد ته نه دي رسېدلي او له اصل ايمان سره ضد او منافي نه دي، خو ايمان ضعيفوي. كه چېرې د دې ګناهونو خاوند توبه ونه باسي، نو د الله تعالی په مشيت كې دی؛ كه خوښه يې شوه عذاب وركوي، خو د ابد لپاره په دوزخ كې نه پاتې كېږي او كه خوښه يې شوه عفوه ورته كوي.

## د اصغر كفر ډولونه

د اصغر كفر (كوچني كفر) ډولونه ډېر زيات دي، خو په لنډ ډول ويلای شو: هره هغه ګناه چې په شرعي نصوصو كې ورته د كفر نسبت شوی وي او د اكبر كفر (لوی كفر) او اكبر شرك حد ته نه وي رسېدلي، اصغر كفر (كوچنی كفر) ورته ويل كېږي.

## د اصغر كفر مثالونه

په يو حديث شريف كې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ»[1]

**ژباړه**: مسلمان ته كنځل كول فسق او وژل يې كفر دی. همدارنګه په يو بل حديث شريف كې، كله چې نبي كريمﷺ په حجة الوداع كې خلكو ته نصيحت كولو، ويې فرمايل: «لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِى كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»[2]

**ژباړه**: له ما څخه وروسته تاسو مه كافر كيږئ، چې ځيني له تاسو څخه د ځينو نورو غاړې وهي.

---

١ – صحيح مسلم – (١ / ٥٧)

٢ – صحيح مسلم – (١ / ٥٨)

په یو بل حدیث شریف کې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «اثْنَتَانِ فِى النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ الطَّعْنُ فِى النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ»[۱]

**ژباړه**: په خلکو کې دوه عادتونه شته چې هغه کفر دی، یو نسب ته طعن (نسب بدلول) او بل پر مړي باندې په چیغو ژړا کول.

## د دې ډول کفر حکم

د دې ډول کفر خاوند ته نه د کافر نسبت کېږي او نه له اسلام څخه وځي، خو شارع یوازې د زجر او تهدید په اساس ورته د کفر نسبت کړی دی.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې په خپلو منځونو کې د اصغر کفر د تعریف او ډولونو په اړه یو له بل سره مباحثه وکړي.

### پوښتنې:

۱. اصغر کفر تعریف کړئ.
۲. د اصغر کفر څو مثالونه ذکر کړئ.
۳. د اصغر کفر حکم بیان کړئ.

---

۱ - صحیح مسلم - (۱ / ۵۸)

# بدعت

شيطان د انسان د گمراهۍ هڅه کوي، فاسقان په بې دينۍ بې لارې کوي او ديـنداران پـه دين کې افراط او د دين له پولو څخه تېريدو ته هڅوي، په دې توگه چې پـه ديـن کـې نوې لارې چارې راپيدا کړي. په دين ناپوهه خلك بيـا هغـه د ديـن برخـه گڼـي او د الله تعالی د اطاعت په موخه د الله تعالی په معصيت کې ډوب وي، دغه ډول کار تـه بـدعت ويل کيږي. که چېرې بيا دغه بدعت په عقيده کې را منځته شـي نـو د ايمـان لـه نواقضـو څخه گڼل کيږي او د انسان ايمان له منځه وړي.

په دې لوست کې به بدعت وپېژنۍ او د هغه د نارواتوب دلايل به له قرآن او سنتو څخه زده کړئ.

## د بدعت تعريف

بدعت د عربي ژبې کلمه ده چې نوې ايجاد شوې څيز ته ويل کيږي.

په شرعي اصطلاح کې په دين کې نوی ايجاد شوی کار چې ديني رنگ ورته ورکـړل شـي او رسول الله ﷺ او د هغه صحابه وو نه وي کړی، داسې کار ته بدعت ويل کيږي نـو بـدعت په دين کې د يو داسې شي زياتولو ته وايي چې په قرآن او سنت کې اصل ونه لري.

## د تعريف شرح

په تعريف کې درې مطلبونه بيان شوي دي:

١. بدعت په دين کې نوې چارې ايجادول دي، چې قرآن او سنت د هغو غوښتنه نه وي کړې. نو بدعت په دين کې رامنځته کيږي، په دنيوي چارو کې بدعت نه وي.

د ديني او دنيوي چارو تر منځ (په دې ځای کې) تـوپير پـه دې سـره کېـږي، چـې دينـي چارې د اجر د طلب لپاره وي او دنيوي چارې خپل خپل اهداف لري.

٢. دين د رسول الله ﷺ په وخت کې پوره شوی دی او د انسان لپاره ټول ضروري احکام په قرآن کريم او احاديثو کې بيان شوي دي نو په دين کې د نـوي شـي د زيـاتولو کـوم مجال نه دی پاتې.

۳. بدعت یوازې په دینی امورو پورې تړاو لري، نو د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کې اختراع او ابتکار ته اصطلاحي بدعت نه ویل کېږي بلکې په ټکنالوژۍ او د ژوند په فنونو کې نوښت مطلوب او ضروري دی.

**فعالیت**

۱. زده کوونکي دې د دین ټینګولو، امنیت راوستلو، د ښوونې او روزنې، روغتیا او عدالت د رامنځ ته کولو او په پښو درولو په اړه یو له بل سره بحث وکړي او دا د واضحه کړي چې دا چارې څنګه په عبادت کې داخلېدلای شو؟

۲. د دین د اقامت لپاره دولتي تشکیلات ولې بدعت نه ګڼل کېږي، سره له دې چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې په دې پراخه کچه تشکیلات او ادارې نه وې؟ په دې هکله بحث وکړئ.

**په عقیده کې بدعت**

علماوو په دې اتفاق کړی چې په عقیده کې بدعت حرام دی ځینې عقیدوي بدعتونه آن کفر ته رسیږي، کله چې د دین له ښکاره حکم څخه پکې انکار راشي او ټولو دیني علماوو هغه صریح کفر ګڼلی وي. لکه د مشرکانو دا قول چې قرآن حکایت ورڅخه کوي: ﴿وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا﴾ [الأنعام:۱۳۹] او دوی وایي: څه چې د دې څارویو په ګېډه کې دي، یوازې زموږ د نارینه وو لپاره دي او زموږ پر ښځو حرام کړی شوي دي.

**د بدعت د نارواتوب دلیلونه**

ډیر نقلي او عقلي دلیلونه د بدعت په نارواتوب دلالت کوي چې موږ یې دلته له قرآن او سنتو څخه په ځینو مهمو او صریحو دلایلو بسنه کوو.

**قرآن کریم:** الله تعالی فرمايي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا﴾ [المائدة: ۳]

**ژباړه:** نن ورځ مې ستاسو لپاره ستاسو دین کامل کړ او خپل نعمت مې په تاسو پوره کړ، او اسلام مې د دین په توګه درته غوره کړ.

څوک چې نوې چارې په دین کې پیدا کوي او هغه له دین څخه ګڼي، دی د رسول الله په لاس دین پوره نه ګڼي. د ده عمل دا معنا لري چې د دین ځینې برخې هغه مبارک نه دي پوره کړې او هغه یې دپوره کیدو لپاره دې مبتدع ته پرې ایښې دي. نو دی د دې

آیت په مدلول یا نه پوهیږي او یا ورڅخه انکار کوي، ځکه الله تعالی دین پوره ګڼلی او دی په هغه کې نوري چارې را پیدا کوي.

**حدیث:** رسول اللهﷺ فرمایلي: «أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ لِوُلاَةِ الأَمْرِ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلاَفًا كَثِيرًا ، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ ، تَمَسَّكُوا بِهَا، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ. فَإِنَّ كُل مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ ، وَكُل بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ»[۱]

**ژباړه:** زه تاسو ته له الله تعالی څخه په تقوی او ویره او د چارواکو خبرو ته په غوږ نیولو او درناوي وصیت کوم، که څه هم هغه یو حبشي غلام وي ځوک چې په تاسو کې زما څخه وروسته ژوندي پاتې شي هرومرو به زیات اختلاف ووینې، نو په تاسو زما د سنتو او زما د راشدو (لارښودل شویو) خلفاوو د لارو پیروي لازمه ده دا طریقې کلکې ونیسئ او په غاښونو یې کلکې کړئ، له نویو کارونو څخه ځان وساتئ، ځکه هره نوې چاره بدعت ده او هر بدعت لار ورکي ده.

په یو بل حدیث کې عائشې رضي الله تعالی عنها له رسول اللهﷺ څخه روایت کړی چې هغه مبارك وفرمایل: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ»[۲] **ژباړه:** چا چې زموږ په دې کار (دین) کې نوې څه راپیدا کړل، نو هغه رد دي.

**پوښتنې:**

۱. بدعت تعریف کړئ.
۲. د بدعت له تعریف څخه څو مطلبونه په ډاګه کیږي؟
۳. په عقیده کې بدعت څه ته وایي؟
۴. د قرآن او سنتو له مخې د بدعت د نارواتوب دلیلونه بیان کړئ.

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې د بدعت او د هغه د خطر په اړه یوه مقاله ولیکي او ځینې رواج شوي بدعتونه دې ذکر کړي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

---

۱- رواه احمد و أبوداود.

۲ - متفق علیه

# د صحابه کرامو مقام

### ۱. د صحابه وو تعریف

صحابه او اصحاب د صحابي جمع ده، ملګري ته ویل کیږي.

په اصطلاح کې صحابي هر هغه چاته ویل کیږي چې پیغمبرﷺ یې لیدلی وي، په هغه یې ایمان راوړی وي او د ایمان په حالت کې وفات شوی وي. صحابه کرام د رسول الله ﷺ شاګردان او پیروان وو، د اسلام په خپرولو او د اسلام څخه په دفاع کې یې زیاتې قرباني ورکړې دي، د قرآن کریم په حفظ او ساتنه او د احادیثو په رسولو کې چې دواړه د دین اساس او بنیاد دي د صحابه وو رول ډیر ارزښت لري.

### ۲. د صحابه کرامو غوره والی

الله تعالی د قرآن کریم په ګڼو آیتونو کې د صحابه کرامو فضیلت، مقام او منزلت ستایلی چې موږ د بیلګې په توګه لاندې آیتونه لولو:

**أ. الله تعالی له صحابه وو څخه خوښ او راضي وو او صحابه له الله څخه**

الله تعالی فرمایي: ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. [التوبة ۱۰۰]

**ژباړه:** او د (اسلام) لومړني مخکښان له مهاجرینو او انصارو څخه او هغه کسان چې په نیکی سره یې د دوی پیروي کړې ده الله ترې راضي شوی دی او دوی له الله څخه راضي شوي دي الله د دوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې تر ونو لاندې یې ویالې بهیږي او هغوی به پکې د تل لپاره اوسیږي، دغه ډیر لوی(ستر) بریالیتوب دی.

**ب. په غوره خویونو دصحابه وو توصیفول**

الله پاک فرمایي: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ [الفتح: ۲۹]

**ژباړه:** محمدﷺ د الله رسول دی او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو منځو کې خواخوږي دي. ته چې کله هغوی ګورې په رکوع

او سجده او د الله د فضل او دهغه د رضا په طلب کې بې بوخت مومې، د سجدو نښې نښانې د هغو پر تندیو موجودې دي چې په هغوسره پېژندل کیږي.

**ج. د امت اجماع**

د پورتنیو قرآني آیتونو او د زیاتو نبوي احادیثو پر بنسټ چې د صحابه وو په لوړ شان دلالت کوي، ټول اسلامي امت د صحابه کرامو پر عدالت او تقوا اجماع کړې ده او ویلي يې دي: (**الصحابة كلهم عدول**). صحابه کرام ټول په حق او انصاف ولاړ او د تقوا څښتنان دي. که د هغوی څخه کومه ګناه شوې هم وي، توبه يې ترې کړې او الله پاک ورسره د ښښنې وعده کړې ده. الله تعالی فرمايي: ﴿لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [التوبة:۱۱۷]

**ژباړه:** الله، پیغمبر او هغو مهاجرینو او انصاروته ښښنه وکړه چې هغوی په ډېر تنګ وخت کې د پیغمبر ملګرتیا وکړه. که څه هم له هغوڅخه د ځینو زړونه کوږوالي ته نیژدې شوي وو (خو کله چې هغوی د دې انحراف پیروي ونه کړه. بلکې د پیغمبر ملګرتیا يې غوره کړه) نو الله هغوی معاف کړل. بېشکه چې الله پر دوی مهربان او رحم کوونکی دی.

**۳. د صحابه وو سپېڅلتیا**

صحابه کرام هغه سپیڅلي خلک دي چې الله ﷻ له هغوی ټولو څخه د خپلې خوښې خرګندونه داسې کوي: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ [الفتح: ۱۸]

**ژباړه:** الله ﷻ له مؤمنانو څخه راضي شو کله چې هغوی تر ونې لاندې له تاسره بیعت کاوه.

صحابه کرام د ډېر لوړ مقام څښتنان دي. صحابه کرام هغه خلک دي چې الله پاک د قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ د سنتو د رسولو لپاره غوره کړي دي، چې له دوی پرته نه د قرآن فهم امت ته رسیدلای شو او نه د پیغمبر ﷺ تعلیمات او لارښوونې!

له همدې کبله د صحابه کرامو پرعدالت، صدق او تقوا باندې یقین کول د عقیدې برخه ګرځیدلې ده.

**فعالیت**

که صحابه کرام – خدای مه کړه- موږ بې اعتباره وګڼو نو قرآن او سنت خو موږ ته هغوی رارسولي، نو بیا به د دې دواړو څه حال وي؟

**٤. له صحابه وو سره مینه**

پیغمبرﷺ په خپلو ویناوو کې مسلمانانو ته لارښوونه کړې ده چې د صحابه وو سره مینه وساتئ او هغوی سره له دښمنۍ څخه ځانونه وژغورئ، ځکه چې د صحابه کرامو ډله د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره ډله او د هغوی سره مینه ساتل د پوره ایمان نښه ده. له هغوی سره مینه، محبت او د هغوی قدر او احترام د پیغمبرﷺ او پر هغه د نازل شوي شریعت سره مینه، محبت او د هغو قدر او احترام دی.

نو ځکه پیغمبرﷺ عام امت ته په خطاب کې د هغوی پام اوتوجه د صحابه کرامو لور ته را اړولې ده. پیغمبرﷺ فرمايلي دي:«لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِى فَوَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَوْ أَنْفَقَ أَحَدُكُمْ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلاَ نَصِيفَهُ »[1].

**ژباړه**: زما صحابه مه کنځئ.زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح دهغه په واک کې دی چې که چیرې ستاسې څخه یوکس د احد د غره په اندازه سره زر خیرات کړي نو د هغوی یو موټې خیرات ته نه رسیږي ، او نه یې نیم موټې خیرات ته رسیږي. په بل حدیث شریف کې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ وَمَنْ آذَى اللَّهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ»[2].

**ژباړه**: زما د صحابه وو په اړه له الله ووېرېږئ، له الله ووېرېږئ، زمانه وروسته هغوی د خپلو ناوړه ویناوو نښه مه ګرځوئ، که څوک له هغوی سره مینه او محبت لري نو زما د مینې او محبت له کبله یې ورسره لري او که څوک له هغوی سره کرکه، نفرت او دښمني لري نو له ماسره د کرکې، نفرت او دښمنۍ له کبله یې ورسره لري. او که څوک هغوی ته ضرر او تکلیف رسوي، نو یقینا چې ماته تکلیف او ضرر رسوي، او څوک چې ماته تکلیف او ضرر رسوي، نو یقیناً چې الله پاك ته تکلیف او ضرر رسوي. ( له ځانه یې

---

۱- سنن أبي داود

۲- الترمذي

خپه کوي) او څوک چې الله پاک ته تکليف او ضرر رسوي ( خپه کوي يې) نو نړدې ده چې الله پاک به يې راونيسي.

**فعاليت**

په پورتني حديث کې پيغمبرﷺ څو مهم ټکي ذکر کړي دي، د هغو په هکله يو يو په نوبت خبرې اترې وکړئ:

١. د صحابه کرامو په باره کې له الله ﷻ څخه وويرېږئ.

٢. صحابه کرام د خپلو ناوړه ويناوو نښه مه ګرځوئ.

٣. له اصحاب کرامو سره مينه کول په حقيقت کې د الله د رسول سره مينه ده.

٤. له صحابه وو سره دښمني په حقيقت کې له پيغمبر سره دښمني ده.

**٥. د صحابه وو سره بغض**

لکه څرنګه چې له صحابه وو سره مينه د ايمان نښه ده، همدا شان له صحابه وو سره بغض کول منافقت او سرکشي ده. امام طحاوي ليکلي دي: «وَبُغْضُهُم كُفْرٌ ونِفَاقٌ وطُغْيَانٌ». له صحابه وو سره بغض کفر دی، نفاق، سرکشي او بغاوت دی.

له صحابه وو سره بغض ځکه نفاق دی چې پيغمبرﷺ فرمايلي: «الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ»[1].

**ژباړه:** له انصارو سره مينه او محبت نه کوي مګر مؤمن او له دوی سره بغض او کينه نه کوي مګر منافق.

بل دا چې صحابه وو سره بغض ساتل ځکه منافقت دی چې دا کار د هغه وخت د منافقينو خصلت او عادت و چې د رسول اللهﷺ اصحاب به يې بد ګڼل.

١- صحيح البخاري

## پوښتنې:

١. اصحاب تعريف کړئ.

٢. د اصحابو د غوره والي په اړه دوه نقلي دلايل ذکر کړئ.

٣. له صحابه وو سره مينه کول څه حکم لري؟

٤. له صحابه وو سره بغض او کينه کول څه حکم لري؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د صحابه وو او هغوی سره د مينې په اړه يوه مقاله وليکي چې لـه لسـو کرښو کمه نه وي.